شهامت

هو! دنړۍ بام ته مو دفتحې قافله وخته ....

کابل کې دعلماوو په نامه دغونډې په اړه غبرگون او فتوا

پخش لست مرگ، نشترجدید برزخمهای ملت مظلوم ورنج دیده ام

اووم کال دریمه ،پرلپسې یوځلویشتمه گڼه،ذي قعدة الحرام۱۴۳۴هق، ستمبر۲۰۱۲م

دقربانی احکام اومسائل

علم النغمات !یادعظیم الشان قرآن دلهجوفن !!

دکندوز ولایت له جهادي مسؤل سره مرکه

ایا نړۍ دد ریم نړیوال جنگ په لور درومي ؟

شهامت

علمي، کلتوري او اسلامي مجله

اووم کال دریمه ګڼه، پرلپسې 41، شوال المکرم –ذی قعدة الحرام 1434هق، ستمبر 2013م

دامتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کميسيون

مسؤل مدير :

ابو ظهير

کتنپلاوی :

شاهد "حقاني" لطيف عزم
حسن "علوي" بلال "وحيد"
نعيم "صافی" عابد مجاهد
قاري حبيب

بيـه :

يوه ګڼه 20 افغانۍ او 30
کلدارې په پاکستان کې

تخنيکي مسؤل :

زرملوال او حقمل

يادونه

شهامت له سرمقالې پرته دنورو ليکنو
مسؤليت په غاړه نه اخلي

لړليک

ګڼه	عنوان	مخ
1	سرليکنه	1
2	پخش لست مرګ . نشترجد يدی برزخمهای ملت مظلوم..	3
3	داسلام اساسات ....حج	5
4	په کابل کې دعلماوو په نامه دغونډې په اړه	20
5	آيا نړۍ ددريم نړيوال جنګ په لور درومي ؟	26
6	دپنجشيرله غازي سره مرکه	29
7	دفقهي تاريخ	34
8	دسياف ننن اوپرون	38
9	دميزان شپږمه يادافغان ولس دفتحې ورځ	39
10	ګلورينې پاڼې	44
11	انتخابات يا افتضاحات	46
12	قاضی شُريح دعدل اوانصاف دنګ منار	48
13	دکندز له جهادی مسؤل بناغلي مخلص صيب سره مرکه ...	53
14	محبت با رسول الله ﷺ	57
15	علم النغمات يادعظيم الشان قرآن دلهجو فن	60
16	داسلامي حجاب سره دلويديځ دښمني او	66
17	اسلامي هيوادو کې داسلاميت اومغربيت ترمنځ کشمکش.	70
18	دمجلې ژورنالزم	74
19	دتعليم اوتربيې په اړه يوه پوښتنه او ځواب يې	78
20	سلمان رشدی وغريزه شرم آور	81
21	دقربانۍ احکام	82

ادرس : کابل کارته پروان عقب سينمای بهارستان برېښناليک : Sham.shahamat@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

هو! د نړۍ بام ته مودفتحې قافله وخته ....

دقادرڅښتن په کامل نصرت په ټول هېواد کې په صلیبي دښمن او دهغه په لاسپوڅو دژوندانه کړۍ تنګه شوي ،دځاني او مالي تلفاتو سلنه يې تر ډارونکي بريده رسيدلي ،ښکارې چې سږ کال به که خدای کول دافغان قهرمان ولس دا تلوليو تاريخ په نويو شاندارو فتوحاتو او برياوو شاهد وي !!ولې دروانو کاميابو ،دقيقو او هدفمنو عملياتو پراخ بهير لويشت لويشت خاوره په صليبي اشغالګرو اودهغوئ په ګوډاګيانو سورتنور کړې اوګام په ګام شديدو او پريکنده ګوذارونو کلابند کړي.

دسورغر،سپين غر،هندوکش اودپامير پرهسکو دجهاد او مقاومت ملکوتي زوږ دصليبي شيطان دپيروانو غوږونه کاڼه او زړونه يې چولي دادی په ډېره ستومانه او ترهيدلي روحيه دخپلې کرغيړنې دفاع لپاره ناکامه وسلي اوحربي کاروي !

دخبري سرچينو په وينا:په وروستيو کې داسلامي امارت مجاهدينو دهېواد د شمال ختيځ ولايت بدخشان(کران اومنجان) ولسوالۍ په بشپړه توګه دکابل ګوډاګي رژيم له سلطي څخه ازاده اوپکې شاوخوايې ديرش امريکا پلوي عسکرژوندي نيولي.

دسياسي چاروکتونکو په اند: دبدخشان په څېر مهم او ستراتيژک ولايت کې دبرياوو اوفتوحاتو دغه نيکمرغه پيل په دې سربيره چې دمجاهدينو لپاره له سياسي اوپوځي پلوه لوی ارزښت لري !دکابل امريکا يي دولت اوټولو متجاوزوځواکونو ته د شرمونکي اومرګوني پيغام په معنی هم دی !!ولې ښکاره ده بدخشان يوآځينۍ هغه ولايت دی چې دامارت واکمنۍ په مهال نه و نيول شوی، داسي بريښي چې د دغه

ولایت پتمن ولس اومجاهدي پرګني نور دبهرنیو یرغلګرو ځواکونو له وحشتونو ، ظلمونو ، ناامنیو اداري فسادونو ،فحشا وو اونورو بد مرغیو څخه تر دوه پوزو راغلي او هرومروغواړي چې د هغوئ له خونړیو مونګلو ځان ته نجات ورکړي.

دکارپوهانو په نظر: بدخشان کې دانوی حیرانوونکی پوځي پرمختګ به په ټول شمال زون اغیز پریباسي ،ورسره په ګاونډیوولایتونو تخار او کندوز کې به هم ګنې سیمي اوولسوالۍ مجاهدینو ته په لاس ورشي !

همدا راز جوته شوه چې دافغانستان ټول مسلمان قومونه اوتوکمونه له هرډول ژبنیو ،قومي اوسمتي تبعیضونو څخه لري دي او دخپل ګران هېواد د علیا مصالحواو اواقدارو دفاع ته په ګډه ژمنتیالري ، هر قشر او هر فرد ته یې استقلال او ازادي له ځان،اولاداوشتمنیو هم ګرانه ده.

امریکایي تثلیث پرستان باید له زړو ومني چې ددوئ دنفاق اوشقاق اچولو ټولې دسیسي خنثااو ناکامه شوي ، افغانان څنګ چې پرون ګډ ده یرغلګر ځواک دتیری په مقابل کې جنګیدل ، نن یو واربیا په هم هغه ملي روحیه اود اسلامي وحدت په جذبه سرشار او په نه ماتیدونکي پولادي عزم ددوئ په وړاندې یو ځواک اویو موټی دي !!!

راځو دیته !چې سرن بریالي عملیات او هیښوونکي سوبې له ځان سره داځرګند پیغام بدرګه کوي چې امریکا اویرغلګردي نور خپلو کرغیړنوهیلو ، جارحانه عزایمو اوشوموارادوته دپای ټکي کېږدي. دازادو ملیتونو ا په کورنیو چارو کې له مغرضانه لاسوهنو دې ډډه وکړي ! اوژرترژره دې خپله له جعل کاریو اوتزویرونو جوړه شوي شیطاني ستراتیژي لغوه اعلان کړي !!

کنه هغه وخت او شېبې رالنډې شوي چې لکه دویت نام پشان دخپلو شیطاني پالیسوبدعواقب اونه هیریدونکي تراخه دلته هم وڅکي ،په کامل باور !افغان ولس په قاطع عزم د خپل هېواد دازادۍ او استقلال دبیرته لاسته راوړوقطعي پریکړه کړي !!!او په هره بیه چې وي خپله ازادي غواړي !!هیڅکله هم پردیو ته غلامي او سرتیټي نه زغمي !او دنړۍ هیڅ زبرځواک اوښکېلاک نشي کولی چې ددې میړنې قام ددې پولادي هوډ په وړاندې شګلن بندونه واچوي ، تاریخ په دې شاهددی چې وړاندې هم افغانانو ددوئ(امریکایانو)پشان څو مغروري اوکبرجني امپراطورۍ ړنګي او دزوال کندي ته غورځولي ! دې لړ کې تازه دنړۍ بام)پامیر) ته دمجاهدوقافلو فاتحانه تلل اوختل به هم که خدای کول ددوئ دبشپړ زوال اودګران هېواددستري اوشانداري فتحې لوی ارمغان راوړي.... هو !

بیا دپامیر له سره پورته ګردله وخته
دنړۍ بام ته مو دفتحې قافله وخته

پخش لست مرگ

، نشتر جدید بر زخمهای ملت مظلوم ورنج دیده ام

الیاس عاصم

راپورها ، معلومات ولست های که اخیرا از طرف منابع خبری نشر شد ، شهادت دسته جمعی پنج هزار افغان مسلمان را به دستهای منحوس کمونسیت های ضد اسلام وکشوریقینی و تاید نمود ، این حادثه کدام رویداد عادی نه بوده بلکی زخم های سی وچند ساله را باری دیگر نشتر زد و ناله ، پنج هزار خانواده و وابستگان آنهارا به یاد شهداء گم نام آنها بلند نمود ، زمانی که من لست مرگ را مرور می میکردم ، طوری احساس می نمودم که گویا جنازه هرکدام زیر چشمم خطور می کند و هر نام قلبم را تکان میداد، مرگ در حقیقت ، برای مسلمان تحفه خداوند لایزال است که از زندگی ناساز ، ناکام و اندوهگین مسلمان را

به سعادت ، خوشبختی و به بارگاه محبوب اش می رساند ، نتیجه ونهایت مرگ ، برای مسلمان آنقدر زیبا است که بخاطرش صدبار باید تلخی جان کندن را تحمل کرد ، ولی مرگ تامرگ تفاوت دارد ، کسانی که به جرم مسلمان بودنش سزاوار قتل بی رحمانه کمونستهای سفاک شدند زخمهای فراوانی را در قلب باز ماندگان ، پدر ومادر ، خانم وپسر ، دوست وبرادر برجا گذاشتند ، همه دوستان و خانوادگان شهداء تصور خواهد نمودند که وابسته گان شان به کدام بی رحمی و نا امیدی ها جان شان را سپرده خواهد باشند ؟ چقدر تصورات ، آرمان ها و امیدهای ناتمام شان را

در حین انتظار شهادت حتمی ایشان زیر چشم گذشتانده خواهد بودند ؟ چه سان هر فرد خانواده را به نا امیدی کامل به یاد آورده خواهد بودند ؟ چه نیازها در آخر عمر داشتند؟ آیا شکم شان سیربود ؟ آیا ضرورت به آب داشتند ویا خیر ، چه ناگفتنیهارا با خود عازم آخرت کردند ، چقدر با یأس و نا امیدی دوچار شدند ؟ چه تصور ی درمورد بی گناهی شان می کردند ، الهی خودت به حال آنها ترحم کامل نما ، باز ماندگان چشم به راه آنها را که اکنون به دیدن نامهای گم شده گان خود ، آنها را درلست مرگ یافتند واز دیدن آنها ناامید شدند نعم البدل وصبر جمیل عطا فرما ، الهی ظالمان قاسئ القلب را در هرجای که قرار دارند به جزا اعمال شیطانی ایشان برسان ! الهی به قدرت و بزرگی ات انتقام این مظلومان را خودت از ظالمان بگیر وبه سزای سنگین دنیوی و اخروی دوچار شان نما!

عرض به ملت آشک بردیده !

ملتی درد دیده و مظلوم ام ! چون اکنون باری دیگر زخمهایت تازه شد ، به یاد شهداء گم شده ات افتادی ! نام برادران ، اقارب و دوستانت را در لست مرگ سراغ یافتی ! خیراست ، این همه قربانی ها و تحمل زجر بخاطر یک هدف بود ، بخاطر یک ذات و یک دین بود ، بخاطر یک محبوب بود که بارها باید بخاطرش اندوه ها ، زخم ها و ناله ء ها را تحمل کرد ، ولی یک خواهش دیگر نیز دارم ، بیا دیگر تصمیم قوی بگیر که من بعدبه قاتلین ملتت باری دوم در سرنوشت سازی کشورت اجازه نه ده !! اجازه مده که بقایایی رژیم بیگانه پرست و مرتد کمونستی هنوز هم در قضایای علیای کشورداری ات سهم گیرند و چهره های منحوس خود را به تغیر نامها ویا تغیر جهت ها کتمان سازند ، هنوز هم داد از مردم داری و سرنوشت سازی کشورت زنند ، این مجرمین تاریخ و عار پیشانی ات را دیگر اجازه نه ده که در رسانه ها ، تجمعات و نشست ها هنوز هم تصمم گیر ملت و دولت داری باشند، هنوز هم نسخه های بیشرفت وعقب رفت را به خوانش گیرند ، آن بقایای مزدور که یک بار به تمام ملت ، انسانیت و ارزشهای افغانی ات امتحان دادند ، ناکام و روی سیاه شدند ، با ارتکاب چنین جنایات نابخشودنی اکنون نیز داد ازحقوق بشر ، ساختار نظام ، وچه گونگی سرنوشت ملتت می زنند ، این سفاکان باید با محکمه ملت روبرو شوند، هرفرد آنها مجرم شناخته شده و در جنایات مردم کشی و کشور فروشی سهیم دانسته شوند ، این که هنوز هم این افراد نامطلوب حق زندگی کردند درکشورت را دارند این را باید احسان برزگ مردم خود شمارند وهمچو برده گان سر آفتاده امرار زندگی شرم آور نمایند، اگر این جنایت پیشه گان هنوز هم سعی دارند که در امور سیاسی و اجتماعی کشور، باری دیگر هم باید خیل باشند ، درمقابل آنها اقدام جدی صورت گیرد ، ملت مظلوم ، ورثهء شهداء گم نام ، افغانهای اصیل و وارثین راستین این سر زمین باید در برابر هر اقدام و تحرک کمونستها و بقایای جنایت پیشه نظام بدنام آنها ایستاده شوند تا سرحد مرگ آنها را زیر تهدید وفشار نگهدارند ، تا این عار ملت وکتله فاسد جامعه مامثل برده های سرخم و مزدوران کفرخواه ، با سر افگندگی مایه عبرت آینده گان ما گردند.

به امید چنین روز

داسلام اساسات

حج

مفتي شاهد ''حقاني''

مشهور محقق اودحنفي مذهب خور انوموتی عالم (علامه زين ابن نجيم) رح دکنزالدقايق په ځېرېزه شرح(البحرالرايق)لومړي جلدکې داسې کاږي چې :(اعلم ان مدار الدين متعلق بالاعتقادات والعبادات والمعاملات والمزاجر والآداب......)دحنفي فقه ددې علامه دڅېړنې په بنسټ داسلامي دين ګردې چارې پدې پنځوبنسټونو راڅرخي ،چې هغه عقايد ،عبادات معاملات ،عقوبات ياحدود او آداب دي ،زين ابن نجيم رح ددې اجمال دتفصيل پر وخت کاږي چې :اعتقادات پنځه دي (په الله ﷻ ايمان ،په ملايکو ،په کتابونو ،په رسولانو اودقيامت په ورځ باندې ايمان راوړل دي ،عبادات هم پنځه ډوله دي: لمونځ ،زکات ،روژه حج او جهاد ،معاملات هم پنځه قسمه دي: مالي معاوضات ، مناکحات ،مخاصمات ،امانات او ترکات ، مزاجر يا سزاګانې هم په پنځه ډوله دي:يوه مزجره دقتل نفس ، مزجره دمال اخستلو ،مزجره دهتک الستر،مزجره د هتک العرض اومزجره دقطع البيضه،اوآداب بيا په څلور قسمه دي: اخلاق ،شيم حسنه ،سياسات او معاشرات...) که دالله نصرت راسره مل وو ،نو ګام په ګام به ددين ددې پورته ذکرشويو شعبو څخه دخپلې وسې سره سم هغه مباحث د(شهامت) په وزينې مجلې کې پرله پسې تر تحقيق او څېړنې لاندې نيسو ،چې نن سبا يې اړتيا ډېره اومزيدې سپړنې ته اړوي ،دا بيا داسې خورا ارزښتمن فصلونه دي ،چې دانساني ژوند له ټولو اړخونو سره اړيکه لري، بلکې په ټوليزه توګه به وواېو چې دانسان نيکمرغه معيشت په همدې شمېرل شويو اساساتو ولاړ دی ،چې ديوه الهي دين په صفت اسلامي شريعت دې ټولو مواردو کې ځانګړې لارښوونې اواصول لري او په عملي کولو سره يې مسلمان مکلف وي.

داچې دحج ورځې شپې دي ،او دحجازو يثرب له قافلو سره دالله ﷻ دکعبې ډېرې ميينان اودرسول الله ﷺ دزيارت عاشقان په تلو دي ، نو دبلاغت فی البحث غوښتنه همداوه ،چې پر نورو ارکانو دعباداتو او په عباداتو کې دحج په ځينو مهمو مسايلو بحثونو ته لومړيتوب ورکړل شي.

دتحقيقي مباحثو په دې لړکې به انشاءالله تعالى کوشش کوو ،چې داړونده فصلونو څخه هغه مسايل تر څېړنې لاندې ونيسو ،چې هغه شننې ته نن سبا ډېر ضرورت لري او په

ورځني ژوندكې ورته دخلكو اړتيا ډيره وي ،دلته چې تحقيق كوو ،نودنورو ځلورګونو مذاهبواقوال به هم له استدلالاتوسره مله راوړواوتشريح به يكې كوو انشاءالله تعالى !

ددې ګڼې څيړنه كې به داعنوانونه تر بحث لاندې ونيسو:

حج څه ته وايي ؟،

حج كوم فضيلت لري ؟،

دحج دفرضيت دلايل ،

دحج تاكلې مياشتې :

دحج اداكول على الفور (دملګرې) فرض دي كه على سبيل التراخي ؟

آيا پرماشوم حج شته ؟

آيايوڅوک دبل چاپه عوض هم فرضي يانفلي حج كولای شي ؟

دعربي ژبې پوهانو دتحقيق له مخې د(حج)په (حاء)توري فتحه اوكسره دواړه باک نلري ،خو په دومره توپيرچې فتحه يې مشهوره او كسره يې نامشهوره ده ،كله چې (حج)په فتحې د(حاء) سره ومنو ،نوبيا يې معنى محض قصد يا اراده ده، ځينې محققين ژبپوهان بيا وايي ،چې په فتحې دحاء سره (حج)ديوه خورا لوى او سپيڅلي ځاى ارادې ته ويل كيږي ،خومشهوره معنى يې لومړنۍ ده ،او(تاج العروس فى المادة)كې يې پر (حا ء)دكسرې لغت هم رانقل كړى ،چې هلته بيااسم يا دحج دنوم په معنى دى اوكه دكسرې په صورت كې ورسره مدوره (تاء) هم راشي ،نو يو كرت حج كولوته وايي ،لكه پدې عبارت كې چې (الحَجُّ بِفَتْحِ الحَاءِ وَيَجُوزُ كَسْرُهَا ، هُوَ لُغَةً القَصْدُ ، حَجَّ إِلَيْنَا فُلاَنٌ: أَيْ قَدِمَ ، وَحَجَّهُ يَحُجُّهُ حَجًّا : قَصَدَهُ. وَرَجُلٌ مَحْجُوجٌ ، أَيْ مَقْصُودٌ. هَذَا هُوَ المَشْهُورُ .

وَقَالَ جَمَاعَةٌ مِنْ أَهْلِ اللُّغَةِ: الحَجُّ: القَصْدُ لِمُعَظَّمٍ .

وَالحِجُّ بِالكَسْرِ: الاسْمُ. وَالحِجَّةُ: المَرَّةُ الوَاحِدَةُ ، وَهُوَ مِنَ الشَّوَاذِّ ، لأَنَّ القِيَاسَ بِالفَتْحِ (1)

خو دشريعت په اصطلاح كې حج يوه ځانګړي ځاى ته (كعبه شريفه اوعرفات)په خاص وخت كې (دحج مياشتوكې)دځانګړيو اعمالو دترسره كولو لپاره (چې هغه طواف ،وقوف او سعي ده)په مخصوصو شرايطو سره اراده كول دي ،لكه چې همدا مفهوم دفتح القديراو نوروفقهي كتابونو داسي افاده شوي:

تَعْرِيفُ الحَجِّ اصْطِلاَحًا : الحَجُّ فِي اصْطِلاَحِ الشَّرْعِ: هُوَ قَصْدُ مَوْضِعٍ مَخْصُوصٍ (وَهُوَ البَيْتُ الحَرَامُ وَعَرَفَةُ) فِي وَقْتٍ مَخْصُوصٍ (وَهُوَ أَشْهُرُ الحَجِّ) لِلقِيَامِ بِأَعْمَالٍ مَخْصُوصَةٍ وَهِيَ الوُقُوفُ بِعَرَفَةَ ، وَالطَّوَافُ ، وَالسَّعْيُ عِنْدَ جُمْهُورِ العُلَمَاءِ ، بِشَرَائِطَ مَخْصُوصَةٍ يَأْتِي بَيَانُهَا كما فى..... بتصرف يسير عن فتح القدير للكمال بن الهمام وزيادة السعي 2 / 120 ، الاختيار 1 / 139 ، والشرح الكبير للدردير على مختصر خليل 2 / 2 ، ومغني المحتاج 1 / 459 ، وشرح منتهى الإرادات 1 / 472 ، والتعريفات ص 82)

دحج فضيلت

قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: { وَأَذِّنْ فِي النَّاسِ بِالحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالًا وَعَلَى كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِينَ مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ لِيَشْهَدُوا مَنَافِعَ لَهُمْ وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ فِي أَيَّامٍ مَعْلُومَاتٍ عَلَى مَا رَزَقَهُمْ مِنْ بَهِيمَةِ الأَنْعَامِ... فكلوا منهاوأ طعموا البائس الفقير} (سورة الحج / 27ـ28) .

ترجمه:اوغږوكړه (اى ابراهيمه)په خلكوكې دحج (داداكولو)لپاره ،چې راشي (حاجيان) تاته پلي اوسپاره، په هر ډنګر اوښ چې راځي (دا اوښان) له هرې ليرې لارې (ژورې لرې) څخه لپاره ددې چې حاضرشي (دغه خلک ځاى ددنيوي اواخروي)ګټوخپلوته ،اوچې ياد كړي نوم دالله په هغو څوورځو(دلوى اختر)كښې چې معلومې دي په (ذبح د)هرحيوان چې وركړى دى الله ﷻ دوئ ته له بې ژبوچارپايانوڅخه ،پس خورئ تاسوله هغې (غوښې)څخه اوخوروئ يې په بدحاله فقير. .

وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " مَنْ حَجَّ لِلَّهِ فَلَمْ يَرْفُثْ وَلَمْ يَفْسُقْ رَجَعَ كَيَوْمِ

وَلَدَتْهُ أُمُّهُ . " أخرجه البخاري (الفتح 3 / 382 ـ ط السلفية) ، ومسلم (2 / 983 ، 984 ـ ط الحلب) ژباړه: حضرت ابوهريره ﷺ روايت کوي چې رسول الله ﷺ فرمايي: چې چا د الله ﷻ لپاره حج وکړ(له حج نه پس يې)نه بدکاروکړاونه فسق، دابه له حج نه بيرته (يعني له ګناهونو نه به داسې پاک وي) کورته راستون شي ، لکه په کومه ورځ چې مور پيږولی وي.

وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَا مِنْ يَوْمٍ أَكْثَرُ أَنْ يُعْتِقَ اللهُ فِيهِ عَبْدًا مِنَ النَّارِ مِنْ يَوْمِ عَرَفَةَ ، وَإِنَّهُ لَيَدْنُو ثُمَّ يُبَاهِي بِهِمُ الْمَلَائِكَةَ... " أخرجه مسلم (3 / 983 ـ ط الحلبي ((3) وَمَعْنَى يَدْنُو : يَتَجَلَّى عَلَيْهِمْ بِرَحْمَتِهِ وَإِكْرَامِهِ . ژباړه: عايشه رضی الله تعالی عنها وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل داسې کومه ورځ نشته چې زياته وي ددې نه چې الله تعالی پکې خپل بندګان له اوره ازاد کړي دعرفې دورځې څخه ، اودا الله ﷻ را نږدې کيږي (دخپل رحمت او اکرام تجلی کوي پدوئ)بيا په دوئ باندې دملايکو مخکې فخر کوي.....

وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: < تَابِعُوا بَيْنَ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ فَإِنَّهُمَا يَنْفِيَانِ الْفَقْرَ وَالذُّنُوبَ كَمَا يَنْفِي الْكِيرُ خَبَثَ الْحَدِيدِ وَالذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ ، وَلَيْسَ لِلْحَجَّةِ الْمَبْرُورَةِ ثَوَابٌ إِلَّا الْجَنَّةُ "(1 . (" أخرجه الترمذي (3 / 166 ـ ط الحلبي) وقال: " حديث حسن صحيح. " ژباړه: عبدالله بن مسعود ﷺ فرمايي چې متابعت دحج اوعمرې تر منځ وکړئ ، ځکه دادواړه فقراو ګناهونه داسې له منځه وړي لکه دآهنګر دبټۍ اورچې داوسپنې ، سرو اوسپينو زروخيرې او زنګ پاکوي ، اودحج مقبول بدله نشته مګر جنت دی.

وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " الْحُجَّاجُ وَالْعُمَّارُ وَفْدُ اللهِ ، إِنْ دَعَوْهُ أَجَابَهُمْ وَإِنِ اسْتَغْفَرُوهُ غَفَرَ لَهُمْ . (" أخرجه ابن ماجه (2 / 966 ـ ط الحلبي) ، وقال البوصيري: " في إسناده صالح بن عبد الله ، قال البخاري فيه: منكر الحديث " . ولكن له شاهد من حديث ابن عمر ، أخرجه ابن ماجه تلو حديث أبي هريرة ، يتقوى به

ژباړه: ابوهريره ﷺ فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل چې حاجيان او عمره کوونکي دالله وفد (وفدونه) دي که دعا ورته وکړي قبولوي يې ، او که بخښنه تري وغواړي نو بخښش ورته کوي.

>وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ، قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ: نَرَى الْجِهَادَ أَفْضَلَ الْعَمَلِ أَفَلَا نُجَاهِدُ ؟ قَالَ: لَا ، لَكِنَّ أَفْضَلَ الْجِهَادِ حَجٌّ مَبْرُورٌ " أخرجه البخاري (الفتح 3 / 381 ـ ط السلفية) ، والنسائي (5 / 114 ـ ط المكتبة التجارية

ژباړه: حضرت عايشه فرمايي چې ما وويل چې يا رسول الله: مونږه جهاد تر ټولو غوره عمل وينو آيا مونږه جهاد ونکړو؟ هغه ﷺ وفرمايل چې نه ، لکن غوره جهاد مقبول حج دی

وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ < رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ: أَيُّ الْأَعْمَالِ أَفْضَلُ ؟ فَقَالَ: إِيمَانٌ بِاللهِ وَرَسُولِهِ ، قِيلَ ثُمَّ مَاذَا ؟ قَالَ: جِهَادٌ فِي سَبِيلِ اللهِ ، قِيلَ: ثُمَّ مَاذَا ؟ قَالَ: حَجٌّ مَبْرُورٌ " أخرجه البخاري (الفتح 3 / 381 ـ ط السلفية) ، ومسلم (1 / 88 ـ ط الحلبي) ژباړه: ابوهريره ﷺ فرمايي چې له رسول الله ﷺ نه پوښتنه وشوه چې کوم عملونه غوره دي ؟نو ده ﷺ ورته وفرمايل چې په الله ﷻ او دهغه په رسول ايمان راوړل ، بيا چاوويل چې نو بيا کوم يو ؟نو ده ﷺ ورته وفرمايل چې د الله ﷻ په لاره کې جهاد کول ، بيا چاوويل چې بيا کوم يو ؟نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل چې مقبول حج. ﷺ

دحج دفرضيت دلايل :

حج د اسلام له ارکانو څخه پنځم رکن دی او په هر مکلف چې((زاد اوراحله)) يعني دتللو راتللو دبسنې پوره وسايل او استطاعت ولري ، په ټول عمر کې صرف يو ځل فرض عين دی ، ددې فرضيت په دري ګونو شرعي دلايلو(کتاب الله ، سنت الرسول او اجماع) ثابت دی (الْحُكْمُ التَّكْلِيفِيُّ لِلْحَجِّ :

-الْحَجُّ فَرْضُ عَيْنٍ عَلَى كُلِّ مُكَلَّفٍ مُسْتَطِيعٍ فِي الْعُمُرِ مَرَّةً ، وَهُوَ رُكْنٌ مِنْ أَرْكَانِ الْإِسْلَامِ ، ثَبَتَتْ فَرْضِيَّتُهُ بِالْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ وَالْإِجْمَاعِ).

دحج دفرضيت قرآني نص: { وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ } سورة آل عمران / 97 . ژباړه: اودالله ﷻ لپاره په هغه خلکودبيت الله شريف قصداواراده لازم ده، چې دلاري وسه لري ،اوچا چې کفر وکړ، پس يقيناچې الله ﷻ له مخلوقاتو نه غني او بې پروادی.دې آيت کې په صراحت سره دحج فرضيت جوت دی ،چې داستدلال وجه يې داسې ده چې:دلته آيت کې د(ولله على الناس ...)راغلی اودا دالزام او ايجاب صيغه ده اوهمدې سره يې فرضيت راغی ،په (لله)کې دا لام دالزام لپاره دی ،بلکې مونږه ګوروچې دحج فرضيت باندې ډيراشد تاکيد شوی اوداځکه چې په مقابل کې يې د(ومن کفر ...)راغلی ،چې دلته دفرضيت مقابل کې کفرراغلی ،نو دسياق نه داسې برداشت کولای شو ،چې دمسلمان دشان څخه داده ،چې حج به نه پرېږدي اودحج پرېښودل دنا مسلمانه کيدوشونتيا لري.

لکه په (الموسوعة الفقيه)کې داسې عبارت دی چې: .

فَهٰذِهِ الْآيَةُ نَصٌّ فِي إِثْبَاتِ الْفَرْضِيَّةِ ، حَيْثُ عَبَّرَ الْقُرْآنُ بِصِيغَةِ { وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ } وَهِيَ صِيغَةُ إِلْزَامٍ وَإِيجَابٍ ، وَذٰلِكَ دَلِيلُ الْفَرْضِيَّةِ ، بَلْ إِنَّنَا نَجِدُ الْقُرْآنَ يُؤَكِّدُ تِلْكَ الْفَرْضِيَّةَ تَأْكِيدًا قَوِيًّا فِي قَوْلِهِ تَعَالَى: { وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ } فَإِنَّهُ جَعَلَ مُقَابِلَ الْفَرْضِ الْكُفْرَ ، فَأَشْعَرَ بِهٰذَا السِّيَاقِ أَنَّ تَرْكَ الْحَجِّ لَيْسَ مِنْ شَأْنِ الْمُسْلِمِ ، وَإِنَّمَا هُوَ شَأْنُ غَيْرِ الْمُسْلِمِ .

دسنت دليل: جامع صحيح البخاري اوصحيح مسلم کې درسول الله ﷺ څخه د ابن عمر رضي الله عنه په سند متفق عليه روايت راغلی چې فرمايي : - "بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ: شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ ، وَإِقَامِ الصَّلَاةِ ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ ، وَصِيَامِ رَمَضَانَ ، وَالْحَجِّ " (" أخرجه البخاري (الفتح 1 / 49 ـ ط السلفية) ، ومسلم (1 / 451 ـ ط الحلبي)ژباړه :رسول الله ﷺ فرمايي چې اسلام په پنځواساساتو ولاړ دی :يدې خبره شهادت ورکول چې الله ﷻ يو دی اودعبادت وړ لده نه پرته بل څوک نشته ،اوبل دلمانځه اقامه کول ،دزکات ورکول ،درمضان روژه نيول او حج.

دې حديث شريف کې تعبير په (بني الاسلام...) سره وشو ،داپدې دلالت کوي ،چې حج داسلام له ارکانونه يو رکن دی او خورا مهم فرض دی (وَقَدْ عَبَّرَ بِقَوْلِهِ: "بُنِيَ الْإِسْلَامُ... > فَدَلَّ عَلَى أَنَّ الْحَجَّ رُكْنٌ مِنْ أَرْكَانِ الْإِسْلَامِ).

په يوه بل روايت کې چې مسلم شريف له ابي هريره رضي الله عنه څخه روايت کړی داسې راغلي: وَأَخْرَجَ مُسْلِمٌ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: < خَطَبَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ فَرَضَ اللّٰهُ عَلَيْكُمُ الْحَجَّ فَحُجُّوا فَقَالَ رَجُلٌ: أَكُلَّ عَامٍ يَا رَسُولَ اللّٰهِ ؟ فَسَكَتَ حَتَّى قَالَهَا ثَلَاثًا ، فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ قُلْتُ نَعَمْ لَوَجَبَتْ وَلَمَا اسْتَطَعْتُمْ... >(أخرجه مسلم (2 / 975ـ ط الحلبي).

ژباړه حضرت ابوهريره رضي الله عنه فرمايي چې مونږته رسول ﷺ خطبه راکوله ،نو ويې فرمايل چې اى خلکو ! الله ﷻ پرتاسو حج فرض کړی ،نو حج وکړئ انو يوه سړي ورته وويل يارسول الله ﷺ آياهرکال؟نورسول الله ﷺ چوپ شواوځواب يې ورنکړ،تردې چې درې کرته يې ورته وويل ،نو رسول الله ﷺ ورته وويل چې که ما هو ، ويلی وي، نو بيا به درباندې هرکال واجب شوی وی ،پداسې حال کې چې ستاسو وسه به نه وه. (المنذري)په (الترغيب والترهيب)کې ليکلي چې دحج دفرضيت په باب ښه ډيراحاديث شته، تردې چې دتواتر اندازې ته هم رسيدلي اوقطعي علم او يقين افاده کوي (وَقَدْ وَرَدَتِ الْأَحَادِيثُ فِي ذٰلِكَ كَثِيرَةً جِدًّا حَتَّى بَلَغَتْ مَبْلَغَ التَّوَاتُرِ الَّذِي يُفِيدُ الْيَقِينَ وَالْعِلْمَ الْقَطْعِيَّ الْيَقِينِيَّ الْجَازِمَ بِثُبُوتِ هٰذِهِ الْفَرِيضَةِ)(انظر الترغيب والترهيب للمنذري 2 / 211ـ 212 ، والمسلک المتقسط ص 20).

داجماع دليل: په ټول عمر کې يوکرت په مستطيع مسلمان باندې دحج په فرضيت دامت اجماع منعقد ده،اودا مسئله له هغو څخه ده ،چې له دين څخه معلومه ده او منکرترې کافر دی لکه (المغني 3 / 217 ، ونهاية المحتاج 2 / 369 ، ولباب المناسک ص 16 ـ 17 ، مع شرحه المسلک المتقسط في المنسک المتوسط لعلي القاري ، شرح رسالة ابن أبي زيد القيرواني ص 455.) غونډې مشهورو کتابونوکې داعبارت داسې راغلی دی: وَأَمَّا الْإِجْمَاعُ: فَقَدْ

أَجْمَعَتْ الأُمَّةُ عَلَى وُجُوبِ الحَجِّ فِي العُمُرِ مَرَّةً عَلَى المُسْتَطِيعِ ، وَهُوَ مِنَ الأُمُورِ المَعْلُومَةِ مِنَ الدِّينِ بِالضَّرُورَةِ يَكْفُرُ جَاحِدُهُ)

دحج ټاکلې میاشتې :

عبدالله بن عمر ﷺ جمهور صحابه کرام ﷺ او تابعین رح پـدې نظـر دي ،چـې دحـج داداکولو لپـاره درې معلـومې میاشتې ټاکل شوي دي (شوال، ذي قعده او دذي الحجې لس ورځې) لکه ددې لاندینې آیت په تفسیرکې چې راغلي:

ذَكَرَ اللهُ تَعَالَى لِلحَجِّ زَمَانًا لا يُؤدَّى فِي غَيْرِهِ ، فِي قَوْلِهِ تَعَالَى: {الحَجُّ أَشْهُرٌ مَعْلُومَاتٌ} (سورة البقرة / 197)

قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ وَجَمَاهِيرُ الصَّحَابَةِ وَالتَّابِعِينَ وَمَنْ بَعْدَهُمْ: هِيَ شَوَّالٌ وَذُو القِعْدَةِ وَعَشْرٌ مِنْ ذِي الحِجَّةِ (انظر تخريجه في المستدرك 2 / 176 ، وقال: "صحيح على شرطهما " ووافقه الذهبي ، وانظر تفسير الطبري 4 / 120ـ 121 ، وابن كثير 1 / 236 .).

وَوَقَعَ الخِلافُ فِي نَهَارِ يَوْمِ النَّحْرِ ، فَقَالَ الحَنَفِيَّةُ وَالحَنَابِلَةُ: هُوَ مِنْ أَشْهُرِ الحَجِّ. وَقَالَ الشَّافِعِيَّةُ: آخِرُ أَشْهُرِ الحَجِّ لَيْلَةُ النَّحْرِ ، وَلَيْسَ نَهَارُ يَوْمِ النَّحْرِ مِنْهَا .

لنډه ژباړه او مفهوم:الله ﷻ دحج دادا کولو لپاره داسې وخت ټاکلی، چې ددې څخه په غیر بل وخت کې نه ادا کیږي ، لکه چې فرمایي (دحج لپاره معلومې میاشتې دي)حضرت عبـد الله بـن عمـر ،جمهـور صـحابه ،تـابعین او ددې څخـه وروستني داوايي چې (دادشوال اوذي قعدې میاشتې او دذې الحجې دمیاشت لس ورځې دي)پدې کې اختلاف دی ،چې دلوی اختر ورځ هم دحج په میاشتو کې راځي که نه ؟احناف او حنابله وايي:چې هو راځي او شوافع وايي چې دلوی اختر شپه پکې راځي ،خو ورځ پکې نه راځي.

دحج ادا علی الفور (دمګړی)واجب ده که علی التراخي (په ځنډ)؟

.پدې باب ځلور ګونه مذاهبو کې اختلاف کتل کیږي ،هدايه ،فتح القدير ،هنديه فتاوی او نورو کتابونو کې دامام ابوحنیفه رح اصح قول داسې لیکل شوی چې علی الفور حج واجب دی ،یعني که څوک دتګ راتګ پیسې او وسایل ولري ،نو دمګړی پرې واجب دي او ځنډکول پکې ګناه ده، چې د امام صیب سره پدې نظرکې امام ابویوسف رح ،امام مالک رح په راجح قول کې دامام احمد بن حنبل رح په ګډون ملګري دي ،دوئ ټول پدې عقیده دي چې پرڅاحج واجب شو ،نو سمدستي دې يې ادا کړي او که ځنډ پکې وکړي ګناهکار دی ،داشو دجمهورو علماوو نظر ،خو بل طرف ته بیا امام محمد بن الشیباني رح اوامام شافعي رح پدې نظر دي ،چې دحج وجوب پرې علی التراخي دی ،یعني ځنډ کې پرې ګناه نشته ،دزیاتې تشریح لپاره لاندینی عبارت ښه وضاحت لري:

وُجُوبُ الحَجِّ عَلَى الفَوْرِ أَوِ التَّرَاخِي :

اخْتَلَفُوا فِي وُجُوبِ الحَجِّ عِنْدَ تَحَقُّقِ الشُّرُوطِ هَلْ هُوَ عَلَى الفَوْرِ أَوْ عَلَى التَّرَاخِي ؟. ذَهَبَ أَبُو حَنِيفَةَ فِي أَصَحِّ الرِّوَايَتَيْنِ عَنْهُ وَأَبُو يُوسُفَ وَمَالِكٌ فِي الرَّاجِحِ عَنْهُ وَأَحْمَدُ (1) إِلَى أَنَّهُ يَجِبُ عَلَى الفَوْرِ ، فَمَنْ تَحَقَّقَ فَرْضُ الحَجِّ عَلَيْهِ فِي عَامٍ فَأَخَّرَهُ يَكُونُ آثِمًا ، وَإِذَا أَدَّاهُ بَعْدَ ذَلِكَ كَانَ أَدَاءً لا قَضَاءً ، وَارْتَفَعَ الإِثْمُ .

وَذَهَبَ الشَّافِعِيُّ وَالإِمَامُ مُحَمَّدُ بْنُ الحَسَنِ إِلَى أَنَّهُ يَجِبُ عَلَى التَّرَاخِي ، فَلا يَأْثَمُ المُسْتَطِيعُ بِتَأْخِيرِهِ وَالتَّأْخِيرُ إِنَّمَا يَجُوزُ بِشَرْطِ العَزْمِ عَلَى الفِعْلِ فِي المُسْتَقْبَلِ ، فَلَوْ خَشِيَ العَجْزَ أَوْ خَشِيَ هَلاكَ مَالِهِ حَرُمَ التَّأْخِيرُ ، أَمَّا التَّعْجِيلُ بِالحَجِّ لِمَنْ وَجَبَ عَلَيْهِ فَهُوَ سُنَّةٌ عِنْدَ الشَّافِعِيِّ مَا لَمْ يَمُتْ ، فَإِذَا مَاتَ تَبَيَّنَ أَنَّهُ كَانَ عَاصِيًا مِنْ آخِرِ سَنَوَاتِ الاسْتِطَاعَةِ(2)

((1)المسلک المتقسط ص 44 ، وانظر الهداية وفتح القدير 2 / 123 ، وشرح الرسالة لابن أبي الحسن 1 / 454 ، ومواهب الجليل وفيه تفصيل الخلاف في المذاهب 2 / 471ـ 472 ، والشرح الكبير 2 / 2ـ3 وحاشية الدسوقي ، ورجح الفورية بقوة حتى قال " ينبغي للمصنف الاقتصار عليه ". والمغني 3 / 241 ، والفروع 3 / 242 .

(2)الأم 2 / 117 ـــ 118 ، وروض الطالـب 1 / 456 ، ومغني المحتاج 1 / 460 ، والمسلک المتقسط ، وفتح القدير الموضعين السابقين) .

ژباړه: کله چې دحج شروط متحقق شي، نو دلته بيا پکې اختلاف رامنځته کيږي، چې دمګرۍ يې اداکول لازم دي که نه دوخت وسعت پکې شته؟ دحضرت امام ابوحنيفه رح په اصح الروايتين کې، دامام ابويوسف رح په نزد، دامام مالک رح په راجح قول او هم دامام احمد بن حنبل په عقيده (على الفور) پرې حج واجب دى، په چاکې همدا کال دحج فرضيت تحقق پيدا کړي اوده وځنداوه، نو ګنهګار شو، خو که چيرته يې ددې کال څخه پس اداکړ، نو داهم ادا ده قضاء نده، او دګناه څخه خلاص شو. دامام شافعي رح او امام محمد بن الحسن رح په نزد په (تراخي) سره واجب دى، نو شتمن سړى يې په ځنډ سره نه ګناهګاريږي، او تاخيرپکې پدې شرط روا دى، چې دا يې راتلونکې کې دکولو کلکه هوډ لري، که چيرته له دې نه ويريده، چې له اداکولو نه به يې عاجز شي، يا به يې مال له منځه لاړ شي نو پدې وخت يې تاخير نا روا دى، خو دامام شافعي رح په نظر دهغه چا لپاره چې استطاعت لري، په حج تعجيل کول ورته سنت دي، تر هغې پورې چې ونه مري، کله چې ومړ، نو څرګنده شوه، چې دا سړى دشوونتيا اوځواکمنۍ په وروستيو کلونو عاصي او نافرمانه و.

په عالمګيري فتوې کې داسې ليکل شوي (وَأَنْ لَا يَجِبَ فِي الْعُمُرِ إلَّا مَرَّةً كَذَا فِي مُحِيطِ السَّرَخْسِيِّ، وَهُوَ فَرْضٌ عَلَى الْفَوْرِ، وَهُوَ الْأَصَحُّ فَلَا يُبَاحُ لَهُ التَّأْخِيرُ بَعْدَ الْإِمْكَانِ إلَى الْعَامِ الثَّانِي كَذَا فِي خِزَانَةِ الْمُفْتِينَ.

فَإِذَا أَخَّرَهُ، وَأَدَّى بَعْدَ ذَلِكَ وَقَعَ أَدَاءً كَذَا فِي الْبَحْرِ الرَّائِقِ وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ - رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى - يَجِبُ عَلَى التَّرَاخِي وَالتَّعْجِيلُ أَفْضَلُ كَذَا فِي الْخُلَاصَةِ.

وَالْخِلَافُ فِيمَا إذَا كَانَ غَالِبُ ظَنِّهِ السَّلَامَةَ أَمَّا إذَا كَانَ غَالِبُ ظَنِّهِ الْمَوْتَ أَمَّا بِسَبَبِ الْهَرَمِ أَوْ الْمَرَضِ فَإِنَّهُ يَتَضَيَّقُ عَلَيْهِ الْوُجُوبُ إجْمَاعًا كَذَا فِي الْجَوْهَرَةِ النَّيِّرَةِ وَثَمَرَةُ الْخِلَافِ تَظْهَرُ فِي حَقِّ الْمَأْثَمِ حَتَّى يَفْسُقَ وَتُرَدَّ شَهَادَتُهُ عِنْدَ مَنْ يَقُولُ عَلَى الْفَوْرِ، وَلَوْ حَجَّ فِي آخِرِ عُمُرِهِ فَلَيْسَ عَلَيْهِ الْإِثْمُ بِالْإِجْمَاعِ. وَلَوْ مَاتَ، وَلَمْ يَحُجَّ أَثِمَ بِالْإِجْمَاعِ كَذَا فِي التَّبْيِينِ. فتاوى عالمګيري /ج/۴۳۳

خلص مطلب او ژباړه: حج په عمر کې يو کرت واجب دى او داعلى الفور لازم دى، همدا خبره ترنورو صحيح ده، نو تاخيرپکې د شتمنۍ په شتون کې دوهم کال ته مباح ندى، خو که بيا هم يې وروسته کړ، دا هم ادا ده قضاء نده، دادتراخي خبره دامام محمد رح قول دى او تلوار پکې غوره دى، دطرفينو ترمنځ دادا اختلاف موضوع ددې نه نشأت اخلي، چې ددې شخص دسلامتيا غالب ګمان شتون ولري، که دناروغۍ يا سپين ږيرتوب له امله يې دمړينې احتمال ډيرو، نو دټولو په اجماع سره بيا په وجوب کې دلته ورته وسعت (تراخي) نشته، نتيجه يې داکيږي چې څوک على الفور باندې ولاړ دي، نو دګناه په صورت کې هغه بيا دداسې شخص شهادت نه مني او فاسق ورته وايي، خو که چيرته دعمر په وروستيو کې يې هم اداکړ، ددې ګناه څخه په اجماعي اقوالو سره خلاص شو، خو که داسې ومړ، چې حج يې ونکړ، نو اجماعا ګناهګار شو.

په فوري وجوب دجمهورو نقلي دليل: دترمذى دا حديث چې فرمايي ((مَنْ مَلَكَ زَادًا وَرَاحِلَةً تُبَلِّغُهُ إِلَى بَيْتِ اللَّهِ وَلَمْ يَحُجَّ فَلا عَلَيْهِ أَنْ يَمُوتَ يَهُودِيًّا أَوْ نَصْرَانِيًّا " حديث: "من ملك زادا أو راحلة تبلغه إلى بيت الله... "أخرجه الترمذي (3/167 ط. الحلبي) من حديث علي بن أبي طالب، وقال الترمذي: "هذا حديث غريب لا نعرفه إلا من هذا الوجه، وفي إسناده مقال، وهلال بن عبد الله مجهول، والحارث يضعف في الحديث."

ژباړه: څوک چې دزاد او راحلې (خوړک، څښاک او ترانسپورتي وسيلې) څښتن شي، داسې چې بيت الله شريف ته يې رسولى شي او ده بيا هم حج ونکړ، نو ده باندې نشته يعنې دا بيا باک نلري چې يهودي مري که نصراني.

که څه هم ترمذي ورته دتضعيف ګوته نيولې، خو سړى حيران شي، چې دا څنګه کيداى شي چې داسې لويې لويې درې ګونه علمي ستې چې امت يې په امامت و ياړي پداسې يوه روايت باندې دې استدلال وکړي، نو ښکاري داسې چې ددوى له نظره دا حديث ضعيف نه دى، که فرضا وى، نو جمهورو به پرې دليل نه نيولى (والله اعلم) خو که وګورو هغې بلې خواد شوافعو خواته هم کوم داسې مصرح نقلي دليل نشته، بلکې دا اصول فقه يوه قاعده ده او بس. البته

دجمهورودنظردثبوت لپاره يو بل حديث شريف هم شته، چې امام سبکی رح په خپله فتاوی کې رانقل کړی چې دامام احمد بن حنبل ،ابوداود ،ابن ماجه په خپرله ثقاتوڅخه يې رانقل کړی دی ،چې هغه پدې ډول دی.وقد روي من حديث ابن عباس عن النبي صلى الله عليه وسلم من أراد الحج فليعجل رواه الإمام أحمد وأبو داود وابن ماجه بألفاظ مختلفة

فإن قلنا بوجوبه على الفور فمؤخره يعصي بالتأخير عن أول وقت الإمكان.....

ژباړه:حضرت ابن عباس چې له رسول الله ﷺ څخه روايت کوي هغه ﷺفرمايي چې څوک چې دحج اراده وکړي نو چابکي دې کوي.داحديث شريف چې چاورته دضعف ګوته نده نيولې داحنافو نظريه په شدومد تاييدوي.همداسې په (احکام العبادات في التشريع الاسلامي)کې داحديث هم دجمهورودنظر تاييدکوي ،چې فرمايي (وقال صلى الله عليه وسلم: (من أراد الحج فليتعجل فإنه قد يمرض المريض وتضل الراحلة وتعرض الحاجة) "رواه أحمد "بل روايت کې داسې راغلي چې (وعن سعيد بن جبير عن ابن عباس عن الفضل أو أحدهما عن الآخر قال " قال رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم من أراد الحج فليتعجل فإنه قد يمرض المريض وتضل الراحلة وتعرض الحاجة "

-رواه أحمد وابن ماجه وسيأتي قوله عليه السلام "من كسر أوعرج فقد حل وعليه الحج من قابل ")

دجمهورو عقلي دليل: المَعْقُولُ: وَذَلِكَ أَنَّ الاحْتِيَاطَ فِي أَدَاءِ الفَرَائِضِ وَاجِبٌ ، وَلَوْ أَخَّرَ الحَجَّ عَنِ السَّنَةِ الأُولَى فَقَدْ يَمْتَدُّ بِهِ العُمُرُ وَقَدْ يَمُوتُ فَيَفُوتُ الفَرْضُ ، وَتَفْوِيتُ الفَرْضِ حَرَامٌ ، فَيَجِبُ الحَجُّ عَلَى الفَوْرِ احْتِيَاطًا.

.ژباړه:دفرايضوپه ادا کې احتياط واجب دی ،که چيرته دحج ادا ددې فرض شوي کال څخه مؤخر شي، نو تر عمره پورې به وغځيږې اوښايي داشخص ومري ،نودفرضو فوات به رامنځته شي ،او فرضو پرېښودل حرام دي ،نو داسې پايلې ترې اخستلای شو ،چې احتياطا دحج وجوب على الفور دی نه په تراخي. -

دشوافعو دليل:واسْتَدَلَّ الشَّافِعِيَّةُ وَمَنْ مَعَهُمْ بِمَا يَلِي :

أ أَنَّ الأَمْرَ بِالحَجِّ فِي قَوْلِهِ تَعَالَى: { وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ البَيْتِ} سورة آل عمران 97 . مُطْلَقٌ عَنْ تَعْيِينِ الوَقْتِ ، فَيَصِحُّ أَدَاؤُهُ فِي أَيِّ وَقْتٍ ، فَلا يَثْبُتُ الإِلْزَامُ بِالفَوْرِ ، لأَنَّ هَذَا تَقْيِيدٌ لِلنَّصِّ ، وَلا يَجُوزُ تَقْيِيدُهُ إِلا بِدَلِيلٍ ، وَلا دَلِيلَ عَلَى ذَلِكَ. وَهَذَا بِنَاءٌ عَلَى الخِلافِ أَنَّ الأَمْرَ عَلَى الفَوْرِ أَوْ لِلتَّرَاخِي (انْظُرْ مُصْطَلَحَ: أَمْرٌ. (ژباړه:دالله تعالى دا قول چې { وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ البَيْتِ}دوخت په تعين کې مطلق راغلی ،نوځکه يې ادا په هروخت کې صحيح کيدای شي ،نو على الفورالزام ترې نه ثابتيږي ،ځکه دا خو دنص مقيد کول دي او له دليل پرته دنص تقييد ناسم دی او دلته داسې کوم دليل پرې نشته چې نص دې مقيد شي ،اودا په هغه خلاف باندې بناء دی چې امر دفور لپاره دی که دتراخي لپاره دی.دلته دامر په باب هغه اختلاف ته نغوته وشوه ،چې د(مسلم الثبوت شرح او البرهان)کې يې ليکلي، چې داحنافو په صحيح قول کې امر يوازې دطلب يا غوښتنې لپاره دی ،نودې کې تراخي او فور دواړه مساوي اومجاز دي ،اوهمدا نظرشوافعوته هم منسوب شوی دی ، امام رازي او آمدي هم غوره بللی ،نوروبيا ويلې چې امر دتراخي لپاره دی اوددې نظر نسبت مالکيانو ،حنبليانو،امام کرخي ،سکاکي اوقاضي ته شوی ،خوپخپله پکې امام ابوحنيفه رح پدې پار چې امر دفورلپاره دی او که دفور او تراخي تر منځ قدر مشترک دی، توقف کړی لکه چې دمسلم الثبوت دشرحې ددې عبارت نه معلوميږي:دَلالَةُ الأَمْرِ عَلَى الفَوْرِ أَوِ التَّرَاخِي:

7 - الصَّحِيحُ عِنْدَ الحَنَفِيَّةِ أَنَّ الأَمْرَ لِمُجَرَّدِ الطَّلَبِ ، فَيَجُوزُ التَّأْخِيرُ كَمَا يَجُوزُ البِدَارُ ، وَعُزِيَ إِلَى الشَّافِعِيِّ وَأَصْحَابِهِ. وَاخْتَارَهُ الرَّازِيُّ وَالآمِدِيُّ.

وَقِيلَ: يُوجِبُ الفَوْرَ ، وَعُزِيَ إِلَى المَالِكِيَّةِ وَالحَنَابِلَةِ وَالكَرْخِيِّ ، وَاخْتَارَهُ السَّكَّاكِيُّ وَالقَاضِي.

وَتَوَقَّفَ الإِمَامُ فِي أَنَّهُ لِلْفَوْرِ أَوْ لِلْقَدْرِ المُشْتَرَكِ بَيْنَ الفَوْرِ وَالتَّرَاخِي(4) .(شرح مسلم الثبوت 1 / 387 ، 388. والبرهان للجويني 231-247 .)

دشوافعو بل دليل:

ب - (أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَحَ مَكَّةَ عَامَ ثَمَانٍ مِنَ الْهِجْرَةِ ، وَلَمْ يَحُجَّ إِلَّا فِي السَّنَةِ الْعَاشِرَةِ وَلَوْ كَانَ وَاجِبًا عَلَى الْفَوْرِيَّةِ لَمْ يَتَخَلَّفْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ فَرْضٍ عَلَيْهِ) (الأم 2 / 118 ، وانظر حاشية القليوبي على شرح المنهاج 2 / 84 ، وبدائع الصنائع للكاساني 2 / 119 .

ژباړه او خلص مطلب: شوافع وايي چې رسول الله ﷺ مکه مکرمه په اتم هجري کال فتح کړي ، خو حج يې په لسم کال وکړ ، نو که چيرته على الفور فرض وی ، نو ده ﷺ به دداسې يوه فرض نه چې پرده لازم و تخلف نوی کړی.

دنيل الاوطار مصنف دشوافعودې وروستي دليل په ځواب کې : واحتجوا بأنه صلى الله عليه وآله وسلم حج سنة عشر وفرض الحج كان سنة ست أو خمس وأجيب بأنه قد أختلف في الوقت الذي فرض عليه الحج ومن جملة الأقوال أنه فرض في سنة عشر فلا تأخير ولو سلم أنه فرض قبل العاشرة فتراخيه صلى الله عليه وآله وسلم إنما كان لكراهة الأختلاط في الحج بأهل الشرك لأنهم كانا يحجون ويطوفون بالبيت عراة فلما طهر الله البيت الحرام منهم حج صلى الله عليه وآله وسلم فتراخيه لعذر ومحل النزاع التراخي مع عدمه (نيل الاوطار)

ژباړه او لنډ مفهوم: دشوافعودې استدلال ځخه چې رسول الله ﷺ په لسم هجري کال حج ادا کړی، پداسې حال کې چې په ده ﷺ باندې په پنځم يا شپږم هجري کال کې فرض شوی و ، داسې ځواب شوی چې پدې کې هم اختلاف دی ، چې پرده ﷺ کوم کال حج فرض شوی و ، ځينې داسې اقوال هم شته ، چې پرده ﷺ حج دهجرت په لسم کال فرض شوی نو که داسې شي ، نو بيا خو هيڅ تراخي يا ځنډ پکې ندی راغلی ، او که داسې ومنو ، چې له لسم کال ځخه مخکې فرض شوی و ، نو دده ﷺ د ادا تاخير ددې کبله و ، چې نه يې غوښتل چې له مشرکينو سره يې په حج کې اختلاط راشي ، ځکه دوئ به حج او عمره په برينده کوله ، نو کله چې الله ﷺ ترې کعبه پاکه کړه ، نو رسول الله ﷺ بيا حج هم وکړ ، نو ځرګنده شوه چې دده ﷺ دحج دادا تراخي دعذر له کبله وه.

دشوافعو لومړي دليل ځخه چې داصول فقه ددې قاعدې له مخې چې (يجب العمل بالمطلق على إطلاقه إلا بدليل يدل على تقييده؛ لأن العمل بنصوص الكتاب والسنة واجب على ما تقتضيه دلالتها حتى يقوم دليل على خلاف ذلك./الاصول من علم الاصول) دتقييد دمطلق لپاره يې دليل غوښت همداد (نيل الاوطار) ځواب هم ښه علمي او منطقي دی ، هغه داسې چې که دحج فرضيت په لسم هجري کال شوی وي ، نو بيا خو پکې دتقييد او اطلاق اړتيا نشته او که فرضيت يې دلسم هجري کال ځخه مخکې شوی وي ، (پنځم يا شپږم کال) نو بيا ددې نوموړې عذر په وجه يې دا تاخير هم ددې قاعدې نه خروج ندی ، او ځرنګه چې دقرانکريم تفسير رسول الله ﷺ کاوه ، نو دمطلق دتقييد دليل همدا مذکور حديث هم کيدای شي (وعن سعيد بن جبير عن ابن عباس عن الفضل أو أحدهما عن الآخر قال " قال رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم من أراد الحج فليتعجل فإنه قد يمرض المريض وتضل الراحلة وتعرض الحاجة "

رواه أحمد وابن ماجه وسيأتي قوله عليه السلام " من كسر أو عرج فقد حل وعليه الحج من قابل) والله اعلم.

نو دحج فرضيت على الفور ، تراخي يې بې عذره گناه او وروسته يې ادا کول قضاء نه بلکې ادا ده !

دماشوم دحج مسئله :

دفقهاوو په اتفاق سره دا خبره ثابته ده ، چې له بلوغ نه مخکې پر ماشوم حج واجب ندی ، خو که دحج مناسکو ته حاضر شي ، نو ترې صحيح کيږي او دا به يې نفل وي ، البته پرده به فرضي حج لکه دپخوا په څير فرض پاتې وي ، چې کله بلوغ ته ورسيږي ، نو بيا به فرضي حج وکړي ، لکه دې لاندينې عبارت کې چې دا مفهوم ښه ځرګند دی: وَمِنْهَا الْبُلُوغُ) فَلَا يَجِبُ عَلَى الصَّبِيِّ كَذَا فِي فَتَاوَى قَاضِي خَانْ وَلَوْ أَنَّ الصَّبِيَّ حَجَّ إذَا قَبْلَ الْبُلُوغِ فَلَا يَكُونُ ذَلِكَ عَنْ حَجَّةِ الْإِسْلَامِ وَيَكُونُ تَطَوُّعًا ، (فتاوى هنديه)ج۵/ص۲۴۷

لا يَجِبُ الْحَجُّ عَلَى الصَّبِيِّ قَبْلَ الْبُلُوغِ إِجْمَاعًا . لكِنْ إِذَا فَعَلَهُ صَحَّ مِنْهُ ، وَكَانَ نَفْلا ، وَعَلَيْهِ حَجَّةٌ أُخْرَى إِذَا بَلَغَ إِجْمَاعًا .

وَتَتَفَاوَتُ كَيْفِيَّةُ إِحْرَامِ الصَّبِيِّ وَأَدَائِهِ الْمَنَاسِكَ بِتَفَاوُتِ سِنِّهِ هَلْ هُوَ مُمَيِّزٌ أَوْ لاَ .

وَقَدْ سَبَقَ بَيَانُ ذَلِكَ مُفَصَّلاً فِي مُصْطَلَحِ إِحْرَامٍ فَانْظُرْهُ (ف 131 - 136) وَيُلْحَقُ بِالصَّبِيِّ غَيْرُ الْمُمَيِّزِ الْمَجْنُونُ جُنُونًا مُطْبِقًا بِاتِّفَاقِهِمْ (على تفاصيل في إفاقته وما يلزم فيها . انظر المسلك المتقسط ص 78 ، والإيضاح ص 556 ، والشرح الكبير 2 / 3 ، والمغني 3 / 249.)

دبل چاپرځای دحج فريضه اداکول

دجمهورو (حنفي ،شافعي او دحنبلي)علماوو په عقيده دبل چا پر ځای يو څوک دهغه په مصرف او اجازه حج کولای شي ،يوازې دامام مالک رح په نظر دبل چا څخه دحج ادا کول نا روا دي ،دلايل به دداوړو طرفينو راوړل شي ،دا مسئله به هم راوړل شي ،چې آيا دبل چا لپاره دحج کولو لپاره د نائب حج شرط دی او که نه ؟پدې ب به هم اختلاف المذاهب راوړل شي او واضحه به کړو ،چې داحنافو په مذهب کې دنائب لپاره اولا خپل حج شرط ندی او نورمذاهب داسې څرګندوي ،چې بايد نائب پخپله حج کړی وي ،صاحب دفتح القدير او نورو دحج عن الغير دجواز په باب دمذاهبو اختلاف داسې تحرير کړی:

مَشْرُوعِيَّةُ الْحَجِّ عَنِ الْغَيْرِ :

- 114ذَهَبَ الْجُمْهُورُ (الْحَنَفِيَّةُ وَالشَّافِعِيَّةُ وَالْحَنَابِلَةُ) إِلَى مَشْرُوعِيَّةِ الْحَجِّ عَنِ الْغَيْرِ وَقَابِلِيَّتِهِ لِلنِّيَابَةِ ، وَذَهَبَ مَالِكٌ عَلَى الْمُعْتَمَدِ فِي مَذْهَبِهِ إِلَى أَنَّ الْحَجَّ لاَ يَقْبَل النِّيَابَةَ لاَ عَنِ الْحَيِّ وَلاَ عَنِ الْمَيِّتِ ، مَعْذُورًا أَوْ غَيْرَ مَعْذُورٍ . وَقَالُوا : إِنَّ الأَفْضَل أَنْ يَتَطَوَّعَ عَنْهُ وَلِيُّهُ بِغَيْرِ الْحَجِّ ، كَأَنْ يُهْدِيَ أَوْ يَتَصَدَّقَ عَنْهُ ، أَوْ يَدْعُوَ لَهُ ، أَوْ يُعْتِقَ(2 . (انظر فتح القدير 2 / 308 ، ومغني المحتاج 1 / 468 ـ 469 ، والمغني 3 / 227 ـ 228 ، ومواهب الجليل 2 / 543 ، وحاشية الدسوقي 1 / 18 .)

لنډمفهوم اوژباړه :جمهورعلماء وايي چې حج عن الغير روادی او دامام مالک رح باورې قول دادی، چې ندی روا ،او پدې باب نه دژوندې او نه هم دمړه نيابت روادی ،خو د دوئ په نظر غوره داده چې وارث ترې صدقه او خيرات وکړي يا ورته دعا وکړي.

دجمهورو نقلي او عقلي دلايل:

اسْتَدَل الْجُمْهُورُ عَلَى مَشْرُوعِيَّةِ حَجِّ الإِنْسَانِ عَنْ غَيْرِهِ بِالسُّنَّةِ الثَّابِتَةِ الْمَشْهُورَةِ ، وَبِالْعَقْل .

نقلي دلايل:

أَمَّا السُّنَّةُ : فَمِنْهَا حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَال : " جَاءَتِ امْرَأَةٌ مِنْ خَثْعَمَ عَامَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ ، قَالَتْ : يَا رَسُول اللَّهِ : إِنَّ فَرِيضَةَ اللَّهِ عَلَى عِبَادِهِ فِي الْحَجِّ أَدْرَكَتْ أَبِي شَيْخًا كَبِيرًا لاَ يَسْتَطِيعُ أَنْ يَسْتَوِيَ عَلَى الرَّاحِلَةِ ، فَهَل يَقْضِي عَنْهُ أَنْ أَحُجَّ عَنْهُ ؟ قَال : نَعَمْ " . أخرجه البخاري (الفتح 4 / 66 ـ ط السلفية) . مسلم (2 / 973 ـ ط الحلبي)

ژباړه :حضرت ابن عباس ؓ فرمايي چې د(خثعم) قبيلې يوه ښځه په حجة الوداع کې راغله ،رسول الله ﷺ ته يې وويل چې ای دالله ﷺ رسوله ﷺ ! يقينا چې دالله ﷺ فريضه په بندګانو باندې حج کې زما پلا رپداسې حال کې موندلې چې هغه ډير سپين ږيری او مشر دی ،ددې وسه نلري چې په سپرلۍ باندې ځان ټينګ کړي ،آيا دهغه نه به داپوره شي چې زه دهغه لپاره حج وکړم ؟رسول الله ﷺ ورته وويل چې هو !

وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَيْضًا : " أَنَّ امْرَأَةً مِنْ جُهَيْنَةَ جَاءَتْ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ : إِنَّ أُمِّي نَذَرَتْ أَنْ تَحُجَّ فَلَمْ تَحُجَّ حَتَّى مَاتَتْ أَفَأَحُجُّ عَنْهَا ؟ قَال صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : نَعَمْ حُجِّي عَنْهَا ، أَرَأَيْتِ لَوْ كَانَ عَلَى أُمِّكِ دَيْنٌ أَكُنْتِ قَاضِيَتَهُ ؟ . . اقْضُوا اللَّهَ ، فَاللَّهُ أَحَقُّ بِالْوَفَاءِ " (1 . (أخرجه البخاري (الفتح 4 / 64 ـ ط السلفية)

ژباړه :او دابن عباس ؓ نه همدا رنګه روايت شوی، چې دجهينه قبيلې يوه ښځه رسول الله ﷺ ته راغله ،نو ويې ويل يقينا زما مورنذرايښی و ،چې حج به کوي، تردې چې وفات شوه ،آيا زه ترې حج وکړم ؟نورسول الله ﷺ ورته وويل چې هو ! ته دهغې څخه حج وکړه ،ته خبر راکړه (ستا په فکريا نظر) که ستا په مور پور وړي وي ،آيا ته يې ادا کونکې يې ؟دالله

ﷻ(دفریضې) قضاء راوړئ! پس الله ﷻ ډیر احق دی په وفا کولو سره (یعني چې په خپل نذر وفا ورسره وکړئ).

دجمهورو دلیل عقلي:

وأمّا العَقلُ، فقالَ الكمالُ بنُ الهُمام. وكانَ مُقتضى القياسِ أنْ لا تجري النِّيابةُ في الحجِّ، لتضمّنه المشقّتينِ البدنيّةِ والماليّةِ، والأولى لم تقمْ بالآمرِ، لكنّهُ تعالى رخّصَ في إسقاطه بتحمّلِ المشقّةِ الأخرى، أعني إخراجَ المالِ عندَ العجزِ المستمرِّ إلى الموتِ، رحمةً وفضلا، وذلكَ بأنْ يدفعَ نفقةَ الحجِّ إلى منْ يحجُّ عنهُ، بخلافِ حالِ القدرةِ فإنّهُ لمْ يعذرْهُ لأنّ تركهُ ليسَ إلا لمجرّدِ إيثارِ راحةِ نفسه على أمرِ ربّه، وهوَ بهذا يستحقُّ العقابَ، لا التخفيفَ في طريقِ الإسقاطِ، وإنّما شرطَ دوامهُ (أي العذرِ) إلى الموتِ لأنّ الحجَّ فرضُ العمرِ ("فتح القدير 2/310)

خلص مفهوم: علامه کمال ابن الهمام په فتح القدیر کې لیکي چې: دقیاس غوښتنه داده چې په حج کې نیابت په هیڅ ډول جایز نشي اودا ځکه چې دا د دوو تکالیفو متضمن وي، یو مشقت مالي بل بدني، لومړی مشقت چې بدني دی د آمر څخه نه پوره کیږي، نو الله ﷻ ددې مشقت په اسقاط سره رخصت ورکړ، په تحمل ددوهم مشقت، چې هغه مالي دی، دادې امله چې دا ترې عاجز دی اوعجزیې مستمر دی، تر مرینې پورې، دادالله ﷻ محض رحمت او فضل دی، دا شخص به بل چاته لګښت ورکړي اوهغه به ددې پر ځای ترې حج وکړي..

وقالَ ابنُ قدامةَ: هذه عبادةٌ تجبُ بإفسادِها الكفارةُ، فجازَ أنْ يقومَ غيرُ فعلِه فيها مقامَ فعلِه، كالصّومِ إذا عجزَ عنهُ افتدى بخلافِ الصّلاةِ(3. " (المغني 3/228)

ژباړه: ابن قدامه په المغني کې لیکي چې: دا حج عبادت دی او په افساد یې کفاره راځي، نو جایزده چې دبل چا کړنه یدې کې دده په ځای ودرول شي، لکه روژه چې دعجزپه صورت کې ترې کفاره ادا کیدای شي، دلمانځه په خلاف چې دا سې پکې نشي کیدای.

وأخذَ المالكيّةُ بالأصلِ، وهوَ عدمُ جريانِ النّيابةِ في العبادةِ البدنيّةِ، كالصّومِ (مواهب الجليل في الموضع السابق، وفيه توسع، والتاج والإكليل لمختصر خليل 3/7

ژباړه: اومالکیانو په اصل باندې اعتماد کړی اوهغه داسې چې په بدني عباداتو کې نیابت جایز ندی، لکه په روژه کې چې ندی روا.

دبل چاپر ځای دحج کولو شرطونه

لومړی شرط:

أولا - شُرُوطُ وُجُوبِ الإِحْجَاجِ:

- 115يُشْتَرَطُ لِوُجُوبِ الإِحْجَاجِ عَنِ المُكَلَّفِ عِنْدَ الجُمْهُورِ خِلَافًا لِلمَالِكِيَّةِ : العَجْزُ عَنْ أَدَاءِ الحَجِّ الوَاجِبِ عَلَيْهِ.

وَيَشْمَلُ ذَلِكَ مَا يَلِي :

أ - كُلُّ مَنْ وَجَبَ عَلَيْهِ الحَجُّ وَهُوَ قَادِرٌ عَلَى الحَجِّ بِنَفْسِهِ وَحَضَرَهُ المَوْتُ يَجِبُ عَلَيْهِ الوَصِيَّةُ بِالإِحْجَاجِ عَنْهُ عِنْدَ الحَنَفِيَّةِ. سَوَاءٌ حَجَّةُ الإِسْلَامِ، أَوِ النَّذْرِ، أَوِ القَضَاءِ.

وَلَمْ يُوقِفِ الشَّافِعِيَّةُ وُجُوبَ الإِحْجَاجِ عَنْهُ عَلَى الوَصِيَّةِ إِجْرَاءً لِلحَجِّ مَجْرَى الدُّيُونِ.

أَمَّا المَالِكِيَّةُ. فَلَا يُوجِبُونَ عَلَيْهِ الوَصِيَّةَ، وَلَا يَسْقُطُ عَنْهُ الفَرْضُ بِأَدَاءِ الغَيْرِ عَنْهُ - كَمَا هُوَ أَصْلُ مَذْهَبِهِمُ الَّذِي عَرَفْنَاهُ - لَكِنْ إِذَا أَوْصَى نَفَذَتْ وَصِيَّتُهُ، وَإِنْ لَمْ يُوصِ لَمْ يُرْسَلْ مَنْ يَحُجُّ عَنْهُ.

ب - مَنْ تَوَفَّرَتْ فِيهِ سَائِرُ شُرُوطِ وُجُوبِ الحَجِّ وَاخْتَلَّ شَيْءٌ مِنْ شُرُوطِ الأَدَاءِ بِالنَّفْسِ، يَجِبُ عَلَيْهِ أَنْ يَحُجَّ عَنْ نَفْسِهِ. أَوْ يُوصِيَ بِالإِحْجَاجِ عَنْهُ إِذَا لَمْ يُرْسِلْ مَنْ يَحُجُّ عَنْهُ.

ج مَنْ تَوَفَّرَتْ فِيهِ شُرُوطُ وُجُوبِ الحَجِّ بِنَفْسِهِ فَلَمْ يَحُجَّ حَتَّى عَجَزَ عَنِ الأَدَاءِ بِنَفْسِهِ يَجِبُ عَلَيْهِ أَنْ يَحُجَّ عَنْهُ فِي حَالِ حَيَاتِهِ، أَوْ يُوصِيَ بِالإِحْجَاجِ عَنْهُ بَعْدَ مَوْتِهِ.

وَيَتَحَقَّقُ العَجْزُ بِالمَوْتِ، أَوْ بِالحَبْسِ، وَالمَنْعِ، وَالمَرَضِ الَّذِي لَا يُرْجَى زَوَالُهُ كَالزَّمَانَةِ وَالفَالِجِ، وَالعَمَى وَالعَرَجِ، وَالهَرَمِ الَّذِي لَا يَقْدِرُ صَاحِبُهُ عَلَى الاسْتِمْسَاكِ، وَعَدَمِ أَمْنِ الطَّرِيقِ، وَعَدَمِ المَحْرَمِ بِالنِّسْبَةِ لِلمَرْأَةِ، إِذَا اسْتَمَرَّتْ هَذِهِ الآفَاتُ إِلَى المَوْتِ (المسلك المتقسط ص 287، والإيضاح في مناسك الحج للنووي وحاشيته للهيثمي ص 108 ــ 109، ومغني

المحتاج 1 / 468ـ469 ، والمغني 3 / 227ـ228 ، والفروع 3 / 245 ، ومواهب الجليل 2 / 543 .)

دپورتني عبارت لنډه ترجمه :دجمهورو علماوو په عقیده دبل چا څخه دحج کولو شرطونه دادي چې: الف-هميشنی عجز يعني دا آمر داسې معذور وي ،چې ترمرينې پورې يې عجز پاتې وي ،اودا په څو نورو فروعاتو مشتمل دی ،يو دا چې کله يـدې شخص فرضي ،نذر او يا هم قضايي حج وي ،نو داحنافو په نزد په ده باندې وصيت لازم دی ،چې نور څوک يې ترې کړي. ب: په يوه شخص کې دحج اداء بالنفس شروط بشپړ شول ،خو يو شرط يې متخلل يا منتفي شو ،چې دده دحج کولو مخه يې ونيوله، نودا به يو څوک دځان پرځای حج ته ليږي او که څوک نه وو ،نو چاته به يې وصيت کوي. ج:په چاکې چې دحج دوجوب شروط پوره شول ،خو دې شخص ادا نکړ،تردې چې دا ترې نور عاجز شو ،نو واجب ده ،چې يادده په ژوند کې ترې حج وشي او يا هم چاته دا وصيت وکړي ،او دعجز تحقق په مرينه ،اسارت ،منع کولو ،اوهغه مرض راځي، چې دزوال هيله يې نوي ،لکه فالج ،ړوندوالی ،هميشنی مرض ،ګوډوالی ،داسې سپين ږيرتوب، چې ځان نشي ټينګولی ،دلارې نا امني ،دښځې سره دمحرم نشتوالی ،چې دا ټول آفات ترمرينې پورې پاتې شي.

دوهم شرط:

ثَانِيًا : شُرُوطُ النَّائِبِ عَنْ غَيْرِهِ فِي الْحَجِّ :

- 116 اشْتَرَطَ الشَّافِعِيَّةُ وَالْحَنَابِلَةُ لِإِجْزَاءِ الْحَجِّ الْفَرْضِ عَنِ الْأَصِيلِ أَنْ يَكُونَ النَّائِبُ قَدْ حَجَّ حَجَّةَ الْإِسْلَامِ عَنْ نَفْسِهِ أَوَّلًا ، وَإِلَّا كَانَتِ الْحَجَّةُ عَنْ نَفْسِهِ ، وَلَمْ تُجْزِئْ عَنِ الْأَصِيلِ ، وَهُوَ قَوْلُ الْأَوْزَاعِيِّ وَإِسْحَاقَ بْنِ رَاهَوَيْهِ (المجموع والمهذب 7 / 98 ، والإيضاح ص 119 ، والمغني 3 / 245 ، والفروع 3 / 265ـ266 .)

وَاكْتَفَى الْحَنَفِيَّةُ بِأَهْلِيَّةِ الْمَأْمُورِ لِصِحَّةِ الْحَجِّ . بِأَنْ يَكُونَ مُسْلِمًا عَاقِلًا ، فَأَجَازُوا أَنْ يَكُونَ الْمَأْمُورُ لَمْ يَحُجَّ عَنْ نَفْسِهِ حَجَّةَ الْإِسْلَامِ (وَهُوَ الْمُسَمَّى صَرُورَةٌ) ، (الصرورة: من لم يحج)وَأَجَازُوا حَجَّ الْعَبْدِ ، وَالْمُرَاهِقِ عَنْ غَيْرِهِمْ . وَتَصِحُّ هَذِهِ الْحَجَّةُ الْبَدَلِيَّةُ وَتَبْرَأُ ذِمَّةُ الْأَصِيلِ ، مَعَ الْكَرَاهَةِ التَّنْزِيهِيَّةِ بِالنِّسْبَةِ لِلْآمِرِ ، وَالْكَرَاهَةِ التَّحْرِيمِيَّةِ بِالنِّسْبَةِ لِلْمَأْمُورِ إِنْ كَانَ تَحَقَّقَ وُجُوبُ الْحَجِّ عَلَيْهِ. وَنَحْوُ ذَلِكَ عِنْدَ الْمَالِكِيَّةِ فِي الْحَجِّ عَنِ الْمَيِّتِ يَصِحُّ عَلَى الْقَوْلِ بِوُجُوبِ الْحَجِّ عَلَى التَّرَاخِي عِنْدَهُمْ ، أَمَّا عَلَى وُجُوبِهِ عَلَى الْفَوْرِ فَيَحْرُمُ الْحَجُّ عَنْهُ(.المسلك المتقسط ص 299 ، وفيه مناقشة حول المراهق ص 300ـ301 ، وتنوير الأبصار مع شرحه وحاشيته 2 / 331 ، ومواهب الجليل 3 / 5 ، والشرح الكبير 2 / 18ـ20 .)

خلص مفهوم: شوافعو او حنابلو شرط کړي ، چې هغه څوک دبل چا په نيابت حج کولای شي ،چې ده په خپله حج کړی وي ،که ده نوي کړي ،نو دنيابت حج به دنايب څخه حساب شي اودآمر څخه به نه ادا کيږي ،خو احناف بيا داسې کوم شرط دحج په نيابت عن الغير کې نه ږدي، چې دې نايب عن الغير دې ضرور په خپله حج کړی وي ،بلکې دوئ يوازې دحج دصحت لپاره د نايب په اهليت بسنه کوي ،احناف وايي چې دومره بس دی، چې دا نايب مسلمان او عاقل وي ،نودوئ دا اجازه ورکړې ،چې هغه مامور چې حجةالاسلام يې نوې کړی ،هم دحج نيابت کولای شي او دې کس ته (الصرورة)وايي يعني هغه څوک چې حج يې په خپله ندی کړی، خو دبل چا په عوض يې کوي ،همدا سې احناف دمريې او مراهق حج هم جايز بولي ،نودې کې دآمر غاړه دکراهت تنزيهي سره مله خلاصيږي .((البته په (تنقيح الفتاوى الحامدية)کې لاندېني عبارت کې چې دې پسې به راشي ،داسې ليکلي ،چې دا کار خلاف الافضل دی ،دکراهت تنزيه الفاظ هلته نه تر ستر ګو کيږي) اودمامور په حق کې هغه وخت کراهت تحريمي صورت نيسي چې پخپله پکې دحج شروط پوره وي اودا يې دځان لخوا نه ادا کوي.

دحنفي مسلک مشهور کتاب (تنقيح الفتاوى الحامدية) دې لاندېني عبارت کې هم د(حج الصروره) دجواز حکم تر ستر ګو کيږي لکه چې ليکي :(سُئِلَ) فِي رَجُلٍ أَوْصَى بِأَنْ يُحَجَّ عَنْهُ بِمَبْلَغٍ سَمَّاهُ مِنْ ثُلُثِ مَالِهِ فَدَفَعَهُ الْوَصِيُّ لِرَجُلٍ لَمْ يَحُجَّ عَنْ نَفْسِهِ فَهَلْ يَجُوزُ حَجُّهُ عَنْ الْمَيِّتِ (الْجَوَابُ) : يَجُوزُ لِمَنْ لَمْ يَكُنْ حَجَّ عَنْ نَفْسِهِ أَنْ يَحُجَّ عَنْ غَيْرِهِ لَكِنَّهُ خِلَافُ الْأَفْضَلِ وَيُسَمَّى حَجَّ الصَّرُورَةِ مِنْ الصَّرِّ وَهُوَ الشَّدُّ قَالَ فِي الْمِصْبَاحِ أَصَرَّ عَلَى نَفَقَتِهِ لِأَنَّهُ لَمْ يُخْرِجْهَا فِي الْحَجِّ وَهَلْ يَجِبُ عَلَيْهِ أَنْ يَمْكُثَ بِمَكَّةَ حَتَّى يَحُجَّ عَنْ نَفْسِهِ لَمْ أَرَهُ إلَّا فِي فَتَاوَى أَبِي السُّعُودِ الْمُفَسِّرِ وَصُورَتُهُ (مَسْأَلَةٌ) كَعْبَةٌ شَرِيفَةٌ بِهِ وَارِمِين زير

فقیر عُمْرک حَجّ شریف أیجون تعیین ایتدیکي اقجة أوْلوب عمرو نیته حَجّ إیله شرعا جَائزًا ولَوْ رَمَی (الجَوَابُ): أکرجه جَائِز دُرًّ مَا بر دُفعه حَجّ أیده نه ایتدرمک کر کدرزیرا وندن واروب حَجّ أیتمک لَازِم أوْلوْ رانده مُجَاوِرًا ولیجق عُمْرک حَجّنِي إتْمَام أتمش أوْلور. اهـ.

قُلت وَفِي هَذَا الكلَام بَحْثٌ إنْ لَمْ يُوجَدْ نَقْلٌ صَرِيحٌ لِأَنَّهُ حَجٌّ بِقُدْرَةِ الغَيْرِ لَا بِقُدْرَةِ نَفْسِهِ وَمَالِهِ وَإِذَا تَمَّ الحَجُّ تَمْضِي أَشْهُرُ الحَجِّ فَإِنَّهَا شَوَّالٌ وَذُو القَعْدَةِ وَعَشْرُ ذِي الحِجَّةِ فَكَيْفَ يَجِبُ عَلَيْهِ المُكْثُ حَتَّى تَأْتِيَ أَشْهُرُهُ فَإِذَا كَانَ فَقِيرًا وَلَهُ عَائِلَةٌ فِي بَلَدِهِ فَوُجُوبُ المُكْثِ عَلَيْهِ إلَى السَّنَةِ الآتِيَةِ بِلَا نَفَقَةٍ مَعَ تَرْكِ عِيَالِهِ يَحْتَاجُ إلَى نَقْلٍ صَرِيحٍ فِي ذَلِكَ فَتَأَمَّلْ ثُمَّ بَعْدَ ذَلِكَ رَأَيْت بِخَطِّ بَعْضِ الفُضَلَاءِ نَاقِلًا عَنْ مَجْمَعِ الأَنْهُرِ عَلَى مُلْتَقَى الأَبْحُرِ مَا صُورَتُهُ.

وَيَجُوزُ إحْجَاجُ الصَّرُورَةِ وَلَكِنْ يَجِبُ عَلَيْهِ عِنْدَ رُؤْيَةِ الكَعْبَةِ الحَجُّ لِنَفْسِهِ وَعَلَيْهِ أَنْ يَتَوَقَّفَ إلَى عَامٍ قَابِلٍ وَيَحُجَّ لِنَفْسِهِ أَوْ أَنْ يَحُجَّ بَعْدَ عَوْدَةِ أَهْلِهِ بِمَالِهِ وَإِنْ فَقِيرًا فَلْيُحْفَظْ وَالنَّاسُ عَنْهَا غَافِلُونَ وَصَرَّحَ عَلِيٌّ القَارِي فِي شَرْحِ مَنْسَكِهِ الكَبِيرِ بِأَنَّهُ بِوُصُولِهِ لِمَكَّةَ وَجَبَ عَلَيْهِ وَفِي نَهْجِ النَّجَاةِ لِابْنِ حَمْزَةَ هَذِهِ المَسْأَلَةُ مِنْ كَلَامٍ حَسَنٍ فَلْتُرَاجَعْ.

(أَقُولُ) وَقَدْ أَلَّفَ سَيِّدِي عَبْدُ الغَنِيِّ النَّابُلُسِيُّ رِسَالَةً فِي ذَلِكَ جَنَحَ فِيهَا إلَى عَدَمِ الوُجُوبِ وَنَقَلَ بَعْضُ العُلَمَاءِ أَنَّ السَّيِّدَ أَحْمَدَ بَادْشَاهْ أَلَّفَ رِسَالَةً فِي الوُجُوبِ وَاللهُ تَعَالَى أَعْلَمُ.
(تنقیح الفتاوی الحامدیة /ج/١/ص٤٧)

دپورتني عبارت لنډ مطلب: امام شامي په تنقیح الفتاوی کې دسوال او ځواب په بڼه لیکي: چې حج الصروره (دبل چا لپاره داسې چا حج چې پخپله یې حج نوې کړی) جوازلري، البته خلاف الافضل دی، اوس دا مسئله چې دا شخص چې پخپله یې حج ندی کړی، دکعبې شریفې په کتو پرې حج لازمیږي که نه؟ ژوره اختلافي مسئله ده، ځینې همدا سې حکم کوي، چې پدې شخص بل حج دځان لپاره که څه هم فقیر وي واجب شو، او ځینې نور علماء یې وجوب باندې حکم نه کوي، خود امام شامي رح ترجیح په (اقول) سره همدا سې ښکاري چې وجوب پرې نشته په هر صورت دا اختلافي مسله ده.

عالمګیري فتاوی کې دحج الصروره لپاره داسې شرطونه ایښې:

..........وَلِجَوَازِ النِّيَابَةِ فِي الحَجِّ شَرَائِطُ.

(مِنْهَا): أَنْ يَكُونَ المَحْجُوجُ عَنْهُ عَاجِزًا عَنْ الأَدَاءِ بِنَفْسِهِ وَلَهُ مَالٌ، فَإِنْ كَانَ قَادِرًا عَلَى الأَدَاءِ بِنَفْسِهِ بِأَنْ كَانَ صَحِيحَ البَدَنِ وَلَهُ مَالٌ أَوْ كَانَ فَقِيرًا صَحِيحَ البَدَنِ لَا يَجُوزُ حَجُّ غَيْرِهِ عَنْهُ.

(وَمِنْهَا) اسْتِدَامَةُ العَجْزِ مِنْ وَقْتِ الإِحْجَاجِ إلَى وَقْتِ المَوْتِ هَكَذَا فِي البَدَائِعِ حَتَّى لَوْ أَحَجَّ عَنْ نَفْسِهِ وَهُوَ مَرِيضٌ يَكُونُ مُرَاعًى فَإِنْ مَاتَ أَجْزَأَهُ، وَإِنْ تَعَافَى بَطَلَ وَكَذَا لَوْ أَحَجَّ عَنْ نَفْسِهِ وَهُوَ مَحْبُوسٌ، كَذَا فِي التَّبْيِينِ فَإِنْ أَحَجَّ الرَّجُلُ الصَّحِيحُ عَنْ نَفْسِهِ رَجُلًا ثُمَّ عَجَزَ لَمْ تُجْزِئْهُ الحَجَّةُ. كَذَا فِي السِّرَاجِ الوَهَّاجِ وَإِنَّمَا شَرَطَ عَجْزَ المَنُوبِ لِلْحَجِّ الفَرْضِ لَا لِلنَّفْلِ، كَذَا فِي الكَنْزِ فَفِي الحَجِّ النَّفْلِ تَجُوزُ النِّيَابَةُ حَالَةَ القُدْرَةِ؛ لِأَنَّ بَابَ النَّفْلِ أَوْسَعُ. كَذَا فِي السِّرَاجِ الوَهَّاجِ (وَمِنْهَا) الأَمْرُ بِالحَجِّ فَلَا يَجُوزُ حَجُّ الغَيْرِ عَنْهُ بِغَيْرِ أَمْرِهِ إلَّا الوَارِثُ يَحُجُّ عَنْ مُوَرِّثِهِ بِغَيْرِ أَمْرِهِ

فَإِنَّهُ يُجْزِيهِ (وَمِنْهَا) نِيَّةُ المَحْجُوجِ عَنْهُ عِنْدَ الإِحْرَامِ، وَالأَفْضَلُ أَنْ يَقُولَ بِلِسَانِهِ: لَبَّيْكَ عَنْ فُلَانٍ.

(وَمِنْهَا) أَنْ يَكُونَ حَجُّ المَأْمُورِ بِمَالِ المَحْجُوجِ عَنْهُ فَإِنْ تَطَوَّعَ الحَاجُّ عَنْهُ بِمَالِ نَفْسِهِ لَمْ يَجُزْ عَنْهُ حَتَّى يَحُجَّ بِمَالِهِ وَكَذَا إذَا أَوْصَى أَنْ يَحُجَّ بِمَالِهِ وَمَاتَ فَتَطَوَّعَ عَنْهُ وَارِثُهُ بِمَالِ نَفْسِهِ، كَذَا فِي البَدَائِعِ .... وَمِنْهَا) أَنْ يَحُجَّ رَاكِبًا حَتَّى لَوْ أَمَرَهُ بِالحَجِّ فَحَجَّ مَاشِيًا يَضْمَنُ النَّفَقَةَ وَيَحُجُّ عَنْهُ رَاكِبًا. كَذَا فِي البَدَائِعِ ثُمَّ الصَّحِيحُ مِنْ المَذْهَبِ فِيمَنْ حَجَّ عَنْ غَيْرِهِ أَنَّ أَصْلَ الحَجِّ يَقَعُ عَنْ المَحْجُوجِ عَنْهُ وَلِهَذَا لَا يَسْقُطُ بِهِ الفَرْضُ عَنْ المَأْمُورِ وَهُوَ الحَاجُّ. كَذَا فِي التَّبْيِينِ وَالأَفْضَلُ لِلإِنْسَانِ إذَا أَرَادَ أَنْ يُحِجَّ رَجُلًا عَنْ نَفْسِهِ أَنْ يُحِجَّ رَجُلًا قَدْ حَجَّ عَنْ نَفْسِهِ، وَمَعَ هَذَا لَوْ أَحَجَّ رَجُلًا لَمْ يَحُجَّ عَنْ نَفْسِهِ حَجَّةَ الإِسْلَامِ يَجُوزُ عِنْدَنَا وَسَقَطَ الحَجُّ عَنْ الآمِرِ. كَذَا فِي المُحِيطِ وَفِي الكَرْمَانِيِّ الأَفْضَلُ أَنْ يَكُونَ عَالِمًا بِطَرِيقِ الحَجِّ وَأَفْعَالِهِ، وَيَكُونَ حُرًّا عَاقِلًا بَالِغًا. كَذَا فِي غَايَةِ السُّرُوجِيِّ شَرْحِ الهِدَايَةِ
(الفتاوی الهندیة)/ج/٢/ص٣٥٠/

لنډ مطلب: حج الصروره هغه وخت کې جایزدی، چې لاندیني شرطونه پکې پوره شي الف: چې محجوج عنه ترپایه

دحج دکولو څخه عاجزاو دمال خاوند وي ،ب:عجزيې مستدام وي ،يعنې دفرضيت له وختــه تر مرينې پورې دوام وکړي ،ج دمحجوج عنه امر پکې شرط دی ، دخپل وارث نه علاوه بل څوک د محجوج عنه بې امره دده پر ځای حج نشي کولای ،د: داحرام پر وخت دمحجوج عنه لپاره نيت کول ، غوره داده چې په ژبه وواېي چې (لبيک عن فلان......ه:دمامور حج بايد دآمرپه پيسو سره وي ،و:حج بايد په سپرلۍ وکړي ،که دحج امر يې ورته وکړاوده پلی وکړ دپيسو ضمان به ورکوي...... اود مذهب مسئله داده ،چې څوک دبل چا لپاره حج کوي ،اصل حج دمحجوج عنه نه واقع کيږي ،نوځکه دمامورنه حج هم نه ساقطيږي ،نوښه داده چې څوک دځان پر ځای څوک حج ته ليږي، داسې څوک دې وليږي ،چې هغه يو ځل حج ځان ته کړی وي ،خو که بيا يې هم داسې څوک وليږه ،چې هغه پخپله حج نه وکړی ،زمونږ په مذهب کې صحيح ده او دآمر نه حج ساقط شو.

دحج عن الغير په باب دطرفينو دلايل

اسْتَدَلَّ الأَوَّلُونَ. بِمَا أَخْرَجَ أَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمِعَ رَجُلاً يَقُولُ: لَبَّيْكَ عَنْ شُبْرُمَةَ. قَالَ: مَنْ شُبْرُمَةُ؟ قَالَ: أَخٌ لِي، أَوْ قَرِيبٌ لِي. قَالَ: حَجَجْتَ عَنْ نَفْسِكَ؟ قَالَ: لا. قَالَ: حُجَّ عَنْ نَفْسِكَ، ثُمَّ حُجَّ عَنْ شُبْرُمَةَ". أخرجه أبو داود (2 / 403ـ تحقيق عزت عبيد دعاس) ، وابن ماجه (2 / 969ـ ط الحلبي) ، وأعل بالإرسال كما في التلخيص لابن حجر (2 / 221ـ ط شركة الطباعة الفنية) ثم ذكر له طريقا آخر قواه به .

ژباړه :شوافعو دسنن ابي داود او ابن ماجه) په هغه حديث استدلال کړی ، چې حضرت ابن عباس څخه روايت شوی ،چې رسول الله ﷺ له يوه کس څخه واوريدل ،چې ويل يې (لبيک عن شبرمه)نوده ﷺ ورته وفرمايل:چې شبرمه څوک دی؟ هغه سړي ورته وويل چې وروړمې دی، يا يې وويل چې خپلوان مې دی ،نورسول الله ﷺ ورته وفرميل چې آياتا دخپل ځان لپاره حج کړی ؟هغه سړي ورته وويل چې نه ،نوده ﷺ ورته وفرمايل چې لومړی دخپل ځان لپاره حج او بيا دشبرمه لپاره وکړه.

تشريح :لکه چې پورتنې عبارت کې ذکرشول ، د(شبرمه)دحج ددې حديث شريف په باب دتعليل بالارسال خبره خوددې طريق څخه په تلخيص کې حافظ ابن حجر رح وکړه ، اوامام طحاوي په(مشکل الاثار)کې داد (شبرمه) حديث په نورو سندونو شته ،چې امام طحاوي رح پکې داسې مقال کړی ، چې ددې په سند کې (عزره)راغلی او يحيى بن سعيد (صاحب الحديث) له عزره نه راضي نه و(والله تعالى اعلم بالصواب)((قال: حدثنا عبدة بن سليمان الكلابي ، عن سعيد ، عن قتادة ، عن عزرة ، عن سعيد بن جبير ، عن ابن عباس رضي الله عنهما أن رسول الله صلى الله عليه وسلم سمع رجلا يقول: لبيک عن شبرمة. قال: « من شبرمة ؟» قال: أخ أو قريب لي. قال: « هل حججت قط ؟» قال: لا. قال: « اجعل هذه عنک ، ثم احجج عن شبرمة »..... ثم اعتبرنا هذا الحديث وما روي سواه مما يدخل في هذا المعنى ، فوجدنا هذا الحديث إنما يدور على عزرة ، وعزرة هذا هو عزرة بن تميم ، وقد ذكر لي هارون بن محمد العسقلاني عن الغلابي قال: كان يحيى بن سعيد لا يرضى عزرة ، يعني صاحب هذا الحديث ، وموضع يحيى من هذا هو الموضع الذي لا مثل له فيه ، ثم اعتبرنا ما روي عن رسول الله صلى الله عليه وسلم في هذا المعنى سوى ذلک))(مشکل الاثار للطحاوي) والله اعلم

داحنافو دليل :وَاسْتَدَلَّ الْحَنَفِيَّةُ بِإِطْلاَقِ حَدِيثِ الْخَثْعَمِيَّةِ السَّابِقِ ، فَإِنَّهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَال لَهَا : (حُجِّي عَنْ أَبِيكِ) مِنْ غَيْرِ اسْتِخْبَارِهَا عَنْ حَجِّهَا لِنَفْسِهَا قَبْل ذَلِكَ ، وَتَرْكُ الاِسْتِفْصَال يَتَنَزَّل مَنْزِلَةَ عُمُومِ الْمَقَال .

ژباړه :احنافو په اطلاق د حديث د(خثعميه) سره استدلال کړی ،چې مخکې تير شو ،او رسول الله ﷺ ورته وفرمايل چې(......... له خپل پلار څخه دې حج وکړه)پرته لدې څخه چې ددې نه خبرترلاسه کړي ،چې آيا تا ددې څخه مخکې پخپله حج کړی که نه ،دلته چې تفصيل ترک شوی او ترک دتفصيل دعموم دمقال په منزله کې نازليږي)نودلته حديث شريف مطلق راغلی ،کوم داسې قيد پکې نشته ،چې لومړی ته حج وکړه او بيا يې دپلار لپاره وکړه.

دحج عن الغير دصحت دريم شرط

أ - يُشْتَرَطُ أَنْ يَأْمُرَ الأَصِيل بِالْحَجِّ عَنْهُ ، بِاتِّفَاقِ الْعُلَمَاءِ بِالنِّسْبَةِ لِلْحَيِّ .

أَمَّا المَيِّتُ فَلا يَجُوزُ حَجُّ الغَيْرِ عَنْهُ بِدُونِ وَصِيَّتِهِ عِنْدَ الحَنَفِيَّةِ وَالمَالِكِيَّةِ . (المسلك المتقسط ص 288 ، والدر بشرحه وحاشيته 2 / 328 ، والشرح الكبير 2 / 18 ـ 19 ، وإجزاء تبرع الأجنبي بحجة الفرض عمن لم يوص ، رواية مرجوحة عند الحنفية. انظر رد المحتار 2 / 328 ، 34 ، 37.)

وَاسْتَثْنَى الحَنَفِيَّةُ ، إِذَا حَجَّ أَوْ أَحَجَّ عَنْ مُوَرِّثِهِ بِغَيْرِ إِذْنِهِ فَإِنَّهُ يُجْزِيهِ ، وَتَبْرَأُ ذِمَّةُ المَيِّتِ إِنْ شَاءَ اللَّهُ تَعَالَى ، مُسْتَدِلِّينَ بِحَدِيثِ الخَثْعَمِيَّةِ ، فَإِنَّهُ لَمْ يُفَصِّلْ فِي حَقِّ السَّائِلِ هَلْ أَوْصَى أَوْ لَمْ يُوصِ ، وَهُوَ وَارِثٌ .

وَذَهَبَ الشَّافِعِيَّةُ وَالحَنَابِلَةُ إِلَى أَنَّهُ: مَنْ مَاتَ وَعَلَيْهِ حَجٌّ وَجَبَ الإِحْجَاجُ عَنْهُ مِنْ جَمِيعِ تَرِكَتِهِ ، سَوَاءٌ أَوْصَى بِهِ أَمْ لا ، كَمَا تُقْضَى مِنْهَا دُيُونُهُ سَوَاءٌ أَوْصَى بِهَا أَمْ لا . فَلَوْ لَمْ يَكُنْ لَهُ تَرِكَةٌ اسْتُحِبَّ لِوَارِثِهِ أَنْ يَحُجَّ عَنْهُ ، فَإِنْ حَجَّ عَنْهُ بِنَفْسِهِ أَوْ أَرْسَلَ مَنْ حَجَّ عَنْهُ سَقَطَ الحَجُّ عَنِ المَيِّتِ ، وَلَوْ حَجَّ عَنْهُ أَجْنَبِيٌّ جَازَ ، وَإِنْ لَمْ يَأْذَنْ لَهُ الوَارِثُ ، كَمَا يُقْضَى دَيْنُهُ بِغَيْرِ إِذْنِ الوَارِثِ (" شرح المنهاج بحاشيتي قليوبي وعميرة 2 / 90 ، والسياق منها ، والإيضاح مع حاشيته ص 209 ، والمجموع 7 / 78 ، والمغني 3 / 241 ، والفروع 3 / 249)

وَمَأْخَذُهُمْ تَشْبِيهُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الحَجَّ بِالدَّيْنِ ، فَأَجْرَوْا عَلَى قَضَاءِ الحَجِّ أَحْكَامَ الدُّيُونِ. فَإِذَا مَاتَ وَالحَجُّ فِي ذِمَّتِهِ يَجِبُ الإِحْجَاجُ عَنْهُ مِنْ رَأْسِ المَالِ وَلَوْ لَمْ يُوصِ ، وَهُوَ مُقَدَّمٌ عَلَى وَفَاءِ الدُّيُونِ ، عِنْدَ الشَّافِعِيَّةِ .

وَقَالَ الحَنَابِلَةُ: مَنْ ضَاقَ مَالُهُ وَكَانَ عَلَيْهِ دَيْنٌ يُحَاصُّ نَفَقَةُ الحَجِّ مِنَ الدَّيْنِ ، وَيُؤْخَذُ لِلْحَجِّ حِصَّتُهُ فَيُحَجُّ بِهَا مِنْ حَيْثُ تَبْلُغُ (. المغني 3 / 244 ، والفروع 3 / 251)

ب أَنْ تَكُونَ نَفَقَةُ الحَجِّ مِنْ مَالِ الآمِرِ كُلِّهَا أَوْ أَكْثَرِهَا عِنْدَ الحَنَفِيَّةِ ، سِوَى دَمِ القِرَانِ وَالتَّمَتُّعِ ، فَهُمَا عَلَى الحَاجِّ عِنْدَهُمْ. لَكِنْ إِذَا تَبَرَّعَ الوَارِثُ بِالحَجِّ عَنْ مُوَرِّثِهِ تَبْرَأُ ذِمَّةُ المَيِّتِ إِنْ لَمْ يَكُنْ أَوْصَى بِالإِحْجَاجِ عَنْهُ إِنْ شَاءَ اللَّهُ (رد المحتار 2 / 328 ، والتنوير وشروحه 2 / 338 ـ 339 ، وانظر المسلك المتقسط ص 289 ـ 290)

أَمَّا الشَّافِعِيَّةُ وَالحَنَابِلَةُ فَقَدْ أَجَازُوا أَنْ يَتَبَرَّعَ بِالحَجِّ عَنْ غَيْرِ المَيِّتِ مُطْلَقًا ، كَمَا يَجُوزُ أَنْ يَتَبَرَّعَ بِقَضَاءِ دَيْنِهِ (كما سبق إشارة لذلک في الشرط السابق ، وانظر الفروع 3 / 250 وفيه قوله: " تجوز النيابة بلا مال . ")

خلص مطلب :له پورتنيو عبارتونو څخه داسې نتيجه اخلوچي : دريم شرط دصحت دحج دادی، چې محجوج عنه به نايب ته امر کړی کړی وي ،چې دده له خوا حج وکړي ،دآمرپه ژوند کې دا شرط دټولو علماوو په اتفاق سره دی ،خو له مړيني وروسته يې احناف او مالکيان له وصيت پرته حج ناروا بولي ،البته احناف وايي چې وارث له خپل مورث نه دده په مړينه حج کولای شي او دا جا يز ده ددې اميد شته چې تری قبول شي ، خو شوافع او حنابله وايي، چې که اصيل ومړ اوده باندې حجة الاسلام فرض شوی و ،نو لازما به يې له مال متروکه څخه حج کولای شي .

دبل کس پر ځای نفلي حج

مَشْرُوعِيَّتُهُ :

-اتَّفَقَ الجُمْهُورُ عَلَى مَشْرُوعِيَّةِ حَجِّ النَّفْلِ عَنِ الغَيْرِ بِإِطْلاقٍ ، وَهُوَ مَذْهَبُ الحَنَفِيَّةِ وَأَحْمَدَ. وَأَجَازَهُ المَالِكِيَّةُ أَيْضًا مَعَ الكَرَاهَةِ فِيهِ وَفِي النِّيَابَةِ فِي الحَجِّ المَنْذُورِ .

(1)المسلک ص 293 ، والشرح الكبير 2 / 20 ، ومغني المحتاج 1 / 470 في إجارة العين ، وحاشية الإيضاح ص 121 ـ 122 ، والمجموع 7 / 203 .

(2)المسلک المتقسط ص 292 ، والشرح الكبير 2 / 16 ، والمجموع 7 / 114 ـ 115 ، والمغني 3 / 234 ـ 235 .

أَمَّا الشَّافِعِيَّةُ فَفَصَّلُوا وَقَالُوا : لا تَجُوزُ الاسْتِنَابَةُ فِي حَجِّ النَّفْلِ عَنْ حَيٍّ لَيْسَ بِمَعْضُوبٍ ، وَلا عَنْ مَيِّتٍ لَمْ يُوصِ بِهِ .

أَمَّا المَيِّتُ الَّذِي أَوْصَى بِهِ وَالحَيُّ المَعْضُوبُ إِذَا اسْتَأْجَرَ مَنْ يَحُجُّ عَنْهُ ، فَفِيهِ قَوْلانِ مَشْهُورَانِ لِلشَّافِعِيَّةِ :

أَصَحُّهُمَا الجَوَازُ ، وَأَنَّهُ يَسْتَحِقُّ الأُجْرَةَ .

وَالقَوْلُ الآخَرُ عَدَمُ الجَوَازِ ، لأَنَّهُ إِنَّمَا جَازَ الاسْتِنَابَةُ فِي الفَرْضِ لِلضَّرُورَةِ ، وَلا ضَرُورَةَ ، فَلَمْ تَجُزِ الاسْتِنَابَةُ فِيهِ ، كَالصَّحِيحِ ، وَيَقَعُ عَنِ الأَجِيرِ ، وَلا يَسْتَحِقُّ الأُجْرَةَ .

وَيَدُلُّ لِلجُمْهُورِ عَلَى صِحَّةِ حَجِّ النَّفْلِ عَنِ الغَيْرِ المُسْتَطِيعِ بِنَفْسِهِ أَنَّهَا حَجَّةٌ لا تَلْزَمُهُ بِنَفْسِهِ ، فَجَازَ أَنْ يَسْتَنِيبَ فِيهَا كَالمَعْضُوبِ .

وَلأَنَّهُ يُتَوَسَّعُ فِي النَّفْلِ مَا لا يُتَوَسَّعُ فِي الفَرْضِ ، فَإِذَا جَازَتِ النِّيَابَةُ فِي الفَرْضِ فَلأَنْ تَجُوزَ فِي النَّفْلِ أَوْلَى .

ژباړه او خلص مفهوم: جمهورو علماوو پدې اتفاق کړی ،چې نفلي حج دبل چا څخه مطلقا صحيح دی، همدا داحنافو ،امام احمد بن حنبل مذهب دی ،مالکيان يې له کراهت سره صحيح بولي ،شوافع پکې تفصيل کوي: دوئ وايي چې نفلي حج مطلقا ندی روا ،دژوندي شخص څخه هغه وخت روادی، چې مزمنه او داسې ناروغي ولري، چې له ځايه حرکت نشي کولای ،دمړه نه هغه وخت روا دی ،چې وصيت يې کړی وي ،که چيرته ژوندي ناروغه او بې ځواکه يا دمړه په وصيت څوک په کرايه يا اجاره دنفلي حج لپاره ونيسي ،دې کې دوه قوله دي، په اصح قول کې يې صحت دی او غير اصح کې يې عدم صحت دی ،شوافع وايي چې په فرضو کې خو دعذرله کبله دنيابت جواز و ،دلته داسې کوم مجبوريت نشته او جمهور علماو رته په دليل کې وايي ، يو خو دا چې په نفلو کې وسعت دی او بل دا داسې حج دی ،چې التزام پکې نشته، نو ځکه مطلقا پکې نيبت روا دی.

شُرُوطُهُ :

-يُشْتَرَطُ لِصِحَّةِ حَجِّ النَّفْلِ عَنِ الغَيْرِ :

الإِسْلامُ ، وَالعَقْلُ ، وَالتَّمْيِيزُ ، وَقَيَّدَهُ الحَنَفِيَّةُ بِالمُرَاهِقِ ، وَأَنْ يَكُونَ النَّائِبُ قَدْ حَجَّ الفَرْضَ عَنْ نَفْسِه ، وَلَيْسَ عَلَيْهِ حَجٌّ آخَرُ وَاجِبٌ ، وَذَلِكَ عِنْدَ الشَّافِعِيَّةِ وَالحَنَابِلَةِ كَمَا يُشْتَرَطُ نِيَّةُ الحَجِّ النَّائِبِ الحَجَّةَ عَنِ الأَصِيلِ(1 . (انظر بحث الحج النفل عن الغير في المسلک المتقسط ص 299 ، والمغني 3 / 230 ، والشرح الكبير وحاشية الدسوقي عليه 2 / 18 ، والمهذب وشرحه المجموع 7 / 92ـ94.)

خلص مفهوم: مخکې مو وويل چې داحنافو په نزد په نفلي حج کې نيابت مطلقا مشروع دی ،خو دشوافعو او حنابلو په مذهب کې مقيد جواز لري (نايب به پخپله حاجي وي)او دا نور شرطونه لکه اسلام ،عقل ،بلوغ غوندې يې سره ګډ دي ،خو په دومره توپير چې داد (تميز) هغه صفت يې احنافو په مراهق سره مقيد کړی دی.

دحج کولو لپاره څوک په اجاره نيول :

احناف ،اسحاق بن راهويه او دامام احمد په مشهور قول کې په حج عن الغير کې استئجار نا مشروع دی ،او شوافع دمالکيانو په ګډون وايي چې جايز دی، لاندينۍ عبارت کې وضاحت لري:

-ذَهَبَ أَبُو حَنِيفَةَ وَإِسْحَاقُ بْنُ رَاهَوَيْهِ وَهُوَ الأَشْهَرُ عَنْ أَحْمَدَ إِلَى أَنَّهُ لا يَجُوزُ الاسْتِئْجَارُ عَلَى الحَجِّ . (المسلک المتقسط ص 288 ، ورد المحتار 2 / 228ـ229 ، والمغني 3 / 231 ، والفروع 3 / 252 ، 2)

وَذَهَبَ الشَّافِعِيُّ إِلَى الجَوَازِ ، وَبِهِ أَخَذَ المَالِكِيَّةُ ، مُرَاعَاةً لِخِلافِ الشَّافِعِيَّةِ فِي جَوَازِ النِّيَابَةِ فِي حَجِّ النَّفْلِ(3 . (فَلَوْ عُقِدَتِ الإِجَارَةُ لِلحَجِّ عَنِ الغَيْرِ فَهِيَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ بَاطِلَةٌ ، لَكِنَّ الحَجَّةَ عَنِ الأَصِيلِ صَحِيحَةٌ ، عَلَى التَّحْقِيقِ فِي المَذْهَبِ ، وَيُسَمُّونَ الأَجِيرَ: مَأْمُورًا ، وَنَائِبًا ، وَقَالُوا لَهُ نَفَقَةُ المِثْلِ فِي مَالِ الأَصِيلِ ، لأَنَّهُ حَبَسَ نَفْسَهُ لِمَنْفَعَةِ الأَصِيلِ فَوَجَبَتْ نَفَقَتُهُ فِي مَالِه(4)

لنده ژباړه: په المسلک المستقط ،ردالمحتار المغني او الفروع کې ليکلي: چې داحنافو او په مشهور قول دامام احمد کې استئجار بالحج عن الغير نا روا دی ،او شوافع يې په جواز قايل دي ،همدې قول باندې مالکيان هم تمسک کوي ،که چيرته يې په استئجار بالحج عن الغير سره عقد وکړ، دامام ابوحنيفه رح په نزد دا عقد باطل دی ،خو دمذهب تحقيقي مسئله داده، چې حج له اصيل څخه صحيح دی ،او دوئ دې صورت کې دې اجير ته مامور او دنايب نوم اخلي او وايي چې دې نايب ته داصيل له مال څخه نفقه المثل اخستل صحيح ځکه ده، چې ده خپل نفس داصيل دمنفعت لپاره محبوس کړی و ،نو نفقه يې دده په مال کې واجب ده والله اعلم بالصواب

په کابل کې دعلماوو! په نامه دشوې غونډې اړه داسلامي امارت

غبرګون اودعلماوو فتوا

د کرزي اداري دخپلو بادارانو په لاربښوونه دخپل ځان دتبرې اوخلاصون لپاره دځينو هيوادنو ديني عالمان را غوښتي وو او په افغانستان کې يې دروان جهاد په اړه تيره ورځ په کابل کې خپل نظريات وړکړل ، په افغانستان کې يې جهاد عقيدوي جګړه نه بلکې دنورو موخو درلودونکي وبلله او يادونه يې وکړه چې دلته روان جهاد جهاد نه ده ، موږ په ټول درناوي چې دنړۍ ديني خيرو او عالمانو ته يې لرو ، په کابل کې راغونډو شوو عالمانو ته وايو چې متأسفانه تاسو په کاملې نا آګاهۍ سره خبرې کړي ، دافغانستان وضعيت او د روان جهاد پيل ته مو هيڅ نظر نه دی کړی او يا ممکن ورته پام شوي مو نه وي ، په ناخبرۍ سره حکم او يا د کابل لاسپوځې اداري په غوښتنه راټوليدل او خبرې کول تر ټولو وړاندې د راغونډو شوو عالمانو حيثيت او علمي مقام ته شديده صدمه واردوي چې موږ په هيڅ صورت هم نه غواړو چې دديني اشخاصو حيثيت دې د دسيسو ښکارشي ، موږ يادو عالمانو ته ورپه زړه کوو چې زموږ جهاد په پوره بصيرت او دخپلو جيدو ديني خيرو او زبده علماء کرامو دلارښونو او فتوا په ورکولو سره پيل شوي ده چې موږ نور له تاسو سره له خپلې خوا هيڅ دليل نه وايو بلکې داوسني جهاد دپيل لپاره دخپلو هغو ۱۲۰۰ديني عالمانو شرعي فتوا ستاسو مخ ته د دليل په توګه ږدو چې له واقعاتو پرده پورته کوي او دافغانستان دروان جهاد او مقاومت لپاره ليدلوري ، استقامت او شرعي حيثيت ښاکي ، همدا دلائل زموږ دمسلمان ولس دقناعت او ديني حجتيت لپاره کفايت کوي. کوم چې تاسو په خپلو خبرو کې يادونه کړې چې ګنې دلته جهاد عقيدوي جهاد نه بلکې دنورو موخو لپاره روانه جګړه ده !! موږ درنه غوښتنه کوو چې آياد داسې موخې هم په نړۍ کې شته چې يوڅوک دې يې لپاره له خپل حکومت ، منصب ، مقامونو ، سر، مال او ټول ژوند نه تيرشي؟ ، که وي نو په تاسوده چې دديني عالمانو په توګه يې راته په ګوته کړئ چې هغه هدف ماسوا له شرعي مکلفيت رفع کولو او عقيدوي بنسټ درلودلو نه بل څه کيدلای شي ؟

لاندي موږ تاسو ته د روان جهاد دپيل په اړه په افغانستان باندې دکفارو او دهغوی تر يرغل مخکې دخپلو ۱۲۰۰ ديني جيدو عالمانو فتوا چې دولس کاله مخکې يې صادره کړې دخپل دليل په توګه وړاندې کوو او دخپلو قربانيو او ستړياوو لپاره يې بالکل کافي بولو.

دافغانستان اسلامي امارت

۱۹/۱۱/۱۴۳۴هـ ق

۳/۷/۱۳۹۲هـ ش ـ 25/9/2013م

د افغانستان په پاک حريم د تيري په اړه د جيدو علماء کرامو شرعي فتوی او پرېکړه ليک

په کابل کې د ۳/۷/۱۴۲۲ هـ ق 2001 \ 9 \ 21م نېټې د علماء کرامو د سترې غونډې پرېکړه ليک او شرعي فتوی

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على أشرف الأنبياء والمرسلين محمد وعلى آله وأصحابه أجمعين. اما بعد: دا چې د افغانستان ملت همېشه د خپلو سترو مسئلو د حل لپاره علماء کرامو ته مراجعه کړې، علماء کرامو يې د مشکل د حل لپاره نه سترې کېدونکې هلې ځلې کړې، په او سني لويه پېښه کې چې افغانستان ته د امريکا له لورې د بريد خطر رامنځ ته شوی د افغانستان علماء د خپل درانه مسئوليت له مخې د مشکلاتو د حل لپاره د اسلامي دين په رڼا کې په لاندې ډول فتوی او فيصله صادروي:

۱ - د افغانستان علماء د امريکا د تلفاتو په اړه خفګان ښکاره کوي او د افغانستان علماء په دې هيله دي چې امريکا به په افغانستان حمله ونه کړي او د دغې پېښې په اړه دې له پوره زغم او دقت څخه کار واخلي او د موضوع په اړه دې پوره تحقيقات ترسره کړي.

۲ - د افغانستان علماء غوښتنه کوي، چې د امريکا دوروستيو پېښو په اړه دې ملګري ملتونه او اسلامي کانفرانس دقيقه پلټنه ترسره کړي، چې اصلي حقيقت معلوم شي او د بې ګناه خلکو د ځورولو مخه ونيول شي.

۳ - ملګري ملتونه او اسلامي کانفراس دې د امريکا د جمهور رئيس په دې خبره غور وکړي چې هغه ويلي دي چې دا جنګ به صليبي جګړه وي، دغې خبرې د ټولې نړۍ مسلمانان په احساساتو راوستلي او نړۍ يې له يوې لويې خطرې سره مخامخ کړې ده.

۴ - د دې لپاره چې دا وسني جنجال مخه ونيول شي او هم په آينده کې د دا ډول پېښو په صورت کې بدګوماني رامنځته نه شي، د علماء کرامو دغه ستره شوری اسلامي امارت ته سپارښتنه کوي، چې اسامه بن لادن تشويق کړی ترڅو په ممکنه وخت کې په خپله خوښه له افغانستان څخه ووزي او د ځان لپاره کوم بل ځای انتخاب کړي.

که د پورته پرېکړو په رڼا کې بيا هم امريکا قناعت ونه کړي او په افغانستان باندې حمله وکړي د مقدس شريعت په رڼا کې يې حکم په لاندې ډول بيانيږي.

لومړی:

زمونږ د فقهي کتابونه ليکي چې که چېرته کافران د مسلمانانو د کوم هېواد د خاورې په حريم باندې حمله وکړي د هغه هېواد په مسلمانانو جهاد فرض ګرځي او د قرآن کريم اياتونه او احاديث مبارکه او د فقهي ټول کتابونه مسلمانانو ته د جهاد امر کوي:

لومړی آياتونه:

۱ـ ﴿يَاأَيُّهَا الذِينَ ءَامَنُوا قَاتِلُوا الذِينَ يَلُونَكُمْ مِنَ الكُفَّارِ وَلْيَجِدُوا فِيكُمْ غِلْظَةً وَاعْلَمُوا أَنَّ اللهَ مَعَ المُتَّقِينَ﴾ [التوبة: ۱۲۳].

ترجمه: ای هاغو کسانو چې ايمان مو راوړی دی! جنګ کوئ تاسې له هغو کسانو سره چې نږدې وي تاسو ته له کفارو او ودې مومي دوئ په تاسې کې کلکوالی او پوه شئ چې الله تعالی د پرهېزګارانو سره دی.

۲ـ ﴿وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللهِ الذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ﴾[البقرة: ۱۹۰].

ترجمه: جنګ کوئ په لاره د الله کې د هغو کسانو سره چې جنګ کوي له تاسې سره.

٣. ﴿وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لاَ تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ﴾[الانفال: ٣٩].

ترجمه: او وجنګېږئ له دغو کفارو سره تر هغه پورې چې پاتې نه شي فتنه او شي دین ټول خاص الله - جل جلاله - لره.

٤- ﴿أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا وَإِنَّ اللَّهَ عَلَى نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ﴾[الحج: ٣٩].

ترجمه: حکم ورکړی شوی دی هغو کسانو ته چې جنګ ورسره کاوه شي په دې سبب چې بېشکه په دوئ ظلم شوی دی او بېشکه چې الله په مرسته د دوئ خامخا قادر دی.

٥- ﴿كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَكُمْ وَعَسَى أَنْ تَكْرَهُوا شَيْئًا وَهُوَ خَيْرٌ لَكُمْ وَعَسَى أَنْ تُحِبُّوا شَيْئًا وَهُوَ شَرٌّ لَكُمْ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ﴾ [البقرة: ٢١٢].

ترجمه: فرض کړی شوي پر تاسې باندې جنګ کول حال دا چې دغه بد ښکاري تاسې ته او ښايي چې بد ګڼئ تاسې یو شی حال دا چې هغه ډېر بهتر وی تاسې لره او ښايي چې ښه وګڼئ تاسې یو شی حال دا چې هغه به ډېر بد وي تاسې ته او الله عالم دی تاسې نه پوهېږئ.

دوهم حدیثونه:

١. وَعَنْ أَنَسِ بنِ مالِكٍ رضي الله عنه، قالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «جَاهِدُوا الْمُشْرِكِينَ بِأَمْوالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ وَأَلْسِنَتِكُمْ» [رواه ابو داؤد ٢/٣٢ والنسائي ٦/٧ والحاكم ٢/٨١].

ترجمه: د انس بن مالک رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: جهاد وکړئ مؤمنانو د مشرکانو سره په مالونو، نفسونو او په ژبو سره.

٢. عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُما قالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِذَا تَبَايَعْتُمْ بِالعِينَةِ، وَأَخَذْتُمْ أَذْنَابَ البَقَرِ، وَرَضِيتُمْ بِالزَّرْعِ، وَتَرَكْتُمُ الجِهَادَ، سَلَّطَ اللهُ عَلَيْكُمْ ذُلًّا لَا يَنْزِعُهُ حَتَّى تَرْجِعُوا إِلَى دِينِكُمْ» [رواه ابو داؤد ٣/٧٧].

ترجمه: د عبد الله بن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیم وسلم فرمایلي: کله چې تاسو اخستل، خرڅول، شروع کړئ، په عینې سره (بیعه د عینې دې ته وايي: چې یو انسان څه شی په انسان خرڅ کړي په معلومو روپو سره تر معلومې نېټې پورې بیا بېرته دا خرڅوونکی د دې اخستونکي څخه دغه شی واخلی په کمو روپو سره په نقدو) او تاسې ونیولې لکۍ د غوایانو او راضي شوئ په کرهنه او جهاد مو پرېښود، رابه ولي الله پاک په تاسې ذلت او سپکوالی، دا به ستاسو څخه الله تعالی نه لرې کوي تر هغه پورې چې تاسې راجع شئ خپل دین ته.

دریم د فقهاؤ رحمهم الله اقوال:

١ـ وفي المبسوط للإمام السرخسي (١٠/٢): ثم أمر رسو الله صلى الله وسلم بالقتال إذا كانت البداية منهم فقال تعالى ﴿أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا﴾ [الحج / ٣٩] أي: أذن لهم في الدفع وقال تعالى ﴿فَإِنْ قَاتَلُوكُمْ فَاقْتُلُوهُمْ﴾ [البقرة: ١٩١] وقال تعالى ﴿وَإِنْ جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا﴾ [الأنفال: ٦١] ثم أمر بالبداية بالقتال فقال تعالى ﴿وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ﴾ [البقرة: ١٩٧] وقل تعالى ﴿فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدْتُمُوهُمْ﴾ [التوبة: ٥] وقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «أمرت أن أقاتل الناس حتىيقولوا: لا إله إلا الله».

ترجمه: امام سرخسي رحمه الله په مبسوط کې ذکر کړي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم بیا امر وکړ په جنګ سره کله چې د مشرکانو له طرفه جنګ شروع کړی شي الله تعالی فرمایلي حکم ورکړی شوی هغو مسلمانانو ته چې جنګ ورسره کیږي په سبب ددې چې بېشکه په دوئ ظلم شوی دی. یعنې دوئ ته حکم ورکړی شوی دی په دفاع کولو سره. او الله تعالی فرمایلي دي که چېرې کافران تاسو سره جنګ کوي نو تاسو هم د دوئ سره جنګ وکړئ او الله تعالی جل جلا له- فرمایي که دوئ رجوع صلحې ته وکړي نو ته هم رجوع صلحې ته وکړه. بیا نبی صلی الله علیه وسلم حکم وکړ د جنګ په شروع کولو سره، پس الله تعالی فرمایي: وجنګېږئ له دغو کافرانو سره ترهغې چې فتنه پاتې نه شي او الله تعلی فرمایلي: پس وژنئ تاسې مشرکان په کوم ځای کې چې دوئ وموميئ. او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: امر شوی دی ماته د الله تعلی له طرفه چې د کافرانو سره جنګ وکړم ترهغې چې دوئ لا إله إلا الله ووایي.

۲ـ وَفي الهندية (۲/۸۸) وَعَامَّة المَشَايخ رحمهم الله تعالى قالوا: الجِهادُ فَرضٌ عَلى كُلِّ حَالٍ غَيرَ أنَّهُ قَبلَ النَّفيرِ فَرضُ كِفَايَةٍ وَبَعدَ النَّفيرِ يَصيرُ فَرضَ عَينٍ وَهُوَ الصَّحِيحُ. وَمَعنَى النَّفيرِ أنْ يُخبَرَ أهْلَ المَدينَةِ أنّ العَدُوّ قَدْ جَاءَ يُرِيدُ أنْفُسَكُمْ وَذَرَارِيكُمْ وَأمْوَالكُمْ فإذَا أُخبِرُوا عَلَى هَذَا الوَجْهِ افْتَرَضَ عَلَى كُلِّ مَنْ قَدَرَ عَلَى الجِهَادِ مِنْ أهْلِ تِلكَ البَلدَةِ أنْ يَخرُجُوا لِلجِهَادِ وَقَبلَ هَذَا الخَبَرِ كَانُوا فِي سَعَةٍ أنْلَا يَخرُجُوا.

ترجمه: په فتاوی هندیه کې ذکر دي چې عامو مشائخو رحمهم الله ویلي چې جهاد فرض دی په هر حال کې خو د عام نفیر نه وړاندې فرض کفائي دی او وروسته د عام نفیر نه فرض عین ګرځي او دا صحیح خبره ده.

د عام نفیر معنی دا ده چې د یوې منطقې او ښار خلکو ته خبر ورکړی شي چې دښمن راغلی او د ضرر اراده لري، ستاسې د نفسونو اولادونو او مالونو په رابطه، نو کله چې خبر ورکړی شي هغه چا ته چې په جهاد قادر وي، د دې ښار او منطقې د اوسېدونکو نه چې جهاد ته ووځي او وړاندې د دې خبرې د ده لپاره روا دي چې جهاد ته ونه ځي.

دوهم:

که کفار په کوم اسلامي هیواد تجاوز وکړي او هغه هیواد تنها د مقابلې توان ونه لري د نړۍ په ټولو مسلمانانو جهاد فرض عین ګرځي:

۱ـ في رد المختار (۲/۲۰۱ طبع جدید) (والهندیة ۲/۱۸۸) قالَ أبُو الحَسَنِ الكَرْخِي فِي مُختَصَرِه: وَلا يَنْبَغِي أن يُخلي ثَغرٌ مِن ثُغُورِ المسلمين ممن يقاوم العدوّ فِي قِتَالِهِم وَإنْ ضَعُفَ أهْلَ ثُغرٍ مِن الثغورِ عَنِ المقاومةِ وَخِيفَ عليهم فعلي مَن وراءَهم من المسلمين أن ينفروا إليهم الأقربُ فالأقربُ وأن يُمِدُّوهم بالكرَاعِ وَالسّلاحِ لِيَكُونَ الجهاد، أبدًا قائمًا كذا في المحيط.

ترجمه په ردالمحتار کې ذکر دي چې ابوالحسن الکرخي په خپل مختصر کې ویلي، د مسلمانانو لپاره مناسبه نه ده چې د هغو سرحداتو له جملې چې هلته له کفارو سره مقاومت کیږي کوم سرحد خالي کړي، او که چیرې د دې سرحداتو مسلمانان د کفارو په دفعه کې کمزوري شي نو په هغو مسلمانانو چې دوئ ته نږدې دي فرض ده چې مرستې ته ورشي او که هغه هم کمزوري شول نو هغوی ته په ورنږدې نورو فرض دی همداسې الاقرب فالاقرب په دوئ لازمه ده چې د جهاد د دوام لپاره د مجاهدینو مرسته وکړي، دا مضمون په محیط کې هم ذکر دی.

۲ـ وفي الهندية (۱۸۸-۲) ثُمّ بَعد مَجِيْ النّفير العام لا يفترض الجهاد على جميع أهل الإسلام شَرقًا وغربًا فَرْض عَين وإن بلغهم النفير وإنّما يَفرُضُ مَنْ كان بقربمنَ العَدُوّ وَهُمْ يَقدِرُونَ عَلَى الجهادِ وَإمّا عَلى مَا وَرَاءَهُمْ مِمّنْ يَبْعُدُ العَدُوّ فإنهُ يَفْتَرِضُ فَرضُ كِفاية لا فرض عين حتّى يسعَهم تركُه فإذا احْتيجَ إليهم بأن عَجَزَمَنْ كان بقرب العدوّ عن المقاومة مع العدوِّ أو تكاسلوا ولم يجاهدوا فإنه يفترض على من يليهم فرض عين ثمّ وثمّ إلى أن يفرض على جميع أهل الأرض شرقاً وغرباً على هذا الترتيب.

ترجمه: په فتاوی هنديه کې ذکر دي: پس د ثابتېدو د عام نفير نه جهاد عينا نه فرض کېږي په ټول اهل اسلام باندې د مشرق نه تر مغرب پورې اګر که رسېدلی وي دوئ ته ثبوت د عام نفير: په تحقيق سره جهاد فرض کېږي په هغه چا چې دښمن ته نژدې دي او دوئ قادر په جهاد وي او په هغه نورو مسلمانانو چې دښمن څخه لرې وي، په دوئ جهاد فرض کفايي دی، نه فرض عين، تردې چې د دوئ لپاره جائز دي چې جهاد پرېږدي او کله چې دې لرې مسلمانانو ته ضرورت پيدا شو، په داسې شان سره چې دښمن ته نژدې مسلمانان د مقابلې نه عاجز شي او يا سستي وکړی شي او جهاد يې پرېښود نو بيا جهاد په هغه چا فرض عين دی چې دښمن ته نژدې وي په ترتيب سره، تردې چې جهاد به فرض عين شي، په ټولو مسلمانانو د مشرق نه تر مغرب پورې په دې ترتيب سره.

۳ـ في رد المختار (۲/۲۰۱) قُلتُ وَحَاصِلُهُ أنّ كُلّ مَوْضع خيفَ هُجُومُ العَدُوّ منهُ فُرضَ عَلَى الإمَام أوْ عَلى أهْلِ ذلكَ المَوْضع حفظَهُ وَإنْ لمْ يَقْدرُوا فُرضَ عَلى الأقْرَبِ إليهِمْ إعَانَتُهُمْ إلى حُصُولِ الكِفَايَة بِمُقَاوَمَة العَدُوّ.

ترجمه: په رد المختار کې ذکر دي: زه وايم چې حاصل دا دی چې هر هغه ځای چې په هغه باندې د دښمن د تجاوز او حملې ويره وي نو په امير د وخت او يا په او سېدونکو د دې ځای ساتنه د دې ځای فرض ده او که او سېدونکي د دې ځای په ساتنه قادر نه شي نو په نژدې خلکو فرض دی امداد د دوئ ترهغې چې د دښمن د مقاومت لپاره کفايت او پوره والی ثابت شي.

دريم:

که چېرته کفار د مسلمانانو د خاورې په حريم باندې حمله وکړي نو د ضرورت په وخت کې مسلمانان له اسلامي او غير اسلامي حکومتونو څخه مرسته غوښتلی شي خو په دې شرط چې د اسلام احکام به غالب او ښکاره وي لکه چې زمونږ د فقهې کتابونه ليکي:

وفي إعلاء السنن (۱۲/۵۸) نقلاً عن شرح سير الكبير (۳/۱۸۲) ولا بأس بأن يَستعين المسلمونَ بأهلِ الشّرك عَلى أهلِ الشّرك إذا كانحُكمُ الإسلام هو الظاهر عليهم، لأنّ رسول الله صلى الله عليه وسلم استعان بيهود بنيقينقاع على بني قريظة، وخرج صفوان مع النبي صلى الله عليه وسلم حتى شَهِدَ حُنَيناً والطائف وهو مُشْرِكٌ، فعَرَفْنَا أنَهُ لا بأسَ بالاستعانة بهم، وما ذلك إلا نظير الاستعانةبالكلاب عَلى المشركين وَإلى ذلك أشَارَ رَسول الله بقولِه إنّ اللهَ ليُؤَيّدُ هَذا الدّينَ بأقوام لا خلاقَ لهُمْ في الآخرة (طبراني).

قُلتُ وَعبارةُ شرحِ السير تُفيد جَوازَ الاستعانة بالكفّارِ إذا كانَ حُكمُ الإسلام هُوَ الظّاهِرُ سَواءٌ كَانوا مُشرِكينَ أو أهلُ الكتاب.

ترجمه: د اعلاء السنن مصنف په خپل کتاب کې د شرح السير الكبير څخه دا رنګې رانقلوي: او باک نشته په دې کې چې مسلمانان امداد وغواړي د مشرکانو په

مقابله کې کله چې د اسلام حکم ظاهر او غالب وي په کافرانو، ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم، د یهودو دبني قینقاع نه امداد غوښتی وه په مقابله د بنو قریظه ؤ کې، صفوان د نبی علیه السلام سره ووت تردې چې د حنین او طائف په جنګ کې حاضر وو او حال دا چې صفوان مشرک وو، نو مونږ ته معلومه شوه چې باک نشته په دې کې چې د دوی څخه امداد وغوښتل شي د کافرانو په ختمولو کې او ددې مثال داسې دی لکه د سپو څخه استفاده وشي د کفارو په ختمولو کې او دې ته نبی کریم علیه السلام اشاره کړې په دې وینا سره چې الله تعالی د دین امداد کوي په داسې خلکو سره چې آخرت کې یې هیڅ حصه نه وي



د اعلاء السنن مصنف وایي چې: د شرح السیر الکبیر د عبارت نه د کافرانو نه د امداد غوښتلو روا والی معلومېږي کله چې د اسلام حکم غالب وي په کافرانو باندې، برابره خبره ده که دغه کافران مشرکان وي او که اهل کتاب وي.

څلورم:

که د امریکې د عملیاتو په وخت کې کوم مسلمانان هغه که افغانان او یا غیر افغانان وي له کفارو سره همکار شي معاونت او جاسوسي ورته وکړي، هغه کس هم د خارجي متجاوزینو حکم لري او واجب القتل ګرځي. لکه چې رد المختار او درالمختار د دریم ټوک په ۱۹۸ مخ کې دغه مسئله ذکر کړې ده. و الله سبحانه وتعالی اعلم

ایا نړۍ ددریم نړیوال جنګ په لور درومي ؟

(سجاد)

اوس مهال د پرمختللي ټیکنالوجۍ اودمیډیا د ازادۍ په وجه ګردي نړۍ دیوه کلي بڼه موندلې ده ، که دهر کوم هېواد په کوم کونج اوکنار کې څه پېښه وشي ،سملاسي په څو دقیقو اوثانیو کې میډیا دهغې خبرنړۍ ته رسوي ، تردې چې نن سبا دنړۍ دزیاتروحکومتونو چارواکي اړشوي چې دا اعتراف وکړي ، چې میډیا دومره وړاندې هم پرېښودل پکارندي ،چې هغه دې دیو هېواد حساس ملي ارزښتونه دبحثونو لپاره موضوع وګرځوي.

په هرصورت څو اوونۍ وړاندې دهمدې میډیا له لارې نړیوال خبرشول چې دروسي ولسمشر ولادي میر پوتین ګواښنه کړې که امریکې په سوریې باندې برید وکړ دوئ به یې په ځواب اوغبرګون کې په سعودي عربستان حمله وکړي . چې ټول تفصیل یې په دې لاندې راپور کې داسې راغلی دی:

ددمشق ، ماسکو او واشنګټن خبري چینلونو په استناد دروسي ولسمشر ولادي میرپوتین خپل پوځ ته په سوریه دامریکې داحتمالي دبرید په ځواب کې په سعودي عربستان دحملې حکم ورکړ ، ددې حکم وروسته دروسیې ددفاع وزارت په دې اړه په پوځ دځانګړو بیړنیو تمریناتو دسرته رسولو لارښود پاتې اومهال ویشونه وویشل ، ددې پخلې د کریملن له لوري هم شوی چې دروسي پوځ ته دبیړنیو تمریناتو مهال ویشونه ورکړل شوي ، چې ورته پرپام په سعودي عربستان باندې یې پوځ ته دحملې حکم کړی دی، روسیي یو واربیا خپل پخوانی دریځ حرګند کړی چې سوریه کې کیمیاوي وسلې دسوریې پوځ نه بلکې باغیانو کارولي !! دسوریې لپاره دملګرولتونو خاص استازي اخضر ابراهیمي سره دتیلفون له لارې خبرو کې لاوروف ویلي:امریکې ته پکاردي چې دسوریې په ضد له پوځي ګام پورته کولو ډډه وکړي ، بل لورته امریکا هم دسوریې پرضد ګام پورته کولو ته حتمي بڼه ورکړې ده ، دامریکا څلورمه سمندري بېړۍ سیمې ته رسیدلې ، دامریکا ولسمشر اوباما دبرتانیې له صدراعظم دیوډ کیمرون سره دتیلفون له لارې دسوریې په روانه وضعیت غږیدلی دملګرو ملتونو ستر سکرتر بانکي مون ویلي :دامنیت شورې دمنظورۍ پرته په سوریه دحملې اجازه به ورنکړای شي ، په همدې منځ کې دسوریې دحکومت مخالفانو دعوه کړې چې دهېواد په شمال کې یې مهم ښارونه نیولي دي ، داروپا یې هېوادو سفیرانو دسوریې اپوزیسیون ته پیغام لیږلی دی چې غربي ائتلاف په نیږدې ورځو کې په سوریه باندې دبرید کولو اراده لري، په هیګ کې دوینا کولو پرمهال بانکي مون ویلي: مونږ په سوریه کې دستونزو دحل په موخه ټولې خواوې دمزاکراتو میزته راوستل غواړو ،دامنیت شورې ټول غړي هېوادونه باید سره یو شي اوهلته دامنیت راتلو لپاره خپل اثرو رسوخ وکاروي !

په سوريه كې مخالفانو دبشار لاسد له پوځ نه مختلف شمالي ښارونه اوسيمې نيولې دي ،اوبكې يې له ۵۰څخه زيات پوځيان وژلي دي په حمص ،حمه،اودمشق كې جنګونه شوي ،چېرې چې په ښكاره اوڅرګنده توګه مخالفان په حكومت باندې دكيمياوي وسلو تورپورې كوي ، دملګرو ملتونو څارونكي دسوريې دهغو سيمو دكتلو لپاره لاړدي په كومو سيمو كې چې دناقانونه وسلو دكارولو شك كېږي ،دسوريې صدراعظم "وايل الحلقي " ويلي:كه په دوئ بريد وشو نوسوريه به ديرغلګرو لپاره قبرستان شي ، دايران مذهبي مشرآيت الله خامنه اي هم ويلي:كه امريكي په سوريه باندې وكړي ،نوټوله سيمه به تباه شي دفرانسې ولسمشر دسوريې په ضد دپوځي بريد ملاتړ كړى دى ، دناټو مشر ؤفوګ راسموسن " ويلي:دكيمياوي وسلو كارولو ځواب سوريې ته وركول پكاردي هم دا راز دممكنه حملي له امله عراق هم خپلو ځواكونو ته دتيارسۍ حكم كړى دى

اوس داچې دروسي دولسمشر دوينا په اړه خپاره شوي راپورونه څومره رښتيني او حقيقت لري ؟دابه راتلونكي وښيي ، البته د "الكفر ملة واحدة "اصل ته په پام سره دنړۍ ټول كافران خپلو كې دا سلام اومسلمانانو ددښمنۍ په اړه يودي، له دې وجې كه امريكا په سوريه باندې بريد كوي نو دا به دسوريې له خلكو سره دامريكا همدردي او له هغوئ نه دظلمونو راج لري كولو موخه ونلري ،بلكې ددې لپاره چې سوريه يو اسلامي هېواد دى امريكا غواړي دعراق ، افغانستان او ليبيا وروسته ددغه اسلامي هېواد ارضي تماميت اشغال اوپه شتمنيو يې خيټه واچوي له دې وجې دكيمياوي غازو دكارولو په پلمه غواړي مسلمانان په يوبل نه پاى لرونكي ناورين كې ښكېل كړي ، او دروسيې له لوري دسوريې دظالم رژيم دژغورلو په بهانه په سعودي عربستان دبريد ګواښ هم دروسانو اسلام دښمنه عزايم ښكاره كوي، نوپه لويه كې دغه دواړه بريدونه دسلام اومسلمانانو خلاف دي ، اوددواړو په ترڅ كې به يواځې مسلمانان زيانمن كېږي ، هم دا راز ددواړو لګښتونه به هم له مسلمانانو اخلي اودا هغه داسلام دښمنو ځواكونو دپلانو اودسيسو هغه سپيرې پايلې دي چې له امله يې مسلمانان نن ورځ پخپلو منځو كې سره لاس اوګريوان دي.

له دې وجې اړتياده چې پخپله مسلمانان ددې جنګ بدو عواقبوته پام وكړي اوځانونه تري څنډې ته كړي ، خپلمنځي ستونزي اومشكلات بايد له يوبل سره په ناسته اوخبرو حل كړي، كنه دنړۍ ټولو كافرانو دمسلمانانو دخپل منځي اختلافونو او له ستونزو په استفاده دمسلمانانو دنابودولو شريک هود كړى دى

پكار خو داوه چې دټولو اسلامي هېوادوچارواكي په يوځاى ناست واى اوټولو په يو غږ په هغو هېوادونو كې چې جنګونو كې ښكېل دي ، واكمن اوخلک يې دجنګونو په پاى ته رسولو قانع كړي واى اوپه دې يې پوي كړي واى چې ددې جنګونو تاوان دبل چا لپاره نشته بلكې پخپله ددوئ لپاره ملاماتونكي دي اوهم يې دامريكا او روس په ګډون ټولو كفري هېوادو ته غاښ ماتوونكى ځواب وا يلى واى ،كوم چې داسلام اومسلمانانو پرضد ناوړه عزايم لري ، اودا يې په ثبوت رسولي وه چې مسلمانان ديوه تن په څېر دي ، كه دهرهېواد لخوا پر كوم اسلامي هيواد بريد وشو په وړاندې به يې ټول اسلامي هېوادونه پورته كېږي اوورته په ګډه به غاښ ماتوونكى ځواب وركوي

په ځانګړي توګه په سعودي عربستان دروسيې لخوا دبريد دګواښ په وړاندې سخت اوشديد غبرګون ښودل پكارو ،اوروس بايد په دې پوى شي چې په

سعودي عربستان بريد به ورته د بر درونډ پريوزي ، آن تردې چې دروسي نوم به دنړۍ له نقشې هم ورک شي

ديته په پام سره دنړۍ د اسلامي هيوادو واکمن دې دمسلمانانو په اوسني ځورونکي حالت غور وکړي اودکافرانو دشومو پلانونو په وړاندې بايد يوځواک شي ، په دې سربيره ټول اسلامي هيوادو کې داسلامي قوانينو پلي کولو ته لومړيتوب ورکړي ، دمسلمانانو وسايل اوشتمنۍ دې بيرته دمسلمانانو دخير ، سوکالۍ اوفلاح لپاره ولګوي ، کافرانو ته دې په لاس نه ورکوي چې هغوئ بيرته ددوئ پر خلاف وکاروي ،هم داراز له کافرانو سره دې دهرډول تعاون اومرستو ډډه وکړي ،له هغوئ څخه دځانو لپاره مرستي اوکومکونه غواړي، ولې چې داسلامي لارښوونو له مخې دغه دواړه کاره کول ناروا دي څنګه چې په احد غزوه کې له يهودي جنګياليو څخه دمرستي غوښتو څخه رسول الله (ﷺ) منع کړي وه:

په مجمع الزوايد کې روايت دی:

عن أبی حميد الساعدی آن النبی ﷺ خرج يوم أحد حتی إذا جاوز ثنية الوداع فاذا هو بکتيبة خشناء قفال: من هؤلاء؟قالوا: عبد الله بن أبی فی ستمائة من مواليه من اليهود من بنی قنيقاع فقال:وقد اسلموا ؟ قالوا:لايارسول الله ! قال:مروهم فليرجعوا فانا لانستيعين بالمشرکين علی المشرکين (مجمع الزوائد ۵ټوک ۳۹۳مخ دحديث شمېره ۹۵۷۱)

له حضرت ابوحميد ساعدي (رض) روايت دی چې داحد په ورځ رسول الله (ﷺ) له مديني طيبي ووت کله چې "ثنية الوداع "ته ورسيد هلته يې يولښکروليد ، رسول الله (ﷺ) وپوښتل داڅوک دي ؟صحابه وو عرض وکړ چې عبد الله بن أبی دی ، دبني قنيقاع قبيلي له شپږ سوه يهودي حليفانو سره يوځای روان دی ، رسول الله (ﷺ) وپوښتل:ايا دوئ مسلمانان شوي ؟صحابه وو عرض وکړ:دالله (ﷺ) رسوله ندي مسلمانان شوي !رسول الله (ﷺ) ورته وفرمايل:ورشئ هغوئ ته ووايئ چې بيرته لاړشئ ولې مونږ دمشرکانو په خلاف له مشرکانو مرسته نه اخلو !

هم داشان که په هر اسلامي هېواد باندې کافران حمله وکړي اويا وړباندې دحملې اراده ولري دنړۍ ټولو مسلمانو واکمنو اوخلکو ته پکاردي چې هغوئ پخپلو ځانو حمله وګڼي وبايد ددفاع لپاره يې پورته شي ، څنګه چې حضرت معاويه (رض) يوه عيسايي پاچاته ځواب ورکړ:

والله لئن لم تنته وترجع الی بلادک يالعين ! لأ صطلحن أنا اوبن عمی عليک ولأخرجن من جميع بلادک ولأضيقن عليک الارض بما رحبت ، فعند ذلک خاف ملک الروم وانکف وبعث يطلب الهدنة (البدايه والنهايه ۸ټوک ۱۱۹مخ)

په الله سوګند ! که ته لاس په سرنشوي اوبيرته خپل وطن ته دې ستون نشوي نو اې ملعونه ! زه اوځما دکاکاځوی (حضرت علی رض) به ستا په خلاف سوله وکړو اوزه به تا له خپلو سيمو وباسمه ، اوزمکه به دړباندې تنګه کړم ، په دې درم پاچا وډار شو اودسولي لپاره يې امير معاويه (رض) ته استازي راوليږل

که نن هم دټولو اسلامي واکمن پخپلو منځو کې سره متحد اويوشي اوپه يوه سياسي مرکزيت باندې يوځای شي اودخپلو ټولو ستونزو دحلولو لپاره ددغه مرکزيت څخه ديوې مؤثري مرجع په حيث کاروا خلي ، ټول په ګډه ديوبل په درد دردمن اوپه خوښيو يې خوښمن شي نوهغه ورځ لري نده چې دکافرانو ټول شوم پلانونه خنثی او دنړۍ مسلمان ولسونه تري نجات ومومي !

دپنجشیر له غازي سره مرکه

ماځنګه دافغاني عیسایانو مشر وواژه

درنولوستونکو ! داځل مو دهغه یوتن مجاهد طالب سره چې څوکاله وراندې يي دپنجشیرپه ولایت کې دمرتدو عیسویانو یومشر وژلی او تراوږدحبس وروسته راخوشې شوی دی ،مرکه کړې چې ټکي په ټکي يي ستاسو مخ ته ږدو.

سوال :

محترمه ! که ترهرڅه مخکې ګرانولوستونکوته ځان معرفي کړئ مهرباني به مووي.

جواب :

زمانوم عبدالحمیددکندهارولایت اوسیدونکی اوددې ولایت دیوه مشهورعالم مولوی عبدالله(ذاکري) مشرزوی یم اوپنځه کاله دامارت په وخت کې په پنجشیرکې بندی وم اودوه کاله اودرې میاشتې مې اوس دکرزي په دوره کې دعیسویانودیوه مشرد قتل په تورد پنجشیرپه زندان کې تیرکړل چې اوس څه موده مخکې دراکول شوي حبس وروسته خوشې شوم.

سوال :

که داراته وواياست چې دعیسویانود مشرد وژلو قصداواراده موڅنګه وکړه که په دې هکله څه تفصیلات ورکړې اوپه قتل يي څنګه کامیابه شوې ؟

جواب :

زه په 1385/3/5هش دپاکستان دکویټې ښارڅخه دپیښوربښاردمولوی حسن جان صاحب مدرسې ته ددستاربندیودمراسمولپاره روان شوم چې دوه ورونه(عبدالقیوم ذاکري اوعبدالاحدذاکري)مې هلته اوسیده.

ددستاربندیوترمراسمووروسته کویټې ته دبیرته تګ لاره بنده شوه ځکه په دې وخت کې دبلوچستان په صوبه کې ددې صوبې ترټولوغټ مشر اکبربګټي دپاکستان دحکومت له خواپه یوه جګړه کې ووژل شو.

داکبربګټي ترمرګ سمدستي وروسته داحتجاج په توګه بلوڅانوترڅه مظاهرات پیل کړل چې په نتیجه کې دپښوراوکویټې ترمینځ غزیدلې لاره بنده شوه.

نودغه وخت ما اراده وکړه چې دکابل له لارې کویټې ته لاړشم.

په سهار کې مې د پېښور څخه د کابل په لور حرکت وکړ، په کابل کې مې شپه دیوه ملګري نعمت الله سره چې اصلي د پنجشیر او سیدونکی دی وکړه.

په سهار کې د دې په عوض کې چې د کندهار له لارې کویټې ته ستون شم اراده مو وکړه چې لاړ شو پنجشیر ته ځکه چې زه پوره پنځه کاله د امارت په وخت کې د مسعود سره په پنجشیر کې بندي ووم.

د دې ولایت ډیرې سیمې مې لیدلې وې نو شوق مې داوو چې په ازاده ژوند کې یې پنجشیر یو ځل بیا ووینم او زړې خاطرې را ژوندۍ کړم .

په سهار کې د محمد عثمان په نوم دیوه بل پنجشیري سره چې د دې ولایت د "روخه" ولسوالۍ اوسیدونکی دی ، د هغه په موټر کې روان شو لود پنجشیر په لور. پنجشیر ته په رسیدو سره سم هڅه مو وکړه چې د پنجشیر هغه نوي تعمیرات و وینو چې د کرزي په وخت کې جوړې شوي دي ، په هغو کې یو د مسعود په قبرد ایرانیانو له خوا نوې جوړه شوې ګنبده وه ، هغې ته ورغلو.

موږ په همدې سیمه کې په منظره بوخت وو چې یو غټ قومندان (قوماندان بهلول خان چې د دې ولایت د آبدرې او سیدونکی دی) او په ساده جامو کې د پولیسو په مینځ کې ولاړ وو ، ما ته یې اشاره وکړه چې دلته راشه او پوښتنه یې وکړه چې څوک او د کوم ځای یې چې پټکی دې هم تړلی او دلته د څه لپاره راغلی یې ؟

ما ورته وویل چې د کندهار او سیدونکی یم او د دې ځای د سیل لپاره راغلی یم ځکه چې د طالبانو په وخت کې دلته زه پنځه کاله بندي ووم، نو اوس غواړم هغه زړې خاطرې را ژوندۍ کړم.

بیا یې پوښتنه وکړه چې دا زیارت چې پر جوړ دی د اسړی پیژنې ؟

ما ورته وویل هو خلک وایي چې دا مسعود دی.

او وی ویل دا چې ته طالب یې او د طالبانو په وخت کې پنځه کاله په دې ولایت کې دا میر صاحب سره بندي شوی هم یې نو کیدای شي د دې زیارت ته د انفجار ور کولو په موخه راغلی یې او یا غواړې چې د ده د مرګ سالګره ګډه وډه وکړې چې درې ورځې وروسته یعني د سنبلې په اتلسم تاریخ تر سره کیږي او زموږ یې د امنیت د نده په غاړه ده .

ما ورته وویل، دا چې کندهار او پنجشیر دواړه د دې هیواد مربوط ولایتونه دي او زه د کندهار یم نو پنجشیر ته د راتګ لپاره کومه ویزه او پاسپورټ نه غواړي او زه مخکې طالب وم خو اوس طالبان نشته او نه زه کومې اړیکې ور سره لرم.

تر پوښتنو وروسته زه او خپل ملګری محمد عثمان خپل موټر ته وختلو او د ولایت د ودانۍ په لور روان شو (چې د دې ولایت د پاراخ په سیمه کې دی)څو د ولایت نوې ودانۍ او ور سره نژدې د هغو شپیتو تنو طالبانو زیارت ته ولاړ شو چې هغه وخت د "بارک "د مشهور محبس سره نژدې په خدای مرګ مړه او بیا موږ په یوه هدیره کې دفن کړي وه.

د طالبانو تر زیارت کولو وروسته د ولایت ودانۍ ته نژدې په داسې حال کې چې موږ په موټر کې سپاره او د کابل په لور روان وو ، د پولیسو څو موټرونه زموږ د موټر په شا و خوا کې ودریدل او موږ ته یې د را کوزیدو اشاره وکړه چې بالاخره یې زه او زما ملګری محمد عثمان د موټر سره پولیسو د دې ولایت د امنیه قوماندانۍ توقیف خانې ته بوتلو.

د شپې په تیریدو سره سهار مهال د دې قوماندانۍ اړوند یوه مستنطق زموږ څخه د اسې پوښتنې پیل کړې

لکه تیره ورځ چې والي زمور څخه دمسعود قبر ته نږدې کړي وي، البته زما جواب هماغه وو.

دورځـي پـه تیریـدو سـره مازدیګرمهـال زه او محمد عثمان یې دواړه دامریکایانو یوه مرکز ته چې ددې ولایت په "دشتک" سیمه کې موقعیت لري بوتلو.

امریکایانو راته وویل: چې ستاسي په دوسیه کې لیکـل شـوي چـې تاسـي دمسـعود قبر تـه دانفجـار ورکولو او دمسعود دسلګرې چې پکښې کرزی او فهیم هم ګډون کوي دګډوډی په موخه راغلي یاست.

مـا اوملګري پـه جـواب کـې دراتـګ اودګرفتـاری قیصه په مختګني اومفصل ډول ورته بیان کړه.

دهغـوی قناعـت حاصـل شوا ومور ښـهار مهال امریکایانو بیرته ددې ولایت مرکزي محبس ودانی ته(چـې دمسـعود په وخـت کـې دهغـه بانـک وو) واستولو او راته وویل چې تاسي زمور سره کوم جرم نلري.

بنـدي خـاني تـه ترننوتلو مخکې هغه پولیسو چې مـورېي دامریکایانو څخـه راوسـتلی وو ، ددې محبـس قومانــدان(میربابـــاچې ددې ولایـــت دعنابـــه ولسوالی اوسـیدونکي وو) وویـل چـې دغوخلکـود مسعود قبر ته انفجارورکاوه چې لاس په لاس موونیول.

ددې خبـرې پـه اوریدوسـره دمحـبس سـاتونکو پولیسو زماڅخه واسکټ ، ساعت اوهغي پیسې چې راسره وې دچوراوچپاول پـه ډول واخیستي اومورېي دمحبس هغي تکـاوی تـه چې ددوی پـه اصطلاح غټ مجرمین پکښې ساتل کیدل ورشوه کړو.

اوپـه دې محبـس کـې زمور سره دنورخـان پـه نـوم یوداسي مجرم هم ووچې ددې ولایت دټولو عیسایانو مشـرواو پـه خپـل کلـي (آبـدره) کـې یـې دخپـل مسـجد ملاامام(ملاعبدالستار مرحوم) دآذان کولو پر وخت په توپک ویشتلی او شهید کړی وو ، چې نومورې دهمدې قتل په تور په دې زندان کې بندي وو.

سوال:

نورخان دکوم ځای اوسیدونکی وواودی څنګه ،ولي اوکوم وخت ستاد معلوما تو له مخې عیسوی شوی وو؟

جواب:

نورخان دپنجشیر ولایت دآبدرې اوسیدونکی وو اودده داخښـي نیـک محمد پـه وینـاچې کله دی څوکالـه ورانـدې ایـران تـه تللـی وو بیـایي هلتـه دارمنسـتان هیوادتبعه یوې عیسوي ښځې سره نکاح کړي وه چې هغې بیادی داسلام څخه مرتد او دعیسوي دین پیروان یې وګرځاوه.

اودی دمګرې ددې ولایت دټولو عیسویانو مشري کوي اوده به هروخت په زندان کې داپه ښکاره ویل چې په دې ولایت کې مورد مرتد عبدالرحمن غوندې شپیته کسـان نورداسـي مرتـد کړي اواوس دعیسـوي مـذهب پیروان دي.

سوال:

کـه پـه دې هکلـه راتـه توضـیحات ورکړې چې ولې نورخان دخپل مسجد ملا امام شهید کړی وو؟

جواب:

دمسجد ملاامام نورخان په دې غرض شهید کړی ووچې کله نورخان مسیحي په خپل کلي کې پریوه دیوال لیکلـي ووچـې پیغمبرزنـده بهتراسـت ازپیغمبرمـرده .العیاذبالله

دکلي ملاامام دده سره په دې خبره جنجال راغی چې بالاخره ملاصاحب ددې ولایت چارواکو ته عارض شو.

خو ددې ولایت چارواکو ملاصاحب ته ویلي وه چې اوس دیمکراسي ده او هرڅوک چې هر مذهب ته اوړي پروانلري او ته په دې کارکې ملامت يي.

نورخان چې پوه سو چې ملاامام خومې ملامت کړنو چه کله ملاامام په خپل کلي (آبدره) کې دسهارپرآذان

ودرید ،نو نورخان په ټوپک ووآژه او نوموړی ملاصاحب شهید شو. اناالله وانااليه راجعون

سوال :

که داراته ووایاست چې څنګه او په کوم حالت کې مودعیسویانو دغه مشرقتل کړ ؟

جواب :

.دسنبلې شپاړم تاریخ او سهار شپږنیمې بجې وې چې نورخان دعادت له مخې دمحبس بندیانو ته دسپورټ لارښونه کوله.

په دې سهاریو بندي سینه کشي په خلاصولاسونو کوله او نورخان چې په سپورت کې دټولو بندیانو استاذوو ورته وویل چې لاسونه بنده کړه.

په دې وخت کې زه ددوی دسیل لپاره داشپږخاني مخې ته دچای پخولو ځای ته نژدې راغلم او کښینستم .

نورخان او شاګردیې ماته راغلل او ویل چې داځنګه کیږي؟ نوماو نورخان ته وویل چې ته پرمافیصله مه کوه ته زمادښمن يي اوته خو عیسای يي.

ده په جواب کې راته وویل چې خو دعیسای یم ستادین اورسول څه اوڅه کړم. العیاذبالله

په دې وخت کې زمااو دده په مینځ کې جنجال راغی اوداچې دی په بازوقوی وو نو زه يي په سوک ووهلم.

او زه ډیراحساساتي شوم او په زورمې کلمه طیبه وویل او پرده مې دتبرګزار وکړ.

ترګزاروروسته دی غوځار او بې هوښه شو.

ترپیښې وروسته زه پولیسو تکاوی ته شوه کړم اودی يي ددې ولایت د ایتالویانو د(خانم ګیټ) شفاخاني(ایمرجنسي) ته یووړ.

سوال :

تاسوخولومړی دمسعود قبرته دانفجاروړکولو په غرض نیول شوی واست نو دنورخان په وهلو سره بله دوسیه درته جوړه نه شوه ؟

جواب :

بلي هوزمادوسیه ډیردرنده او نوره هم پیچلي شوه ځکه ترپیښې یو ساعت وروسته ددې ولایت دمرافعه څارنوالی څارنوال (څارنوال امین)راغی ،زماځخه يي پوښتنه وکړه ماپورتنی قیصه ورته بیان کړه.

نوموړي څارنوال دمحل حادثه او دپیښې دشاهدانو ځخه ترلیدوکتو وروسته يي ماته دوهمه دوسیه جوړه کړه.

سوال :

تروهلو وروسته دغه عیسایی څوورځې وروسته مړشو او تاییا ولیدکنه ؟

جواب :

ددریوورځو په تیریدو سره نورخان پولیسو په ټپي حالت کې دشفاخاني ځخه بیرته محبس ته راوړ.

نومادمحبس دنوکریوال(خدایداد)په اجازه وغوښتل چې دی ووینم ،ورغلم په داسي حال کې چې سریې پټی او پرکټ پروت وو.

ورته ومي ويل: چې ګوره سړيه ! دانساني کرامت په خاطردي احترام لرم خوکه بيادا سلام توهين کوي بيادي هم نه پريږدم.

هندوزماپه وطن کې اوسيږي خوزه ژغ نه ورته کووم ،ته زماملاراوژني ،زماددين اورسول سپکاوی کوي په داسي حات کې دي بياهم هيڅکله نه پريږدم.

داچې دی دکوماپه حالت کې وو ،هيڅ يې ونه ويل ،څوشيبې وروسته زه بيرته خپلي کوټي ته ولاړم اودی يې په همدې ورځ يوځل بياشفاخاني ته يووړچې بالاخره په هغه شفاخانه کې (يعني تريپينې اوه ورځې وروسته) دخپل ژوروټپونو لامله دسنبلي دمياشتې پريوويشتم تاريخ 1385/3/21 مړشو.

سوال :

دنور خان تر مرګ وروسته دده قريبانو په تا دعوه وکړه او کنه ؟

جواب :

دده پلامخکې مړوخويوازي دده يوورور،يوه خوراومور درلودل اوهغوی ماته ابرء راکړه ځکه هغوی ده ته داسي ورځ دخدای تعالی څخه غوښته او هغوی له ده څخه بيزاره وه.

دمحبس دامنيتي پوليسو دمشر(ميرباچا) په وينا :چې کله دی په شفاخانه کې بستر شو ،نوبيادنورخان مسيحي مسلمانه مور ،مسلمان ورور(غلام رباني) اومسلمان اخښی(نيک محمد)چې تردې وړاندې يې دده هيڅ پوښتنه نه وه کړې ،دپايوازي لپاره ورته راغلل ،موريې ورته وويل چې توبه وباسه اوبيرته مسلمان سه !اوګوره دخدای تعالی کارونو ته چې دکندهاره ډيره راغله ستاپرسرونښته.

نوره توبه وباسه اوخدای ته تسليم شه.

دميرباچاپه قول چې کله موريې داوويل نوده دهغې پرمخ توکړه اوورته وويل چې زمالاره دروښنايي لاره ده اوستاسي لاره تاريکه ده زه به هيڅکله دخپلي لاري ونه ګرځم.

دنورخان مرتد دمرګ وروسته مايوخط ددې ولايت دعلماوودشوری مشر مولوی محمد موسی ته چې ددې ولايت دروخه ولسوالی په مرکز کې يوه لويه مدرسه هم لري ، وليږداوه.

اوورته ومي ليکل چې ماداکارددين اسلام ددفاع اودخپل رسول داحترام په خاطرمي کړی نوهيله کوم چې زمامحکمه په دې هيوادکې اوسي اوامريکايانوته مي تسليم نه کړي.

هغه ووچې دملايانو دشوری مشريوه اوږداومدلل مکتوب په دې ولايت کې زماددوسيې دڅيړلوپه غرض ددې ولايت والي ته استولی ووچې بياهغه زمادوسيه ددې ولايت ابتداييه محکمې ته راجع کړه .

ددې ولايت ابتدايه محکمې پرمابانديې پوره ديوکال بندوروسته پر۲۳/۳/۱۳۸۷ تاريخ بانديې دردي کاله اودوومياشتوحکم تنفيذي صادرکړ.

اوددې ولايت مرافعې محکمې زما حبس يوکال کم کړ،دوه کاله دري مياشتي يې راته وټاکه.

چې بالاخره په ۱۳/۳/۱۳۸۸ تاريخ بانديې دوو کالو اودريو مياشتو په تيرولو سره دپنجشيرله مرکزي زندان څخه خوشي شوم.

او اوس په خپله کورکې اوسيږم

ژ: شهاب منصور

دفقهې تاريخ

لومړۍ برخه ليکوال داسلامې نړۍ ثقه عالم دوکتور محمد حميد الله (رح)

داچې دحضرت عمر (رض) په زمانه کې دايراني مجوسيانو يعني پارسيانو په اړه هم ديته ورته پوښتنه پيدا شوې وه، نو ځواب په اسانۍ وموندل شو، حضرت عبد الرحمان بن عوف (رض) پورته شو، هغه و ويل: رسول الله (ص) فرمايلي: "سنوا بهم سنة اهل الکتب فی غير أکل ذبائحهم ونکاح نسائهم" له مجسويانو اوپارسيانو سره هغسې چلند وکړئ کوم چې له اهل کتابو سره کوئ (يعني دعيسويانو اويهودو په اړه شته قانون دهغوئ (مجسوسيانو) په باره کې هم معلق کړئ، پرته له دوه خبرو چې يو ذبيحه يې مه خورئ اوبل له ميرمنو سره يې نکاح مه کوئ) کله چې دعثمان (رض) په وخت کې دبربريانو مسئله پيداشوه، په اړه يې درسول الله (ص) کوم صريح حکم موجود نه و او نه قرآن مجيد کې په اړه يې حکم راغلی و، بالاخر دسلا اومشورو وروسته خليفه حکم کړ، چې له بربريانو هم جزيه و اخلئ، بيا دا پرېکړه وشوه چې يواځې اهل کتاب نه بلکې هر څومره نامسلمان قومونه چې داسلامي خلافت رعايا دي، له هغوئ ټولو نه جزيه واخلئ، کله چې د اسلامي واکمنۍ پولې تر سند وغځيدې، دلته هم له ميشتو کافرو قومو جزيه واخستل شوه، هم داسې دهند هېوادته چې کله مسلمانان ورسيدل، هلته يې هم له برهمنو جزيه واخسته، غرض داچې دامام ابو يوسف (رح) په وينا: له ټولو نامسلمانو قومونو جزيه اخستل کېده، که هغوئ داور عبادت کونکې وو اويا دونو اوکانو؛ له ګردو سره هم هغه چلند اورويه وشوه د کومې په اړه چې قرآن مجيد داهل کتابو په باره کې حکم کړی و، له هغه نه دټولو نامسلمانو لپاره حکم مستنبط کړای شو، ځکه قرانې حکمونه توضيحې ندي، يعنې منشاء يې دانده چې يواځې له اهل کتابو جزيه اخلئ بلکې دېته په ورته نورو صورتونو کې به هم دا حکم نافذوي.

دحضرت عمر (رض) په زمانه کې يوه پېښه وشوه، له قانونې له پلوه دهغې اهميت خورا ډېر دی، هغه پېښه داوه چې: هغه درسول الله (ص) يو ډېر قدرمن اوفاضل صحابي "عبد الله بن مسعود" (رض) د درسمې معلم اواستاد په حيث له مديني څخه کوفې ته واستاوه، څوک چې تاريخ پوه نه وه، صوفي هم نه وه، دخالد بن وليد (رض) پشان نوميالی عسکر هم نه وه هو اورته په قانون پوهنه کې ځانګړې ملکه په برخه وه، نوموړي په کوفه کې درس وتدريس پيل کړ، په درس کې يې دقانونې اوفقهې مباحثو عنصر ډېر بارزو، کله چې

نوموړی کوفي ته لیږل کیده ،دتقرری په موخه یې یوخاص فرمان هم کوفي ته ولیږل شو، په کوم کې چې دا الفاظ وو:

دکوفي خلکو ! ما درسول الله (ﷺ) یوډېر ګران صحابي تاسو ته درولیږه ، په دې تاسي شکرګذار اووسئ، چې ما په ځان تاسو ته ترجیح درکړه ،دا سي سړی مې تاسو ته درواستاوه چې له هغه څخه به ډېر ژر تاسو ته جوته شي ،چې هغه څومره مهم او څه اهمیت یې دی !

عبد الله بن مسعود(رض) تروفات ورځي پورې هلته دمدرس اوقانون داستاد په توګه پاته وه ، نوموړي ته دکوفي ښارله اوسیدونکو څخه یو لایق یمنی شاګرد(علقمه نخعی) په لاس ورغی ، څوک چې په ټولو شاګردانو اوطالبانو کې ښه طالب وه ، له عبد الله بن مسعود (رض) وروسته نوموړی شاګرد دکوفي مسجد کې دقانون استاد مقررشو ،نوموړي دخپل استاد ددرس وتدریس لړۍ ژوندۍ وساتله ، کله چې هغه وفات شو ،نویوبل یمنی شاګرد (ابراهیم نخعي) چې هغه هم دکوفي اوسیدونکی وه ، ځای ناستی یې شو ، غرض داچې داسلسله پسي وغځیده ، دکوفي مسجد کې دفقهي تدریس روان پاتي شو ، د ابراهیم نخعي دوفات وروسته په ځای یې شاګرد حما دبن سلیمان چې عرب نه و عجم و، ځای ناستی یې شو ،هغه هم لوی قانو پوه اودفقهي ماهر استاد وه ، کله چې هغه وفات شو نو ځای ناستی یې یوبل عجم شو ، هغه امام اعظم ابوحنیفه (رح) وه ، هغه به دې سربیره چې دغه مهال نوی ځوان و، خو ترټولو ښه ذهین شاګرد ګڼل کیده ، حتی چې پخپله دحماد بن ابی سلیمان شاګردانو یعنې دامام ابوحنیفه(رح) د درس د ملګرو (طالبان) لخوا وربانديې اصرار وچې: ابوحنیفه ! له استاد وروسته ته دې سلسلي ته دوام ورکړه اوداستاد په علمي مسند کینه !

داچې امام ابوحنیفه ډېر ذهین اوله انساني اروا پوهنې سره آشناو، هغه فکر وکړ چې ځما پشان ځوان تن چې خلک داستاد په ځای ناست ووینې ،غالباً هغوئ به یې خوښ نکړي ، څو چې هغوئ دیته تشویق او هڅول شوي نه وي یا دا ورته ونه ویل شي چې واقعاً دنوموړي درس اوپوهه دباور وړده ، ددې لپاره امام ابوحنیفه (رح) خپلو ددرس ملګرو ته وویل: په دې شرط زه به ستاسو غوښتنه او منم چې ترېو کاله به تاسي هم ځما په درس کې ګډون کوئ ! که تاسي دیته چمتوالی لرئ !زه بیا دیته آماده یم چې ستاسي غوښتنه اومنم !هغوئ هم مخلصان وو ،ټولو وویل: ښه ده ، مونږ ټول به راځواو ستا په درس کې به کینو ! ، کله چې درس پیل شو خلکو لیدل چې اما م ابوحنیفه استاد اوددرس شریکان ملګري یې هم په درس کې دشاګردانو په حیث ناست دي ،هیڅ یو ځانته عار نه هم محسوسوي ، دښار خلک ددې منظر په لیدو خوښ اوډاډمن شول چې نوموړی واقعاً قابل اودخپل استاد دځای ناستی لپاره اهلیت اوصلاحیتونه لري.

دامام ابوحنیفه(رح) دنورو غوره صفاتو ترڅنګ یو صفت دا هم و چې هرکله به ورته کوم غریب طالب راغی ،له هغه سره به یې مالي مرسته اوکومک هم کاو ، په دې توګه په خلکو کې دنوموړي ښه شهرت خپور شو ، هرچا ورته دقدر اوعزت په ستر ګه کتل ، دا دبنو امیه وروستۍ زمانه وه ، له سیاسي پلوه دغه زمانه ډېره ترینګلې ا ومتشنج وه ، په ټوله اسلامي نړۍ کې دوینو لښتي بهیدل ، دحکومت دظالمانه اوجابرانه کړنو پر ضد په خلکو کې د نه تم کیدونکي بغاوت اوپاڅون څپه راپورته شوي وه ، نازک وخت و ، همدغه مهال یعنې دهجرت په ۱۲۰ هق کال دامام حسین (رض) لمسی زیدبن علي زین العابدین دحکومت دظلمونو له امله سخته اندیښنمن وو ، غوښته یې پرضد یې پاڅون ته ملا

وتړي ، نوموړي سره دامام ابوحنیفه ډېره مینه وه اوله زړه یې غوښتل هم چې دبنو امیه واکمنو په ځای "زیدبن علي" خلیفه شي ، یوه ورځ زیدبن علی امام ته ابوحنیفه ته وویل: اوس ډېر خلک ځما ملګرتیا کوي او زه هم غواړم چې دحکومت پرضد وسلوال پاڅون وکړم ستارایه څه ده ؟ امام ابوحنیفه مالي مرسته اونغدي پیسې ورکړي ،لیکن ورسره ملګرتیا کولو ته تیار نشو او ورته انکار یې وکړ ،بیا یې نوموړي ته وویل: که ځما په دې پوخ باور راشي چې ست ملګري له تاسره خیانت نکوي اوترپایه درسره ملګرتیا کوي ،نوما خپله هم په لښکر اوپاڅونوالو کې ګډون کاو ، خو زه ډاډ نلرم له دې وجې مالي سته درکولی شم خو عملاً ملګرتیا نه !

بیا هم هغسې پېښ شول، څنګه چې د امام ابوحنیفه اندېښنه وه . یعنې دهغه ټول ملګري له هغه وګرځیدل ، حکومت ژر نوموړی ونیو او قتل یې کړ، دیادونې وړده دفقهې اوقانون پوهنې په وجه د امام ابوحنیفه له "زیدبن علي" سره مینه وه ، ولې زیدبن علي دخپل وخت ستر فقیه هم وه ، ویل کېږي چې امام ابوحنیفه (﵀) له نوموړي څخه په فقه کې استفاده هم کړي وه ، ځکه په عمر کې هغه له امام ابوحنیفه مشرو ، هم فقه کې پخوانی ماهر و ، زیدبن علي چې کوم کتاب لیکلی دی ،دهغه نوم دی "المجموع فی الفقه" دامشهور کتاب دی اوداسلامي قانون ترټولو پخوانی کتاب دی ، ترمونږ رسیدلی دی، چاپ شوی هم دی ، په هغه کې مونږ داهم مو څنګه چې دفقې کتابونه نن سبا په کوم ترتیب سره شته ، هم دا نهج او طریقه هلته هم شته ، له "کتاب الطهارت " شروع کېږي پکې داوداسه اوغسل احکام دي ، بیا دلمانځه احکام دي ، دروژې ،اونورو عباداتو احکام راوړل شوي ،بیا دنورو څېزونو ، دا ترتیب اونهج زیدبن علي جوړکړی، وروسته نورو ته دومره خوښ شو چې ترننه پکې چا ترمیم اوتغیر ونکړ، دا دوره تیره شوه بنوعباس واک ته ورسیدل ، خلکو تمه درلوده چې دبنوعباس په زمانه کې به زمکه جنت شي ! خوډېر ژر مایوسه شول ، دمختلفو لاملونو په وجه دخلکو امیدونه پوره نشول ،دلته دتفصیل موقع نده یواځې داعرض کوم چې په دغه زمانه کې امام ابوحنیفه چې کومه ستره کارنامه سرته رسولې ، هغه یوه اهمه اوتلپاتې کارنامه ده، هغه مهال د امام مالک ، امام اوزعی په څېر نورلوی فقهاء هم موجود ول ، هغوئ هم کتابونه ولیکل ،خو دهغوئ کوښښونه انفرادي وو ، امام ابوحنیفه دانفرادي کوښښونو په ځای داسلامي قانون دتدوین لپاره اجتماعي کوښښونه په کار واچول ، ددې لپاره یې دخپلو زرګونه شمېر شاګردانو له منځه څلوېښت تنه غوره کړل ، یوه ټولنه او اکډمي یې تشکیل کړه ، فقهاوو دغوره کولو په لړ کې یې هغه پوهان هم له پام څخه ونه غورځول کومو چې په نورو علوموا وچارو کې پوهه درلوده ، هغوئ یې دفقهي مجلس غړي ونومول ، لنډه دا چې دبېلابېلو صلاحیتونو څښتنان یې په یوځای راټول کړل ، اصول دا و چې یو فرضي سوال به یې مجلس ته وړاندې کړ، که داسې پېښ شول څه به کېږي اوڅه باید وشي ؟ په دې مسئله به یې بحث کاو ، ځینې وخت به تریوې تریوې میاشتې پورې بحث وغځید ، بکله چې به ټول یوې حتمي نتیجې ته ورسیدل ، دمجلس سکرتر امام ابویوسف (﵀) به هغه ولیکله . داسې ځینې لیکونه ترمونږ رسیدلي چې په هغو کې "قال" قلنا "قل" قلنا "یعني دسوال اوځواب په بڼه په یوه مسئله اوږد اوږه بحثونه شوي دي.

خلاصه دا چې دامام ابوحنیفه(﵀) په زمانه کې داسلامي قانون دتدوین په لړ کې دوه کوښښونه وشول ، یو کوښښ دحکومت له لوري ،بل پهازاد انه او شخصي توګه امام ابوحنیفه (﵀) وکړ !دحکومت له لوري

کوښښ خليفه منصور وکړ، هغه غوښتل چې اسلامي قانون مدون کړای شي او په ټول اسلامي سلطنت کې يو قانون نافذ کړای شي، هغه مهال امام مالک ډېر مشهور عالم و، خليفه هغه ته پيغام ورولیږه چې ته خپل فقهي کتاب ژر بشپړ کړه، زه غواړم چې ستا فقه د سلطنت او خلافت دقانون په حيث نافذه کړم! امام مالک نه يتي له خدايه داريدونکی و، هغه وويل نه! ديوه تن فقه پر ټولو نافذول مناسب نده، خلکو ته داختلاف اجازت پکار دی، په دې توګه يې دخليفه دارادي له منلو انکار وکړ!! خو داسلامي قانون دتدوين ارتياوه، دغه ارتيا امام ابوحنيفه (رح) پوره کړه دکلونو، کلونو کوښښونو اوزيار کښلو وروسته يې يو داسې قانون جوړ کړ، چې دهغه په اړه زه په پوره ډاډ سره ويلای شم چې هغه د(Justinian code) څخه زيات مکمل او ډېر زيات مناسب دی


عن طريق الاختصار وبالله سبحانه التوفيق
ترجمة الابواب والفصول ما ينطوي عليه الكتاب
الباب الاول في مباحث الكلام الباب الثاني في
الحقيقة والمجاز الباب الثالث في البلاغة وهي اربعة
فصول اللوغ والتشبيه والاستعارة والبسط من الاستعارة
الارداف والتقديم والطلاق اللفظ على ما تجاوره والكنايات
والمزاوجة واستعمال اللفظ على التهكم والفحوى والتمثيل والتضمين
والمساواة ومن باب البسط التكميل والتبليغ والتذييل والاستعانة
والتاكيد والتكرير الباب الرابع في الجزل الباب
الخامس في التجنيس وضروبه الباب السادس في التصحيف
الباب السابع في المطابقة الباب الثامن في المقابلة
الباب التاسع في التدارك الباب العاشر في الجمع بين
النقيضين الباب الحادي عشر في التبيين الباب الثاني عشر
في التقسيم الباب الثالث عشر في الايغال للباب

په هغه مانه کې نور فقهاء هم پيدا شول بيا دهغوئ شاګردان پيدا شول، په يوه لنډه جمله کې دابحث پای ته رسوم چې په صحابه وو (رض) کې چې کوم فقهاء وو، په هغوئ کې يو لوی فقيه عبد الله بن مسعود (رض) و دهغه يادونه وړاندې تيره شوه، امام ابوحنيفه دهغه دڅلورم نسل شاګرد دی، يوبل صحابي عبد الله بن عمر (رض) دی، دهغه دشاګرد، شاګرد امام مالک (رح) دی دريم صحابي عبد الله بن عباس (رض) دی هغه ته شيعه ګان دزيد بن علي، اثناء عشري، يا فاطمي واسطو له لاري خپل قوانين منسوب بولي، بيا وروسته ددې علماوو دشاګردانو شاګرد لکه امام شافعي(رح) په يوه وخت کې دامام ابوحنيفه (رض) دشاګرد امام محمد(رح) هم شاګرد ددی اودامام مالک (رح) هم شاګرد دی، بيا دامام شافعي (رح) شاګرد امام احمد بن حنبل (رح) دی، دهغه شاګرد دظاهري مذهب امام داود ظاهري دی، لنډه داچې داټول ايمه ديوبل شاګردان دي او ديوبل په رنګ رنګ دي.

نود امام ابوحنيفه (رح) له لاري د لوی فقيه صحابي عبد الله بن مسعود (رض) فقهي مسلک په دنيا کې خورشوی او دبل فقيه عبد الله بن عمر (رض) فقهي مسلک د امام مالک (رح) له لاري راغلی، نو په لويه اوسر کې ټول فقهي مذهبونه يو اودصحابه وو له لاري راغلي او ټول د يوبل مقارن او مماثل دي ....نور بيا

شهامت اووم کال دریمه گڼه پرلپسې یوڅلویښتمه گڼه

دسیاف نن او پرون

میوندسادات

پرون دي دخدای دلاري سپیڅلی مجاهدبللم ،دجگړې یوساعت مي دنوروترا اویاکالوعبادت غوره ؤ.آن خوب مي دناستوخلکودعبادت مرادف ؤ.داویاتنوگناهکاروتربیانوشفیع وم .په لسهااووحورومي په وینوخالونه ینبودل ،پالنگونه یې راته تیارول ،ښکل باغونه وو،دشاتواوشیدوویالې اودرنو وبونهرونه وو،که وژل شوی وم ،شهیدوم ،که ژوندی وم نوغازي وم .

سیافه !تاچي پرون دکوم رهبراوکتاب ترجماني کوله رښتیادي ویل زه اوس هم باوراو یمان پرې لرم ،ځکه نه هماغه کتاب ،ولارښودبدل شوی اونه هم ترې وروسته بل کتاب اولارښودراځي . زه هماغه پرونی خوپرخپل موقف ولاړمبارزیم ، دنن اوپرون یوازې دومره توپیرشته ،چي پرون مي دکمونیزم – سوسیالیزم خونن مي دسیکولریزم – کپیتالیزم څخه ددین ،پت اووطن ساتني په موخه بغاوت اوپاڅون کړ ی دی .ووایه !په کوم دلیل اومنطق مي جهادته ترهگري وایې ،مجاهدمي تروریست بولې ،دمرگ فتوی مي ورکوې !داعدام تختې ته مي پورته کوې اودشهید جسدځوړندول مي دعبرت درس اودسولې سبق گڼې !!.

پوهیږم چي استشهادمي په عارفانه تجاهل سره انتحاربولې ، دپاڅون په انگېزه مي ترنوروښه پوهیږې خوپه سوی لاس دولسونوستر گوکي خاورې شیندې اودغلامۍ زده کولولیکچرونه ورکوې داځکه چي دمعنویت دښکلي جهان څخه دي دمادیت وتیارې دنیاگۍ ته کوچ کړی دی .

شیخه !پرون دي دتکبیرازانگې ترمنځني ختیځ پوري رسیدې ،د«وه معتصماه »چیغې دي دولسونوزړونه پړسول .خونن دي په غاړه دغلامۍ ځنځیرونه شرنگیږي ،دقصرونواومحفلونوڅخه دي دشرابوډوزي ولاړیږي .دایف ۱۲اوبې ۵۲دوله الوتکوپه مټ راغلي وحشي یرغلگر مستأمنین گڼې !،دکروزتروزرونولاندې پالل شوي ،پرکابل بلوسیدلي اپله جاري ملېشې مجاهدین بولې !،اودکابل پراشوټ شوي رژیم ته داسلامي اوملي دولت نوم ورکوې .ایا نن ابوغریب ،گوتنانامو.بگرام او.....کي دمسلمانومظلوموميرمنوکریږي اوناري نه اورې ؟ !په مرمیودسوري سوري شوي قرآن پاڼې نه وینې ؟تاته نژدې بگرام کې دهغه غړانده اورلمبې نه وینې چي پېلوڅی یې زمامومن به کتاب ،دسترڅښتن کلام عظیم نشان قرآن دی .ولي یې دپرون په دوددعاملینوپرضدوسله نه پورته کوې ؟که وسله نه شې پورته کولای نوجهادخواعلانولای شې ؟!هو!پوهیږم ،ستاڅخه همداتمه دوخت ضیاع ده ،ځکه که نن دي هم پرونی څرمن په تن ده ،خوپه باطن کي بیامسخ شوی راته ښکارې !.

سیافه !زه دهماغي نبوي صفې طالب یم چي کله به مورچل کله به مسجد کي دیره وم ، که به ووږې به مي په نس پوري ډبري تړلي وې ،نوسنگرته له تللومي ډډه نه کوله ،دابوهریره ،سلمان فارسي ،عبدالله بن مسعود ،حبشي بلال ،صهیب رومي ،یاسر ،عماراوخبیب دلاري لاروی یم چي دگرموریگونواودبروانبارونه اوپه تیلوکي ایشول یې په ځان منل خود «احد ،احد »زمزمه یې نه پرېښودله .دجعفربن ابي طالب ،براءبن مالک ،عوف بن عفراء ،عمیربن حمام ،طارق ابن زیاداوموسي بن نصیرپه پلونوروڼ یم چي ددکفراوفساددمحوه کیدوپه موخه یې ددښمن منځ ته ځان غورځاوه . دقتیبه بن مسلم ،محمدبن قاسم ،ایوبي ،زنگي ،قطز ،غزنوي او.....رضوان الله علیهم اجمعین په لارروان یم چي صلیبي لښکري یې په گونډوکړې ،قدس یې ازاد،ترکستان ،سنداوهندیې فتح اوسومنات یې چپه کړ .

شیخه !زه دهغوی رښتني خلف یم چي دخدای اورسول په دښمنانویې خوب حرام کړی وو ،دفارس اوروم بتکدې واتشکدې یې ویجاړ ی کړې ،لا ت اومنات یې نسکور کړل ،آن چي تراروپااولیرې ختیځ پوري یې داسلام بله ډیوه په خپلووینو ،وښکواوخولوورسوه اوداسلام توغ یې دجبل طارق ،همالیې اوهندوکش پرهسک ورپاوه .

هو!زه اوس هم دهماغه لارښوداوکتاب په امراولارښوونه ،دهماغي لاري لاروی یم ،داسلام اوهیوادڅخه ددفاع په مبارزه کي په ځان پوري بمونه تړم ،دصلیبي اشغالگردښمن مرکزونه پرې ورزوم ،ککري یې رغړوم ،په لندن اوواشنگټن کي یې دسروالانوخوبونه تښتوم وزړونه یې چوم .خوته راته شیخه !بدل شوی ،مسخه شوی اورټل شوی ښکارې !

دمیزان شپږمه یا دافغان ولس دفتحې ورځ

شاهد

دګران افغانستان په تاریخ کې دمیزان میاشت ددوو سترو پیښوشاهده ده، چې یوه یې دبلا غمیزواو ناندریزو شیبوڅخه دافغان مسلمان ولس دخلاصون ورځ او بله یې دخرو بربوکیو او دتورو توپاني شپو دپيل ورځ وه؛ ټول نړیوال ددې شاهدان دي، چې د(۱۹۹۱ او ۱۹۹۰)زکلونو تر منځ هغه څه پیښ شول، چې دانسانیت تاریخ خو پریږده چې دځنګلاتو حیوانات به ترې وشرمیږي، هغه دافغانستان وسله والو توپکوالو یا پخپله اراده او یا هم دځینو مغرضو ګاوندیانو په لمسون هغه فجایع وکړي چې تر قیامته پورې به یې دتاریخ تور باب وي.

دافغانستان اسلامي تشخص، جغرافیوي پولې، پنځه نیم زره کلن تاریخ، طبعي زیرمې، ولسي ژوند او په ټولیز ډول یې افغاني دیني غرور له خورا سختو ننګونو سره مخامخ و، او هره ورځ تربلې دتجزیې پر لور روان و، درقص مرده، خراسان جدیداو په انساني سپیو دلارویانو دارلو غوندې کیسې خو له هیچانه پټې نه وي، همدا اوس دکابل دواک په ګدۍ دناستو جنابانو! دلارښوونو له برکته دشیعه او سني تر منځ مذهبي اړو دوړ، دشمال او جنوب، قومیت او سمت مسایلو له خلکو څخه لاره ورکه کړي وه، یوې خواته دکمونستانو دمظالمو خوراله خونکاره نړدې ماضي او بل خوا دمجاهدینو په سپیڅلو نومونو داسې جنایات تر سره کول، چې په وجه یې زمونږ دتاریخي کابل معصومې او پاک لمنې پیغلې آن دخپل ځان دعفت ساتلو په موخه څانونه دمکرویانو له څوم پوړ له چت نه لاندې راغورځوي، هغه بوږنونکې پیښې دي، چې پر عاملینو یې دلعنت ویلو څخه غیر په بل څه ویلو ددردمند ضمیر خاوندان زړه نشي یخولای.

پداسې ترینګلو حالاتو کې پرګنۍ دیوه داسې ځواک راتلو ته سترګې په لاره وي، چې لدې ګردو غمیزو څخه ورته خلاصون وبښي او دې وارداتي ناخوالو ته نور دپای ټکی کیږدي.

له نیکه مرغه چې دمدرسې، مسجداو خانقاوو له نغرو څخه ولسونو ته دنجات بخښلو په موخه سرې سپرغۍ راپورته شوې او رڼایې دمیواد ټول افق سپین سبا کړ، دخپل ولس دخلاصون، دیو نیم میلیون شهیدانو اروا او وته دراحت بخښنې او کړیدلی ولس له ټوپکسالارۍ څخه دژغورنې دا غورځنګ په (۱۴۱۵)هـق کال دمحرم الحرام دمیاشتې په (۱۵)نیټه چې دقوس دمیاشتې ۹نیټې سره سمون خورې، دمعاصر افغانستان دبنسټ ایښودونکې لوی احمد شاه بابا په پلازمینه تاریخي کندهار کې داسلامي نړۍ دستر مجاهداو داسلام داتل سپاهي متین لارښود محترم امیرالمؤمنین (ملا محمد عمر

مجاهد) حفظه الله په لاس لومړی دطالبانو داسلامي تحریک او بیا داسلامی امارت په نوم تاسیس وشو.

لومړی یې دکندهار په سپین بولدک کې بې مسولیته وسله وال افراد وځپل او بیا یې کندهار کې کمونستان، پایلوچان اوبدمعاشانوته داسې درس ورکړ، چې دتل لپاره یې ترې کندهاریان خلاص کړل، دجهاد په نوم ویشل شوي وسلې بیت المال ته راټول، انارشیزم او ملوک الطوایفي ختمول او دیتیمانو اوښکې وچول، هغه څه وو، چې دطالبانو دپالیسو په لومړیتوبونوکې یې ځای درلود، همدا لامل شو، چې په افغاني ټولنه کې یې دبرېښنا غوندې ورځ تربلې مقبولیت دیریده او هغومخلصو جهادي قوماندانانو چې دخپل ولس او هیواد دې بد حالت اندیښمن کړي وو، دطالبانو مرستې ته په ورین تندي ټټر وواهه، هم یې دطالبانو مالي ملاتړ وکړ او هم نظامي، دفتحو قافله د محاسبوي تګلارو او تصفیوي پالیسیو سره پر مخ تله، او دا روحاني او ملي کاروان په ډیر سرعت سره لومړی په جنوب غرب، بیا په جنوب ختیځ او بیا دختیځو ولایتونو څخه په (۱۳۷۵)ش هـ کال دمیزان (٦) نیټه دشهید ملا بورجان رحمه الله تر قوماندې لاندې دلوی ننګرهار له لورې دکابل پر تاریخي ښار دطالبانو سپین کاروان ورننه ایست اوپه ارګ یې هغه سپین بیرغ ورپاوه، چې پرتندي یې د((لااله الله محمد رسول الله) کلمه په زرین لیک انځور شوي وه، له بده مرغه چې ملابورجان سره ژوند یارۍ ونکړه او دکابل په دروازه کې یې روح خپل اصلي مالک ته وسپاره، خو داسلام سپاهیانو دده ارمان نیمګړی پرینښود اوکابل یې دشریرو او تجزیه طلبو عناصرو له منګلو څخه څخه پاک کړ.

دیوې ژوندې خاطرې په توګه راته ښه په یاد دي، چې کله دجلال آباد پرلور دشهید ملا بورجان سپین لښکر دتاریخي ننګرهار دفتحې غورځنګونه کول، زه هغه مهال دشهید مولوي خوشحال (چې وروسته دکاپیسا والي شو) تر مشرۍ لاندې دخوست په یعقوبیو ولسوالۍ کې وم، شهید(مولوي عبدالاحد) چې داسلامي امارت دواک په کلونوکې دننګرهار دروداتو او لال پورې ولسوال تیرشو، ورسره په ګډه دځه جهادي کار لپاره حاجي ملا صیب پسې لومړی لوګر او بیا دپکتیا ولایت ګردیزته راغلو، چې دولایت مقام کې موشهید ملا بورجان میلمستون کې شپه او سهار مهال مو سره کتنه وشوه، دننګرهار یو جهادي قوماندان چې ناستې کې راسره و، شهید ملا بورجان ته دمرستې داد ورکاوه، نوده به ورته ویل چې دننګرهار جهادي قوماندانان راسره تماس کې دي، تاسو صرف دطالبانو د درتګ پر وخت سپین سپین بیرغونه پورته کړئ، انجنیر محمود سره مې همدا اوس مخابروي اریکه ونیوه، بس کار نور خلاص دی .... همدا حدیث شریف به دشهید ملا بورجان رح په خوله زمزمه کیده: چې ((قال رسول الله صلی الله علیه وسلم نصرت بالرعب مسیرة شهر)) ((بس بالا !! دالله ﷺ نصرت راسره مل دئ، دیوې میاشتې په اندازه رانه دښمن په ویره کې دی ....))

هغه شهیدملا بورجان، هغه ملامشر اونور دطالبانو دتحریک مشران بیا دسپیرو خاورو میلمانه شوي وو، خوکابل، جلال آباد، مزار شریف اونور حساس استراتیژیک ځایونه بیا فتحه شوي او اسلامي شریعت پرې واکمني کوله، زړګونه طالبانو دخپلو وینو په نذرانوسره خپل ولس ته داسې بې سارې امنیت راوست چې ځایې له صدراسلام څخه وروسته بیلګه نشوه وراندې کولای.

هغه داسې یو وخت و، چې طالبان به نړیوالو دسولې دکوترو! په نوم یادول اودنړۍ هیوادونه یې ملاتړ ته راتړدي کیدل، خوچې خبره دسپیڅلي شریعت او اسلامي نظام شوه، نو ټول شاته شول او هیڅ داسې یو شرعي نظام ونشو زغملای چې دټول اسلامي امت دامامت صلاحیتونه او ورتیاوې دې ولرې، چادښځو دحقوقو او تعلیم د تلف

کیدو پلمه کوله ، چا دالقاعدې دشتون اوچا یوه اوچا بله ، بس داهسې انې بهانې وي ، آره خبره چې دوئ یې بوړنول ، هغه افغانستان کې دیوه سوچه شرعي نظام هغه اندیښنه وه ، چې غربي کلیساو او یهودي مذهبي حلقو اپورته کړي وه ، اسلامي امارت یې تر اقتصادي ، نظامي ، دیپلوماتیکي اوسیاسي تعزیراتو لـه کلابندۍ سره کلونه کلونه مخ کړ ، هیڅ داسې فرصت یې ورنکړ ، چې دپر مختګ رغنده ګامونه پورته کړي او دهیواد حالت یې دبحراني جمود او رکود په څلورلارې کې ودراوه ، تر څو اسلامي امارت له پرمختګه راوګرځي او دزوال په خوړو روان شي ، پداسې حال کې چې اسلامي امارت دیوه قانوني حکومت په حیث ګرد نړیوال اصول او ظروف پوره کړي وو ، خو بیا هم له څو اسلامي هیوادونو پرته بل کوم هیواد یې رسمي منلوته غاړه کښېنښوده ، دافغانستان زیاته خاوره یې په واک کې وه ، ولسي ملاتړ یې خپل کړی و او دپلازمینې په ګډون یې مهم ښارونه تر خپل تصرف لاندې راوستي وو ، خو بیاهم کفري هیوادونو او ددوئ پر پله روانو تش په نوم اسلامي هیوادونو دا ګام وانخست او دغربي راج په مخکې (سد سکندر) شول .

چې تر پنځوکالو انو بهانو څخه وروسته یې نور دداسې یوه غښتلي اسلامي رژیم زغم ونکړای شو او دټولو نړیوالو مقرراتو او هیوادنیو اصولو خلاف یې اشغالګرې لښکرې دیوه خپلواک هیواد افغانستان پر اسلامي حریم وبلوسولې او تر سخت مقاومت وروسته د مدرنو وسلو په زور یې افغان ولس بیا د ویر په تغر کښېناوه ، داسلامي امارت قیادت یې پر خلاف دجهاد اعلان تر ننه پورې روان وساته او دوئ یې په خپلو عزایمو کې ناکام او دماتې خوروپر مورګو ودرول ، چې دمګړۍ هم دابهیر لاښه تاند او ځپاند روان دی او وي به انشاءالله تعالی .

په پورته یاداشتونو کې مو وشنله چې دطالبانو پاڅون دوخت یومثبت غبرګون او ضرورت و ، اوهمداوسله وال پاڅون وو ، چې افغانستان یې له توټه کیدو ، فاشیست کیدو ، او ملوک الطوایفۍ نه خلاص کړ ، او دصدر اسلام په څیر یې مسلمانانو ته داسلامي نظام یو په زړه پورې مزین تصویر وښود ، او همدا یې دپاڅون وجوهات او عوامل وو .

طالبان چا رامنځته کړل؟

داهغه پوښتنه ده چې ځواب یې ډیر اسان او ډیر څرګند دی ، هغه داسې چې طالبان دیوه اسلامي او ملي احساس په روحیه رامنځ ته شول ، نه چا رامنځته کړي او نه له بهره کومه وارداتي کتله ده ، بلکې دا دحالاتو هغه چټک غبرګون و ، چې په ډیر لنډ او تنګ وخت کې یې دخپلو ولسونو په هر ارخیز ملاتړ له سپین بولدک څخه تر اسلام کلا ، تورخم او شیرخان بندره پورې پوځي ریښې وځغلولې او هیوادوالو ته یې دملي ګرایۍ او قومیت پالنې پرځای داخوت ، وروروليه او سولې پیغام راوړ ، دانه کوم خارجي جنرال منسجم کړي ، دلندن سفارت او نه دبل کوم بهرني قطب په نغوتو او پیسو یا وسلو منظم شوي ، که لږه یې نوره هم سپینه کړو !

نو دطالبانو اسلامي تحریک لا له ډیر ولو مړیو څخه د (جمعیت طلبه اهل السنت والجماعت) په نوم ظهور کړی و ، او ولایتي ، محلي او سیمه ایزې شوراګانې یې لاهماغه درلودې ، چې دروسانو په خلاف دجهاد جذبات ډیر تاوده وو ، دیوه عیني شاهد په توګه راته هاغه خپل حق العضویت یا میاشتینۍ چنده هم یاده ده ، چې به مو دطالبۍ په دوران کې دبې وسه او تش لاسه سربیره مسؤلو ملګروته ددې تحریک غښتلتیا په پار ورکوله ، په همدې مهال دهیواد په جنوب کې دطالبانو ستر ستر جهادي جبهات هم لا له پخوا څخه موجود وو ، دکمونستانو له شکست څخه وروسته دنهیلیو ښکار او دیوه پاڅون لاره یې شمارله ، په دیني مدرسو او جامعاتو کې دجمعیت طلبه غورځنګ او هم مهاله دطالبانو سابقه جهادي محاذونه سره همغاړې او دیوه

اسلامي امارت په رامنځ ته کیدو نتیجې ته ورسیدل ،نو دطالبانو دتحریک دانسجام زرې اجنبي نه بلکې داخلي عوامل وو ،چې پداسې یوه سپیڅلې حرکت منتج شول .

دطالبانو مالي او نظامي منابع :

همدا اوس چې طالبان دامریکا داشغال پر خلاف داسلامي امارت دمجاهدینوکوم مالي سرچینې لري ،ددې څخه زیاتې یې مخکې درلودې ،پدې معنی چې دهیواد مخلصوشتمنواو نظامي اشخاصو چې پریمانه وسلې او پیسې درلودې او دقومندان سالارۍ څخه تنګ شوي وو ،سپین کاروان یې په داؤطلبانه شکل سره بدایه کاوه ، هغوئ چې مال ،ناموس او عزت یې دبې مسؤلیته وسله والو له لورې په خطرکې وو ،هر ډول مرسته او بسپنه یې نه سپموله .

طالبان او شهید اسامه بن لادن رح :

شک نشته چې شهید شیخ اسامه بن لادن رح یو نړیوال مجاهداو دټولو اسلامي هیوادونو حریت ته ژمن و ،دده نظر داو ،چې باید فلسطینیانوته خپل حق ورکرل شي ،له جزیره عرب څخه خارجیان ووځي او افغانستان کې هم باید یو اسلامي نظام وي ،خو داهم باید څوک هیره نکړي چې شهید اسامه بن لادن رح دطالبانو څخه مخکې هم افغانستان کې موجود و ،دشهید عبدالله عزام رح په څنګ یې دروسانوپه خلاف کلونه کلونه بې دریغه قرباني ورکړي اوله هغه مهاله ورسره ځینې جهادي تنظیمونو ښه دوستانه اړیکې درلودې ،طالبانوکه دشهید شیخ ښه په نړه میلمه پالنه کوله ،او تروروستۍ سلګۍ پورې یط ترې ننګه وکړه او بالاخره خپل سلطنت یې هم پرې قرباني کړ ،نو داصرف داسلامي دین حکم او افغاني عنعنات وو ،چې تر پایه یې ورسره سرته ورسول او دهرډول پوځي او سیاسي فشار په مقابل کې یې ورته ځانته پرینښود ،داسې به څو ونشي شودلای چې طالبانو دې شیخ اسامه ته دنړیوالوترحرکاتواو فعالیتونو په باب لارښوونه کړې وي ،بلکې هغه دلته میلمه او په نړیوالو مسایلو کې آزادو ،نو دلته وه چې ده به خپل نړیوال جهادي پلانونه پخپله طرح او تنظیمول ،طالبان به پکې نه دخیل اونه به ترې خبرو و .

دنیویارک پیښه او دطالبانو ناخبري :

کله چې په نړیوال سوداګریز مرکزاو پینتاګون باندې حمله وشوه، نو طالبانو ترې ناخبري وښوده اولکه دنړۍ دنورو حکومتونو حیران وو ،چې دا پیښه چا تنظیم کړه ؟بلکې په باب یې دغندنې اعلامیه هم خپره کړه ،دبلیو بش چې لا له مخکې څخه اسلامي امارت نشوای زغملای ،ورته ښه فرصت په لاس ورغی ،نړیوالو ته یې اعلان وکړ ،چې یا به زمونږسره کیږئ ! یا له القاعدې سره! ،په یوه خبرې ناستې کې خوې لا دصلیبي جنګ دپیل الفاظ هم وکارول ،چې بیا وروسته تر نیوکولاندې ونیول شو ،دافغانستان پر اسلامي امارت یې برید وکړ ،خودا په خپل ډول دې عصروزمان کې دیر نا انډوله جنګ و ،خو طالبانو ترې شاګرځ ونکړ ،اوتر پایه ورسره وجنګیدل، چې دادی نن دخپل شکست خوبونه ګوري او درسوایې سره مخ دي ،په افغانستان پداسې حال کې حمله وشوه چې نه دیولسم سپتمبرله پیښې څخه خبر وو ،اونه پکې دخیل وو .

امریکایان او دشمال بدنامه ټلواله :

دشمال په بدنامه ټلواله چې ترکیب کې یې ستمیان ،کمونستان ،شغلیان او دافغانستان دتجزیې لپاره له بهر نه ګمارل شوي ځیني تنظیمي عناصر راټول وو ،داسلامي امارت اتلو مجاهدینو دپنجشیردرې تر څنډو پورې وځغلول اودوئ تغریبي پسې ورټول کړ، خو دامریکایانو د دوستۍ او داځل له روسانو پر ځای ددوی دغلامۍ قبلولو وروسته بیا اشرشول او لکه دجنوب او ختیځ دټوپکوالو یې داسلامي امارت دبې ۵۲دوله الوتکو تر سیورې لاندې دمجاهدینو په خطونو دامریکایانو دپیاده عسکرو په

توګه جګړه پیل کړه ،طالبانو چې لا له مخکې نه یې دوئ ته خپل زور ښودلی و ،دبرهان الدین رباني هغه راډیویې وینا مې اوس هم غوږونو کې ازانګې کوي چې امریکایانو جنرالانو ته یې غږونه کول چې تاسو چې اوس کوم بمونه پر طالبانو وروئ دا دیر واړه دي او طالبان له پښو نشي غورځولای ،ددې نه هم پرې لوی لوی بمونه واچوئ.........دا پداسې حال کې چې دافغان ولس ،کونډو ،یتیمانو او مخلصو مسلمانانو ګریبانونه اوښکولانده کړي وو ،دهمدې تنظیمونو په وخت راغلي عربي جهادي کورنۍ هم بې اسرې دیوه خدای ج دربار ته لاس په دعاوي او دبار دولو خروکې به داسې پټ مخې ووچې چابه یو له بل څخه نشو بیلولای ،محترم استاذ !! لا پدې هم زړه نه یخیده ....ددې نه یې هم غټ غټ بمونه غوښتل ....بل طرف ته دوستمي ملیشو هم طالبانو سره له فریب نه کار واخست ،طالبانو سره یې لوی بشري غدر وکړ ،دسولې او خپلو کورنیو ته په سلامتیا رسولو سره ددوئ څینې مجاهدین په جنګي کلاکې په (١٣٨٠/٩/٥ نیته په پوره بې دردۍ شهیدان ،څینې مشران یې امریکایانو ته تسلیم او په زرګونه نور هغه طالبان چې امریکایان او انګریزان به تري واشنګټن اولندن کې ویریدل ،په کانتینرو کې په ساه بندۍ سره شهیدان او یا ژوندي تر خاورولاندې کړل ،داوه دشمال تلواله او دایې جنایات !! همدا اوس همدا تلواله داسلامي نظام مخه نیسي او دطالبانو کلک مخالفت همدوئ کوي ،خو متقابلا طالبان بیا داسې نکوي او په رسمې پالیسیو کې یې یادونه قدرې هم نکوي .

دطالبانو لاسته راوړنې :

داسلامي امارت تر ټولو ستره بریا داوه ،چې څنګه یې په لومړیو کې له خپل ولس سره ژمنه کړي وه، نو همداسې یې وکړل او افغانستان کې یې اسلامي شریعت پلې کړ ،هغه هیواد چې دهرلورې دتجزیې او ټوټه کیدو له خطر سره لاس وګریبان و ،په پوره څیرکتیا او متانت سره لدې بلا وژغورل شو ،قوماندان سالارې او دشراو فساد نه یې افغان ولس ته نجات ورکړ ،یو داسې بیلګه امنیت یې راوست ،چې له صدر اسلام نه وروسته یې چا کومه مثال نه ولیدلې ،دمعارف او اقتصاد رنګ شوي بنسټونه یې بیا ورغول ،دمنزوي شوي هیواد په توګه یې مخه وکړه، چې دسیمه ایزو هیوادونو او نوروخارجي ملتونو سره اړیکې پیوند کړي، چې له بده مرغه دجهاد او اسلام په وجه دمقابل لورې، څخه جفا وشوه ، خو امارت څکه بریا تر لاسه کړه ،چې خپل مسولیت یې پدې مکله رفع کړی او نن یې ستړګي جګي دي ،دا ٥٦ هیوادونو پوځې او اقتصادي شتون کې دادی نن کنټرول کیږي ،چې ددې ټولو لاس ته راوړنو کوم څرک نه لګي ،هغه بریا چې طالبانو ترلاسه کړي وه بهرنیان او غلامان یې په ګډه هم دا بریا نشي ترلاسه کولای .

داشغال څخه وروسته اسلامي امارت او طالبان :

دمیزان یا تلې له (١٥)مې له بلوا او پوځي تیري وروسته داسلامي امارت مجاهدینو لکه څنګه چې یې ژمنه کړي وه ،په جهاد او دفاع لاس پورې کړی ،دخپل دین ،ناموس او خاورې دخپلواکۍ لپاره په فدایې ګوزارونو او پرله پسې بریدونو دهیواد ټولې سیمې یې تر خپل پوښښ لاندې راوستې دي ،دادی الحمدلله مکار دښمن یې لالهانده کړی او له تیښتې نه په غیر ورته بله لار نده پاتې ،(٢٠١٤)ز کال چې اشغالګرو افغانستان کې دخپلو پوځونو دشتون دپای کال اعلان کړی دطالب مجاهدینو سرښندنو او نذرانو برکت دی ،لیرې نده ،چې دمیزان دشپږمې په څیر یو ځل بیا سپین لښکر دکابل پر ارګ وروخیژي او خپل ولس ته بیا دکفارو اشغالګرو په وړاندې دفتحې زیری ورکړي !!

وما ذالک علی بعزیز

وینې څاڅي

چینار ټکور

له زړګیو مو بې تابه وینې څاڅي
له نرګس او له ګلابه وینې څاڅي

هر ساعت دې په سرو وینو بدرګه ده
له شبېو دې انقلابه وینې څاڅي

د وطن له بدحالته دې خبر یې
محترمه او جنابه وینې څاڅي

تنکۍ هیلې په ګولو زخمي زخمي شوې
بې حسابه بې کتابه وینې څاڅي

دا وطن دی اوښکې اوښکې وینې وینې
دمظلومو لا جوابه وینې څاڅي

دا آمو هلمند واخان له وینو ډک دی
له ترنک او ارغندابه وینې څاڅي

مونږ ستا له قدرتونو ټکور غواړو
له زخمونو مو توابه وینې څاڅي

هیله

مولوي احمدګل ریان

څاروانه ورو څه تیم مزل کې ساه دې ونه سوزي
شپه ده غدی شته دکاروان پناه دې ونه سوزي

عیسی تکل به دي په مړاوي ارمان ژوند لوروي
دحسرت څریکه دعشرت رویا دې ونه سوزي

دتورې کرکې په تور څوکې درته ناست دي یو څوک
پام په سپېڅلو هیلو سپین سبا دې ونه سوزي

په باغ د زړه دي دبد نیت باښې وزر رپوي
د ښه تدبیر د بلبلک نوا دې ونه سوزي

شک به ګناه وي خو (ریانه) کله کله نه ده
راز او ماشومه تمنا اشنا دې ونه سوزي

پام کوه

ولي الله ذهین

امتحان دی خدای لپاره پام کوه
ګوره، ګوره ځان له عاره، پام کوه

دمظلومو سترګې ستا په لورکږې دي
د رنځورو زړو سالاره پام کوه

مړاوې ګلان ټول د رپسې ګوري
د زخمي ګلو مالیاره پام کوه

وهر پل ته دې پراته دي سل دامونه
ډیر محتاط او سه پرلاره پام کوه

چې دکبر پر نیلي باندې سپور نه شي
زما د تورې حجرې یاره پام کوه

د ذهین د زخمي زړه غزل ته غوږ ته شه
زموږ دستړیو زړو قراره پام کوه

پیغور

شپونکی

دمیرویس اولاد ته گوره!!
دگورگین لښکر کې څغلي
آزادي مي وژني، وژني
د پردي کافر په توره

* * *

انګریز بیا په خپل لښکر کې
داحمد له کندهاره
دا دی بل شاشجاع راووست
د صلیب تر سیوري لاندې

* * *

د (آدم) دتور غره خواکي
د (برايدن) پر زړه لاره
دا دی بیا لښکرې درومي
خو مخ پورته، نه مخ کښته
(مکناتن) یې دی په مخکې
له اکبره کسات اخلي
خو دا ځل د (لارې خلک)
هم له د وئ سره روان دي

د ببرک ورونو ته گورئ!!
بیا یې سرې ماڼۍ ته مخ کړ
د لینن پر قبر ژاړي
که قبول یې شي سوالونه

* * *

څه ببر ببر (شیخان) ول
ورنه هېره یې شیخي شوه
د محراب پر ځای اوس گورئ
میخانه کې کړي نفلونه
د کعبې پر ځای روان دي
اوس د سپینې ماڼۍ خواته
چې یو څه شکر ادا کړي
دفرعون ناپاک حرم کې

* * *

د سپین غره سپینه لمن چې
د (حجاز) له پاکو وینو
سره رنگینه شوه، الوان شوه
سره لاله به پرې راشنه شي
چې دا (تور داغونه) پټ کړي
له تندي د (تورې بورې)
گوندي خلاص شو له پيغوره
د (پردېسو) ارواگانو

ابوصهیب حقانی هراتی

انتخابات یا افتضاحات ؟!؟

در حالیکه بیش از ده روز از شروع ثبت نام کاندیداتوری در انتخابات نام نهاد ریاست جمهوری افغانستان می گذرد و در این پروسه ریشخندی تا کنون جز یکی دو نفر (جهت ثبت نام) شرکت نجسته اند و در طرف دیگر جنگ سالاران غرب پرورده ، به دنبال آرایش های سیاسی بر آمده و برای برخوردار شدن از نفوذ سیاسی و اجتماعی در میان توده مردم و رهبران اقوام و ملیت ها ، وارد معاملات گزافی شده و می شوند و تمام جریانات محور انتخابات ، طبق منویات شوم و پلان های از پیش طراحی شده دشمنان دیرینه اسلام در حال اجراء می باشند ؛ این معرکه سیاسی اما ، از یک سوی دیگر باعث یکسری رسوایی ها و افتضاحات ، بین سران قلدرمآب ، ریش سفیدان نا ریش سفید ، تشنگان قدرت و حشمت ، جاه طلبان وطنفروش و جنگ سالاران خاین گردیده است ؛ که این بار خود به روایت خویش اسناد رسوایی ها را برملا کرده و پرده از روی حقایق برداشته و چهره های پشت پرده و نقاب زده شان را به ملت افغانستان و جهان ، رو می کنند .

همانطور که بارها از آدرس های صحیح به ملت شریف افغانستان گفته شده بود که پروسه نام نهاد "انتخابات" ترفند دشمنان است که بنابر جهت گیری های خاص سیاسی ، طرح و در جهت اشباع غرایز شیطانی کفر ستم پیشه بر ملت مظلوم ما تحمیل شده است و کسی در انتخابات به عنوان فرد اصلح و شایسته کاندید نمی شود و نه هم کسی به انتخاب آرای ملت ، به کرسی (به اصطلاح) مقام ریاست جمهوری می رسد ؛ طبق مستندات روشن و اظهر من الشمس حداقل در افغانستان ثابت گردید ؛ که آنچه در مورد انتخابات ناکام افغانستان پیش بینی شده بود به کمال و تمام تحقق یافته و حتی در پاره ی از مسایل دست تعدی دشمنان بیش از پیش آشکار گردید ؛ در این مجال مختصر قصد ما بر آنست که گوشه از نحوست های پدیده شوم انتخابات را به بحث بگیریم و اینکه رهبر ن (به اصطلاح) سیاسی افغانستان در انتخابات پیش رو از همین اکنون دچار چه وسوسه های شیطانی شده و حرف دن آنها برای یکدیگر چیست و چگونه با تمسخر دشمنان برای همدیگر خط و نشان می کشند ؟!؟

اصل ماجرا از سر "محمد محقق" رهبر حزب وحدت اسلامی شروع می شود که با یکجاشدنش در پارتی داکتر عبدالله سب به سخن گشود و قلم به نوشتن برداشت و در صفحه اجتماعی فیسبوک در مورد یاران هم پیمان و دیرینه اش در جبهه ملی اینگونه به ارایه توضیحات ؛ و یا به عبارت ساده تر به افشاگری پرداخت : اگر بخواهیم مواضع محقق را دسته بندی کنیم او در واقع سه نفر را مورد حمله قرار داد (جنرال دوستم ، احمد ضیاء مسعود و امرالله صالح) که روزی این سه نفر جزو یاران دلی وی محسوب می شدند و با همیاری هم ، مشترکات زیادی داشته و تصمیم داشتند با هم مسیر پر پیچ و خم آینده را بپیمایند : محقق با این کار (تقریبا) بی سابقه اش به سنت شکنی شهره یافت و با این شیوه ، یک برنامه (به اصطلاح) خود مظلوم سازی را به راه انداخت ؛ او کاری کرد تا ناگفته های زیادی برملا شود و مردم افغانستان یکبار دیگر در آزمون انتخابات (که در واقع جز دامی از طرف دشمنان برای فریب ملت نیست) چهره های خود خواه ، فرصت طلب و مردم فریب را بهتر بشناسند ؛ به هر حال محقق ابتدا از دوستم و حزب وی شروع کرد و در باره اش نوشت : "در دور قبلی انتخابات ما و جنبش قرارداد کردیم که یکجا برویم و نیز قرار شد که با توافق استاد ربانی از کاندیداتوری داکتر عبدالله حمایت کنیم که اوراق تکت انتخاباتی داکتر عبدالله روی میز من بود که در آخرین لحظات برادران جنبش خود را عقب کشیدند و بحث حمایت از کرزی مطرح شد" ، در جای دیگر نوشته : "ما سه نفر تعهد و قرآن کردیم (قسم خوردیم) که در انتخابات یکجا می رویم. دوستم و عطا محمد نور ، دست دادند و من از بالای دست هر دو گرفتم به شوخی گفتم که بخاطری من دست هر دوی تان را محکم می گیرم که باز هر دوی تان جدا نشوید ؛ اما وقتی که به افغانستان آمدیم ، جنرال صاحب دو چیز دیگر را مطرح کرد ؛ یکی اینکه با داکتر عبدالله نمیرویم ، دوم اینکه معاونت میخواستند ؛ که این دو خواسته عملی نبود و

شرایط افکار عمومي داخل وخارج آنرا پذیرا نبود "از محتوای این سخنان به خوبی پیداست که محقق علت جدا شدنش از صف دوستم، عهد شکنی جنرال را بهانه می آورد و دوست ندارد دیگر با آدم عهد شکن همراه بشود ؛ در ادامه افشاگری ها، محقق راجع به مسعود اینگونه نوشته است : "طی جلساتی که با کشورهای ذی دخل در قضیه افغانستان داشتم به شمول کشورهای شرقی و غربی هر قدر که احمد ضیاء را مطرح میکردیم هیچ کدام شان در انتخابات آینده بالای ضیاء نگر نداشتند پس چطور میتوانستیم با کسی تیم بسازیم که نه حمایت داخلی دارد و نه مقبوبیت بین المللی" و از این سخن نیز بوضوح پیداست که این رهبران، در پشت برده با کشورهای غربی و شرقی در جهت وابسته نگهداشتن افغانستان، چه چانه زنی ها که نمی کنند و چه پافشاری ها که به خرج نمی دهند تا کماکان غلام و برده دیگران باقی بمانند ؟؟؟ و اما وقتی این سخنان به گوش جنرال و مسعود رسید آنها اینگونه به دفاع برخواستند (به نقل از رسانه های خبری :) "... احمد ضیا مسعود، رییس جبهه ملی با نشر اعلامیه ای گفته است : "انتظار نمی رفت تا آقای محقق به عنوان یک سیاستمدار با تجربه بخاطر توجیه تصمیم خلاف جمعش به اتهامات و روایت های وارونه به آدرس جبهه ملی، متوسل شود ... مسعود، تاکید کرده که اعضای ارشد رهبری جبهه ملی افغانستان باور به رای و تصمیم ملت افغانستان دارند وهیچ نوع رایزنی در ارتباط به سرنوشت انتخابات افغانستان با کشورهای بیگانه نداشته و به جناب استاد محقق نیز چنین وظیفه یی را نسپرده اند ... در این بیانیه تاکید شده : مشاوره هایی که جناب ایشان از آن یاد آوری کرده اند کار شخصی شان بوده هیچ ربطی به جبهه ملی افغانستان ندارد ... " آری ! و اینگونه است که مسعود با یک جمله "انتظار نمی رفت ! ... " (خود دانسته یا ندانسته) ضمن صحه گذاشتن بر حرف های محقق، از وی اعلان برائت می جوید و به گونه ای واکنش نشان می دهد که گویا اصلا محقق را نمی شناخته و هیچ اطلاعی از برنامه های سری وی نداشته و در داد و ستد های کلان کشوری با شرکای بین المللی روی خاک پاک و ملت رنجدیده افغانستان، هیچ دخلی نداشته است ؛ وی فراموش کرده که دیگر حتی برای دفاع شخصی آنها دیر شده و خود علیه هم به رسواگری پرداخته اند و مثل مار گزیده ها انگشت اتهام را بسوی همدیگر اشاره می روند ؟؟؟

و اما شخص سوم که محقق وی را مورد تاخت و تاز قرار داده کسی نیست جز امرالله صالح که درباره او چنین نگاشته است : "از داخل، تاجکان فقط صالح را دارد که ایشان پایگاه اجتماعی قوی ندارد و فقط در تهمت زدن مهارت دارد، بودن صالح در کنار احمد ضیاء که آنهم نه برای احمد ضیاء بلکه به مقصد خود ... " و اینگونه است که واقعیت ها در مورد ذات دغلباز صالح، این بار اما از طرف دوستانش فاش می شود ؛ اما آیا واقعیت چنین است ؛ یعنی محقق آدم نسبتا مناسب تر و دلسوز تری است ؟ برای شناختن هرچه بهتر محقق بهتر خواهد بود به واکنش امرالله صالح توجه کنیم که درباره محقق چیزها می داند که خیلی ها خبر نداشتند (واگر هم داشتند باور نداشتند) صالح در صفحه فیسبوک خود خطاب به محقق چنین می نویسد : "من مانند شما القب تقلبی استادی ندارم. من مانند شما تلویزیونی که مصارف آنتن هایش را یک سازمان استخباراتی و معاش مامورین اش را سازمان استخباراتی دیگر بدهد ندارم. من قبل از گرفتن تصمیم های سیاسی به سه کشور همسایه سفر نمی کنم. من پیمان هایم را با متحدین ام در سفارتخانه ها و مهمانخانه های استخباراتی در کشورهای همسایه نه بلکه در شهر کابل می بندم. از ذکر ملاقات های تاریک با خارجی های شرقی و غربی بخاطر چانه زنی بر سرنوشت کشورم، پرهیز و شرم میکنم برخلاف شما که آنرا معیار اساس و معیار بلی و نخیر در انتخاب تان قرار میدهید ... این معاون شما بود که با اسناد جاسوسی با (آی اس آی) دستگیر شد واگر سیاست تضرع و دستبوسی شما به ارگ نمی بود او باید زندانی می شد ... "این سخنان آن قدر واضح هستند که نیاز به هیچ شرحی دیگر ندارند !؟!

وقتی همه گفته های فوق را کنار هم قرار بدهیم ؛ واقعیت و ماهیت (به اصطلاح) رهبرانی که می خواهند از طریق پروسه نام نهاد انتخابات، آن هم بر موازین غیر شرعی و عنعنوی و بلکه بر مبانی غرب، سرنوشت کشور و ملت شریف افغانستان را در فرداهای نیامده در دست بگیرند ؛ به شاخص ترین وجه ممکن مشخص می شود ؛ آنهایی که طبق گفته های خودشان، تنها در بخشی از ناگفته ها و حقایق، هر کدام باری از دوسیه های رسواگرانه و روسیاه کن بار دوش دارند و از نوک پا تا فرق سر در خیانت، غدر، نفاق، وطنفروشي و فساد، آلوده و غرق اند ؛ ولی باز هم با وقاحت تمام و بی شرمی، از رهبری، عدالت خواهی، مردم سالاری و پاسداری از خاک و ناموس وطن دم می زنند ؟؟؟

خلاصه آنچه که تاحال از انتخابات بحث برانگیز پیداست بجای آنکه برای رهبران فرومایه خیر باشد، تبدیل به شر شده است و کانون گرم رسوایی ها و افشاگری ها ؛ تا هنوز که چیزی نشده اینگونه عوامل به اصطلاح متحد انتخاباتی از هم جدا گشته و روز به روز بر اختلافات ذات البینی آنها افزوده می شوند و تارهای عنکبوتی اتحاد رهبران جاه طلب در حال گسستن است و همه اینها در کل، از شکست دشمنان در تمام زمینه ها حکایت دارد و اینکه دشمنان با ناکامی و ذلت واقعی مواجه هستند .

به امید پیروزی نهایی فرزندان به حق کشور و شکست دشمنان اسلام در همه پروسه ها !

قاضي شُريح

دعدل اوانصاف ، دڼګ منار!!

ژ: خبيراحمد 'مجاهد '

حضرت شريح دحارث ځوی اودقيس لمسی ، چې ديمن د کندی قبيلې سره تعلق درلود ، کنيه نوم يې أبو أميّة و ، چون هغه زيات عمريه قضا کې تيرکړل نو په شريح بن شَرحَبيل باندي مشهورشو ،(الأعلام، ۱۲۱/۳)

ابن حجرپه خپل کتاب(الإصابة فی تمييز الصحابة) کې وايي: شريح ،چې دصدراسلام دترټولو مشهورو قاضيانو له جملې څخه وو درسول صلی الله عليه وسلم ، له رحلت څخه پنځه کاله وړاندې داسلام په مقدس دين مشرف شوی ، خو رسول صلی الله عليه وسلم يې نه وو ليدلی ، لـه همدې کبلـه قاضـي شـريح دبزرګـوارو تابعينو په کتارکې شميرل کيږي

ابن خلکان او اخبارالوکيع کې راغلی ، چې شريح په خپل وخت کې لوی فقيه ، مفسر، مجتهد ، داحاديثو په علم کې ثقه ، نسب شناس او زبده شاعروو ، دوفات په اړه يې مختلف اقوال دي ، ځوک وايي په کال ۷۸ اوځوک بيا وايي چې ۸۰ هجري قمري کال لدې نړۍ څخه سترګي پټي کړي ، همدارنګه يې عمر په ځينو اقوالو کې ۱۱۰-۱۲۰او په ځينو نوروکې ۱۰۸ کاله ذکرشوي.

وايـی: شـريح پنځـه کلـن وو چـې پـه يـوه سـفرکې پلارله ځان سره بوولی وو ، هغـه دلاري پـه اوږدو کې لـه پلارڅخـه لـړورسته پـاتې شـو ، دغلـو لـه ويرې يې پـه پلارپسي ډيرې ناري ووهلي خوپلاريې نـه اوريدلې لـه شريح سره په قافله کې نور ماشومان هم وو هغوی ترې په عمرکـې يوڅـه لويـان وو ، ماشـومانو شـريح تـه خنـدل اوورته ويل يې چې ته همدلته لږودريږه ، مونږ ځان لږ پټوو اوبيا بيرته درځو ، دغو ماشومانو ددې پرځای چې شـريح تـه ورشـي دهغـه پـلار تـه يـې ځـان وروررسـاوه اوشکايت يې وکړ چې شريح له مونږ څخه ليري شوی اوله تاڅخه هم سرکشي کوي ، هماغـه وو چې پلاريې راووست اودهغـه پـه ويلـو يـې شروع وکـړه ، شريح کـه هرڅـه ورتـه ويـل چې پـلاره زه بې ګناه يم اومظلوم يم ماهيڅکلـه سـتاله امرڅخـه سـرغړونه نده کړې ، خولـه شـريح سـره کـوم دليـل نـه وو نـو پلاريې دهمځولـو ماشـومانو پـه مـخ سـخت وواهـه ؛ دغـه جريـان پـه شريح زيات تاثيروکړاوپه دې پوه شو چې يو مظلوم نه دليل

ولري او نه شاهد نو په دې حالت کې هغه ترکومه حده انصاف او عدالت ته محتاج او تږی وي

دشریح ایمان راوړل :

شریح ۳۰ کلن وو چې حضرت علي بن ابی طالب رضی الله عنه ، نبي اکرم صلی الله علیه وسلم ، یمن ته واستاوه ، هلته یې له شریح سره هم لیدل وشول ، شریح له علی رضی الله عنه څخه وپوښتل چې ستا دین څه ته بلنه لري ؟ حضرت علی رض دا ایت کریمه ورته ولوسته چې ﴿إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيتَاءِ ذِي الْقُرْبَىٰ وَيَنْهَىٰ عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ﴾ (نحل : ۹۰) ترجمه : په تحقیق سره الله امرکوي په عدل او نیکي او خپلوانو ته په بخشش باندي او له فحشا ، ستم او ناروا څخه منع کوي ، تاسي ته پند درکوي ښایی چې دپند قبلونکي جوړشی.

دعدل په کلمی سره شریح سخت په حیرت کې شو او په ډیره دلچسپی یې وپوښتل چې داسلام دین بل څه امر او دستورلري ؟ حضرت علی رض ورته دا ایت کریمه وو ایه ﴿إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُم بَيْنَ النَّاسِ أَن تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ إِنَّ اللَّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُم بِهِ إِنَّ اللَّهَ كَانَ سَمِيعًا بَصِيرًا﴾ ترجمه « الله تعالی تاسي ته امرکوي چې امانتونه دهغوی خپلو خاوندانو ته ورسوي او هرکله چې دخلکو په منځ کې حکم او پریکړه کوی ، نو تاسي حکم کوي په عدل او انصاف سره ، په حقیقت کې ډیرښه خیز هغه دی چې الله تعالی تاسی ته په هغه پند او نصیحت درکوي ، الله اوریدونکی او لیدونکی دی. (نساء : ۵۸)

بیایې وپوښتل چې ستا پیغمبر څه وایي ؟ حضرت علی رض ورته داسې ځواب وو ایه : «سبعة یظلهم الله فی ظله یوم لا ظلّ إلا ظله أولهم إمام عادل» ترجمه : اوه ډلې دي چې الله تعالی دخپل رحمت په سیوري کې ساتي ، رومبی یې عادل امام دی.

دحضرت علی رض ځوابونو دشریح تنده سیرابه کړه او خپله لویه ورکه یې پیداکړه او په لوړ او از او خوشحالی یې وویل چې «دینٌ یدعو للعدل» هو دا هغه دین دی چې خلک عدالت او انصاف ته رابلي ، هماغه وو چې داسلام مقدس دین په ډیرویاړ و مانه ، کله به چې تری پوښتنه وشوه چې ته څوک یې ، نو شریح به ورته ځواب داسې وایه

«ممن أنعم الله علیه بالإسلام» «زه دهغو کسانو له ډلې او جملې څخه یم چې الله تعالی په هغو داسلام نعمت لوررولی (الذهبی، سیر أعلام النبلاء، ۱۰۱/۴)

دشریح دقضا مقام :

ابن حجر رح وایی شریح په یمن کې دپیغمبر صلی الله علیه وسلم له خاص سفیر حضرت معاذبن جبل رضی الله عنه سره یوه موده تیره کړه او هغه یې له مشفقو استادانو څخه وو ، بیا مدیني منوري ته راغی او دحضرت عمر رضی الله عنه ترخلافت پوري هلته پاتي شو او دفقیهو صحابه کرامو څخه یې زدکړي ترلاسه کړلي.

وایي ، حضرت عمر رضی الله عنه ، له یوه کوچي څخه اس اخیستی وو ، ځوورځي له حضرت عمر رض سره وو ، خو چنداني مزل یې نشو کولای ، ورسته معلومه شوه چې اس معیوب دی ، حضرت عمر رضی الله عنه ، کوچي ته ورغی او ورته یې وویل چې تا په ما باندي معیوب اس پلورلی او ماتاته دروغ اس قیمت درکړی ، کوچي ورسره دعوه شروع کړه او ورته یې وویل چې زما او ستا فیصله به شریح ابن الحارث الکندي کوي ، عمر رضی الله عنه که څه هم ترهغې ورځې پوري شریح

نه پيژانده خو قناعت او اتفاق يې پرې وکړ ، دواړه ورغلل ،هرکله چې شريح د کوچې خبرې واوريدې ، نوحضرت عمررض ته يې وکتل اووې ويل: اې اميرالمؤمنين ! تادغه اس روغ اخيستی وو؟ هغه ورته وويل چې هو ، شريح ورته وويل .يااسپ له خپل ځان سره وساته اويادې چې څنګه اخيستی هماغه ډول يې بيرته مخکيني څښتن ته تسليم کړه اوخپل قيمت ترلاسه کړه او دتسليمدو تروختـه پورې تـه دهغـه ضـامن يـې !، حضرت عمررض چې دغه فيصله واوريده نو حضرت شريح رح ته يې وويل چې بيشکه داحقه فيصله ده.

دتابعي شريح رح همدغه درايت او بصيرت وو چې حضرت عمررض نوموړی په داسې حال کې چې جليل القدره صحابه موجودوو ،دکوفی لپاره قاضي وټاکه !!

شريح تنهايو شرط وړاندې کړ چې دقضا لپاره يوخاص ځای (دار القضاة) پـه نـوم ودان اوفرمـان صادرکړي چې دخلافت پـه ټولـو اسلامي ښاټوبوکې دقضاۀ لپاره هغه ودان اوابادوګرځوي ، ترڅو قاضيان دقضا لپاره په سړو مغزو دخپلو کورونوپه ځای په يوه مستقل ځای کې چې هيبت ولري ووځي چې دحضرت عمررض له لوري دغه غوښتنه قبوله اوترننه پورې پرې عمل کيږي.

شريح په کوفه کې دبې مثاله عدل اوقضا چلولو له امله دنورو خلفاوو پـه دوروکې هم پاتـه شو اوشپيته کاله دکوفي قاضي وو

(ابن عبد البر ،په الإستيعاب فی معرفة الأصحاب، ۲۱۲/۱) کې ويلي دحضرت معاويه رضی الله عنه په زمانه کې شريح دمشق ته وغوښتل شو اوهلته هم ددمشق قاضي وګمارل شو ، له همدې کبله شريح ته د «قاضی المِصْرَين» لقب هم ورکړل شوی يعنی هم دکوفی اوهم ددمشق دقاضي پـه توګـه. ابـن حجر وايي چې شريح ديوکال لپاره د حجاج بن يوسف ثقفی په عهد کې دبصري دقاضي په توګه هم پاتې شوی ، دبصري له قضا څخه يې له يوه کال ورسته استعفاورکړه اودليل يې داپه ډاګه کړ چې نور نه غواړم دبصري قضاپه داسې حال کې سرته ورسوم چې دمسلمانانو حاکم حجاج وی !!

وايي چې حضرت شريح رحمه الله په داسې حال کې لدې دنيا رخصت شو چې له نيم قرن يې دقضا دنده ترسره کړې وه او له وفات کيدو يو کال دمخه يې دقضاله مسند څخه لاس اخيستی وو

دقضالپاره دشريح رح اهليت :

شريح دکارپه خونه کې ليکلي و : «إنّ الظالم وإنْ حَكمتُ له يَنتظرُ العقاب، وإنّ المظلومَ وإنْ حكمتُ عليه يَنتظر الإنصاف» ترجمه: که چيرې (په اشتباه) دظالم په نفع حکم صادرکړم ، ظالم دې دالهي عذاب انتظارباسي اوکه چيری دمظلوم په حق حکم وکړم نو هغه دې دالله تعالی له لوري دانصاف انتظارباسي) حلية الاولياء، ۱۳۲/۴)

هروخت به چې دقضا مجلس ته حاضرشو ، نودغه مبارک ايت به يې تلاوت کاوه «يَا دَاوُودُ إِنَّا جَعَلْنَاكَ خَلِيفَةً فِي الْأَرْضِ فَاحْكُمْ بَيْنَ النَّاسِ بِالْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعِ الْهَوَىٰ» ترجمه: اې داووده ! لکه څنګه مو چې تـه پـه ځمکه کې خليفه وګمارلې ، نو پس دخلکو په منځ کې په حق اوعدالت باندې فيصله کوه اودنفس اوهوا پيروي مکوه (ابن کثير)

شريح بـه تـل بـه ددعوا دواړولورتـه داسې خطاب کاوه : «إنما يقضی علی هذا الرجل أنتما وإنی لمتّقٍ بكما فاتقيا» ترجمه: پـه يـو دتاسو دونفرو حکم کيږي ، زه لـه الله تعالی ويريږم ، خو تاسي هم له الله نه وويريږي

شریح به هیځکله داسې یوه دعوه نه فیصله کوله چې ددعوې له یوه جانب سره به یې کومه رشته اوتعامل درلود ، یوه ورځ یو میلمه کورته ورغی ، له دوږی خوړلو ورسته یې له شریح څخه دیوې دعوې اومسئلې په باب چې هغه ته پیښه وه پوښتنه وکړه اودحل غوښتنه یې ترې وکړه ، شریح میلمه ته اختیارورکړ چې یایې له کوره ووځي اویاهم دغه قضاوت بل کس ته وروړي.

په سلام اچولو کې به له شریح څخه چا پرمختګ نشو کولای ، هغه به ویل: «ما التقى رجلان قط إلا كان أولاهما بالله الذي يبدأ بالسلام» ترجمه: هرکله چې دوه نفره سره مخامخ شي ، نوهرکس چې مخکي سلام واچاو په دواړو کې همدغه بهترین اوغوره دی

شریح په عدالت رسولو اوسپارلو کې مشهوررو اودقضاپه لوړمقام اوهم یې په خطیرو لارو پوهیده ، نوځکه به یې همیش داحدیث مبارک وایه: «عدلُ يومٍ أفضلُ مِن عبادة ستّينَ سَنة» ترجمه: په یوه ورځ کې دعدالت قایمول داغوره ده له ۷۰ کالو عبادت څخه (السیوطی، جامع الاحادیث، ۱۸۲/۱۴(

روایت دی چې دشریح ځوی دیوه چاکفیل اوضامن ګرځیدلی وو اوهغه کس غیب اوتښتیدلی وو ، نوشریح خپل ځوی ۳۰ ورځې زندان ته ولیږه ، کله به چې شریح زندان ته دخپل ځوی دلیدلو لپاره ورغی نو داحدیث مبارک به یې ورته لوسته «لو أنّ فاطمة بنت محمّد سرقت لقطع محمّدٌ يدَ فاطمة» ترجمه: که فاطمه ، دمحمّد لور ، غلا وکړي ، محمد به دهغې لاس ارومرو قطع کړي (ابن سعد ، الطبقات الکبری، ۱۳۲/۲)

وایي شریح دوفات په مهال ژړل ، کله چې ترې دعلت پوښتنه وشوه هغه وویل: په یوه قضاوت کې چې دواړه طرفین حاظروو له یوه سره مې په زړه کې محبت پیداشو او په زړه کې مې تیره شوه چې هغه طرف په خپلې دعوې کې کامیاب شي.

کله چې له شریح پوښتنه وشوه چې څنګه دومره اوږد عمرته رسیدلی یې ، خوبیاهم دسترګو ، جسم اوعقل په لحاظ سالم یې ؟ شریح وویل دځواني په وخت کې مې دالله حدود حفظ او قایم کړل اودبوډاتوب په مهال الله تعالی زه سالم اوله ناتوانی څخه حفظ کړم

دشریح ذکاوت او پوهه :

دحضرت شریح دذکاوت اوفهم په اړه روایت شوی چې داسلام څلورم خلیفه حضرت علی رضی الله عنه کوفې ته تللی وو اودکوفې ټول مشهور عالمان یې راټول کړی وو اوله هغوی سره تمامه ورځ علمي مباحثه وکړه ، دمجلس په اخیرکې چې دحضرت علی رض ټولو پوښتنو ته یوه کس مقنع ځوابونه وویل هغه حضرت شریح وو ، داسلام خلیفه هم په ځانګړي جذبه اومحبت شریح مخ طب وګرځاوه اوورته یې وویل: «قُم يا شُريح فأنتَ أقضَى العَرب» ترجمه: پورته شه ای شریح !چې ته دعربو بهترین قاضي یې. ، حلیة الاولیاء، ۱۳۴/۴)

همدارنګه بل روایت دی چې دحضرت علی رض جنګي لباس (سپر) په یوې جګړه کې نادرک شو ، ورسته هغه لباس دیوه یهودي په لاس کې لیدل کیږي ، چې په بازارکې یې خرڅوي ، حضرت علی رض یهودي ته وایي چې دازماسپر دی ، اویهودي ورته وایی چې نه دازما خپل دی اوزه یې مالک یم ځکه چې په لاس اواختیارکې یې دی ، دعوه شریح ته ولاړه ، قاضي شریح ، له حضرت علی رض څخه وغوښتل چې جریان ووایی ، حضرت علي رض وویل چې په فلانی جنګ اوفلانی شپه کې زما له بارڅخه دغه جنګي سپرلویدلی اوله مانادرکه وو او اوس هغه ددغه یهودي په لاس کې

ماوموند ، شریح ورته وویل چې پرتابندي زه یوه زره بدګماني هم نشم کولای ، خوبیاهم دشریعت پریکړه اوقانون دادی چې ته دوه تنه شاهدان راوله ، حضرت علی رض خپل ځوی حضرت حسین رض اوغلام قنبر دشاهدي لپاره حاضرکړل ، شریح حضرت حسین رض رد کړ ، حضرت علی رض تعجب کوي چې شریح څنګه دهغه چا شاهدي نه قبلوي چې حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم هغه دجنت اهل اودځوانانو له سردارانو بللی ؟ (الحَسَنُ وَالحُسَيْنُ سَيِّدَا شَبَابِ أَهْلِ الجَنَّةِ)

قاضي شریح وویل: بیشکه همداسې ده ؛ خوشاهدي دځوی دخپل پلارپه حق کې قبوله نده ، نوله همدې امله یې فیصله دیهودي په نفع صادره کړه ، یهودي لږ درنګ وکړ اوبیایې وویل چې حق له علی سره دی ، دغه جنګي لباس اصلادعلی دی ؛یهودي تعجب کوي وایي چې(امیرالمؤمنین دقاضي په وړاندې دریږي اوبیاهم قاضي دهغه ظاهرا په تاوان فیصله کوي ، بیشکه چې دغه دین حق دی اوزه پرې شاهدي وایم اوزه یې قبلوم) ، حضرت علی رضی الله عنه هم ددغې صحنې له لیدلو ورسته هغه جنګي سامان یهودي ته ښنې (الصنعانی، سبل السلام، ۱۲۵/۴(

۳دغه ډول شعبی نقل کوي چې دشریح مجلس ته یوه ښځه په داسې حال کې راغله چې سختې چیغې اوفریادیې کاوه اوله خپل غایب خاوند څخه یې شکایت کاوه ، شعبی وایي چې زما سخت زړه په ښځه وسوځیده او حضرت شریح ته مې وویل چې ډیرژر دښځې په حق کې فیصله وکړي اوحق یې له خاونده ورته واخلي ،وایي شریح ماته وکتل اووی ویل چې ته څه دلیل لري دغه ښځه مظلومه اوخاوندیې ظالم دی ؟ ماورته وویل څکه چې ډیره شدیده ژاړي اوفریاد کوي ، شریح وویل چې ترڅو موضوع نه وي روښانه شوي فیصله نشي کیدلای ،

څکه دیوسف علیه السلام وروڼه په داسې حال کې خپل پلارته ورغلل چې هم یې ظلم کړی وو اوهم یې ژړل. «وَجَاءُوا أَبَاهُمْ عِشَاءً يَبْكُونَ» (یوسف ۱۲) (الکندی، السلوک فی طبقات العلماء والملوک، ۸۲/۱)

له حضرت شریح رح چاپوښتنه وکړه چې دڅه شي په ذریعه دې دومره لوی علمي مقام ترلاسه کړ؟ هغه وویل (بمذاکرة العلماء، آخذ منهم وأعطیهم) له علماوو سره په ناسته اومذاکره کې ، چې ماله هغونه

ترلاسه کړل اوماهغوی ته ورکړل)

شریح محدث هم وو :

لکه مخکې چې وویل شول حضرت شریح محدث هم وو ، له عمر بن الخطاب علی بن ابی طالب ابن مسعود زید بن ثابت عبد الرحمن بن أبی بکر او عروة البارقی څخه داحادیثو روایت کړی ، دغه راز قیس بن أبی حازم ابن سیرین مرة الطیب ابراهیم النخعی او الشعبی ،رح بیا له ده څخه روایت دحدیثو ترسره کړی (النووی ، ۳۴۱/۱)

دکندز والي ښاغلی " مخلص " له شهامت سره په مرکه کې :

اوس په دښمن ښکاره اوجبهه يي جنگونه کوو

کندوز دهېواد په شمال ختيځ کې مشهوراومهم ولايت دی ، مرکز يې دکندوز ښاردی ، کوم چې دهېواد له مهمو سوداګريزو او سرحدي ښارونو څخه دی ، دغه ولايت دمرکز سربېره شېږ ولسوالۍ لري لکه امام صاحب ، قلعه زال ، چاردره ، علي آباد ، خان آباد اودشت ارچي ، په تاريخي اوجغرافيوي لحاظ کندوز ښه ځانګړې ارزښت لري ، هم داراز پکې دپېړيو ،پېړيو راهيسي ګڼ قومونه اوتوکمونه لکه پښتانه ،تاجک ، ازبک ، هزاره ، ترکمن او ايمقاق په ګډه ورورولۍ ژوند کوي ،کله چې هم زمونږ په خاوره دکوم بهرني تيري ګر له لوري تيری شوی، دهېواد دنورو ولايتونو دميړنيو قومونو اوپرګنو پشان دکندوز ميړني قومونه او پتمن خلک هم په زړورتيا اوباتورۍ دتيري ګرځواک سره جنګيدلي اوپه کلکه يې له خپل دين ايمان اوهېواده ننګه اودفاع کړې

څنګه چې دپخواني شوروي يرغل په ورانده دکندوز دباتورو خلکو جهادي قربانۍ اوسرښندنې لازوال وي ،هم داسي داوسنيو يرغلګرو په مقابل کې دکندوز دمؤمن ولس دجهادي ستړياوو اوقربانيو داستان اوحماسي لامثالا دي ، چې پرې به تر پيړيو ،پيړيو دهېواد راتلونکي نسلونه وياړي

ددې لپاره چې په کندوز دروان جهاد اومقاومت له برياوو اولاسته راوړنو دشهامت درانه لوستوال هم خبر ولري ،مونږ داخل دځانګړو جهادي مرکو په لړ کې د دغه ولايت لپاره داسلامي امارت دجهادي چارو له مسؤل(والي) سره يولنډه مرکړي ،درنو لوستونکوته يې دلوستو بلنه ورکوو ! (اداره)

ښاغلی مخلص صاحب ! خوښ به شو که ترهرڅه مخکې تاسو خپله زمونږ لوستونکوته دخپلې پيژند ګلوۍ په اړه په څو لنډو ټکو کې لنډ معلوما ورکړئ !.

ځواب : زما نوم ملامحمد يونس(مخلص) دمرحوم عين الدين ځوی دبغلان ولايت دپلخمري ولسوالۍ دچشم شيرسيمي اوسيدونکی يم ، ابتدائي ديني او عصري زدکړې مې په هجرت کې دملاکنډ ايجنسۍ دپلۍ په کيمپ کې کړي ، وروسته يواځي ددينې زدکړو لپاره دپاکستان مختلفو مدارسو ته لاړيم ،هلته ترموقوف عليه پورې رسيدلی وم ،په افغانستان کې دشر او فساد په ضد دطالبانو اسلامي تحريک پورته شو ، اودمدرسونه طالبان جهادته روان شول مونږ هم

لاړو ، بیا دافغانستان په مختلفو ولایتونو کې بېلابېلې نظامي او ملکي دندې ترسره کړي، کله چې صلیبیانو په افغانستان یرغل وکړ، بیا له خپلو مجاهدینو ملګرو سره یوځای مو د دښمن په مقابل کې جهاد شروع کړ لله الحمد ترننه پورې په جهادي بوخت یم

موږ لومړی له چشم شیرڅخه جهاد شروع کړ، پنځه کاله د پلخمري او دهنه غوري ولسوالیو د مسؤل په حیث پاته شوم ،دوه کاله د بغلان ولایت د عمومي مسؤل په توګه مشرانو وګومارلم ،بیا یو کال د بغلان ولایت دمعاون په حیث مې خدمت وکړ له هغه وروسته مشرانو د خپل لزوم دید له مخې دکندوز ولایت دمسؤل په حیث ټاکلی یم او ودبغلان په ځای په کندوز کې جهادي خدمتونه کوم الله ﷻ دې قبول کړي !

شهامت : کندوزکې روان جهادي عملیات څومره موفق اوبریالي بولي ؟

ځواب : الحمدالله په کندوزکې روان جهادی عملیات تراټکل هم زیات کامیاب اوموفق روان دي ، په ټول کندوز ولایت کې داسې سیمه نشته چې هلته دښمن یکې د آرامی ساه واخلي ،هرچیرې اوهرځای ورباندې بریدونه اوعملیات جریان لري..

شهامت : کندوزکې دکومو، کومو خارجي هیوادو یرغلګر عسکر شتون لري اوپه کومو سیمو اولسوالیو کې دهغوئ هډې او بیسونه دي ؟

ځواب : په کندوزکې دالمان هیواد عسکر شتون لري، لله الحمد دجهادی عملیاتو په برکت له ولسولیو نه بیسونه شړل شوي او خارجیان یوازې ترهوایې میدان محدود دي .ازادانه نقل وحرکت نشي کولی ، چې کوي یې نو دمجاهدینو له بریدونو اوعملیاتو سره مخ کېږي !

شهامت : ایا دکندوزخلک هم دمجاهدینو سره ولاړدي ؟

ځواب : دکندوز ولایت ټول ولس مجاهد ولس دی او ټول په کلکه له مجاهدینو سره ولاړدي او ورسره هرډول همکاري اومرسته کوي، دمثال په توګه درته ویلی شم دخان آباد ولسوالی په یوه ساحه کښې دښمن غوښتل یوه پوسته جوړه کړي ، له مجاهدینو مخکې ولسي خلکو ددښمن په مقابل کې اقدام وکړ، سلګونه ولسي خلک په هجوم ورغلل او د پوستې جوړیدو مخنیوی یې وکړ .

شهامت :دمجاهدینو په لیکو کې داسلامي امارت لخوا په جوړه جهادي لائحه باندې د عمل په اړه که راته وواییې چې دمجاهدینو په لیکو کې جهادي لائحه عملي بڼه لري ؟

ځواب : الحمدالله جهادي لائحه عملي ده ، ټول مجاهدین دهغې له اصولو اومقرراتو له مخې خپل اړوند اسلامي اوجهادي مسؤلتونه ترسره کوي.

شهامت : ددښمن له بندیانو سره مو تعامل څه دی ؟

ځواب : ددښمن له بندیانو سره دمجاهدینو تعامل بشپړ اسلامي دي ، په اړه یې په کلکه د شریعت ټاکلي مقررات په پام کې نیول کېږي کوم چې د اسلامي امارت په لائحه کې ښودل شوي

شهامت :له ولس او خلکو سره دمجاهدینو رویه څنګه ارزوي ؟

ځواب : دمجاهدینو رویه له ولسي خلکو سره ښه او نیکه ده ،له ولسي خلکو سره په زیاترو کارونو کې مجاهدین مشوري کوي ، دهغوئ دنظرونو او غوښتنو درناوی کوي ، ولسي خلک هم مجاهدینو ته ښې نیکې مشوري ورکوي، مجاهدین هم هغوئ ته زیات ارزښت

ورکوي ، په مجموع کې دولس او مجاهدينو ترمنځ حسنه روابط دي په دې اړه کومه ديا دولو ورستونزه نشته ان شاء الله.

شهامت: کولی شي په وروستيو کې دځو مهمو عملياتو معلومات راسره شريک کړي ؟

ځواب: هو ! بايد ووايم په عمومی ډول سږ کال دمرکز په ګډون د کندوز ولايت اړوند په شپږ واړو ولسواليو کې الحمد الله دنظامي عملياتو بهير چټک اوپه زړه پوری وه ستا دپوښتني په ځواب کې داځو بيلګې يادوم.د دشت ارچي ولسوالی کې د روان ميلادي کال داتمي مياشتې په ديرشمه او يوديرشمه نيټه مجاهدينو ديادي ولسوالی په څو جلا ،جلا سيمو کې د اربکيانو پر پوستو پراخ بريدونه وکړل، لله الحمد په دوه ورځو کې يې له اربکيانو څخه لس پوستې په بشپړه توګه فتحه او له منځه يې ويوړي، چې په هره پوسته کې دښمن ته دسر او مال درانه تلفات واوښتل هم يې يو شمير وسلې او مهمات غنيمت کړل، ديادو پوستو دفتحي سره سم دښمن هلته دځانيزو عملياتو تصميم ونيو ،د روان م کال دنهمي مياشتې په پنځمه نيټه ديرغلګرو ځواکونو دملاتړ په بدرګه يې ځانيز عمليات پيل کړل چې دهمدي ولسوالی د وزيرخان جم سيمه کې ، دشهيد عبدالواحد ښوونځی سره، تيموريانو راويان کې ، دحاجی محمدعالم تپې شوکې وړباندې تعرضونه ترمنځ وشول ،لله الحمد دمجاهدينو هغوئ بيرته په شاه وتمبول ،دغو عملياتو څلور ورځي دوام درلود، دوزيرخان نوم سيمه کې دپوليسو يو رينجر هم دمجاهدينو تر بريد لاندې راغی ،په ترځ کې يې موټر په بشپړه توګه تخريب او يکې سپاره پوليس له منځه لاړل ، همدارنګه د حاجی شيرمحمدجم اړوند څلور لارې او تيموريانو په سيمه ک دګډو ځواکونو او مجاهدينو ترمنځ درې ساعته جګړه وشوه چې په ترځ کې يې دچټک غبرګون ۸ پوليس له منځه ،لاړل او يو شمير نور يې ټپيان شول، همدارنګه د وزيرخان جم، انزرکلی، آرملوک سيمه، ارباب عزت الله او تيموريانو په سيمه کې دمجاهدينو او ګډو ځواکونو ترمنځ نښتي وشوي چې په ترځ کې دوه امريکايان د ارباب عزت الله په سيمه کې له منځه لاړل او د اجيري اردو رينجر دحاجی نعيم د تيلو پمپ سره ، داجيری اردو يو ټانګ د تيموريانو په سيمه کې يو اربکی او ۳ دنظم عامه پوليس له منځه لاړل ، پدې جګړو کې يو مجاهد شهيد شوی.

همدارنګه دنهرجديد دپاخه پول په سيمه کې ۵ ساعته جګړه وشوه ، په ترځ کې يې د اجيری اردو (۱) يوټانګ له منځ لاړ او ۱۵ عسکروته يې مرګ ژوبله واوښته همدارنګه چهار درې ولسوالی کې د روان ميلادی کال په شپږمه نيټه دعيسی خيلو په سيمه کې چې دمرکز په يو کيلومتری کې واقع ده دګډو ځواکونو

سره په (۲) ساعته جګړه کې ددښمن ۲۱ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته او زمونږ دوه مجاهدین هم پکې سرسري ټپيان شول او ددښمن یو مشهور قوماندان شیرآغا هم پکې ووژل شو.

همدارنګه دکندوز ولایت په مرکز کې په تیرودي وخت کې د دښمن لخوا ۵ ورځي عملیات وشول دمجاهدینو لخوا له سخت مقاومت سره مخ شول او پکې داربکیو د ۲ قوماندانانو په ګډون ۱۰ مړه او ۱۳ اربکیان ټپیان شول.

د امام صاحب ولسوالۍ اړوند دهجران سیمه کې په ۲ ساعته جګړه کې دیوه قوماندان په ګډون ۴ اربکیان مړه او ۸ ټپیان شول.

شهامت: دپخوا په پرتله پر دښمن باندې د عملیاتو لړ کې کومثبت بدلون حسوي ؟

ځواب: الحمدالله دپخوا په پرتله په دښمن باندې په عملیاتو کې ګڼ مثبت بدلونونه راغلي، وړاندې مجاهدین په ښکاره نشوای ګرځیدلی، پټ ټي ماینونه خښول، کمینونه یې دشپې نیول، لله الحمد اوس مجاهدین په ښکاره جبهې جنګونه کوي، دورځې لخوا عمومي سرکونو اولاروته وځي په دښمن مخامخ عملیات کوي دورځي کمینونه نیسي. ددښمن دنقل وحرکت لاري بندوي، پخوا داسي نه و، نودا قوي اومثبت بدلونونه دی چې مونږ ټول یې شاهدان یو

شهامت: ایا دا راته ویلای شي چې دمجاهدینو په لیکو کې مفسد اوغرضي خلک ځای نلري یا دمجاهدینو له لیکونه په ناوړه ګټه پورته کولو ولسي خلک نه زوروال کیږي ؟

ځواب: مونږ په کامل ډاډ او جرائت ویلی شو چې دمجاهدینو په لیکو کې مفسدین او غرضي خلک ځای نلري، زمونږ له لیکو سره چې هرڅوک نوی یوځای کیږي، مونږ دهغه په اړه پوره معلومات کوو، له دقیقو معلوماتو ترلاسه کولو وروسته چې معلومه شي هغه مفسد اوغرضي ندی بیا ورته پخپل صف کې ځای ورکوو.

شهامت: دکندوز کومي ولسوالۍ اوسیمي اوس داسلامي امارت تر دبشپړ پوښښ لاندې دي ؟

ځواب: دکندوز ولایت دشت ارچی، چاردره، خان آباد ولسوالۍ دمرکزوپرته نورې ټولي ساحي اوسیمي یې دمجاهدینو کنترول لاندې دي، همدا راز د امام صاحب او قلعه ذال دواړو ولسوالیو اکثره برخي دمجاهدینو واک لاندې راغلي، حتی دښار بعضی ساحی لکه د ذاخیلو ساحه د زرخرید ساحه، چرخاب ساحه، حضرت سلطان او پل الچین ساحی هم د اسلامی امارت دمجاهدینو تر کنترول لاندې قرارلري.

شهامت: لوستونکو ته څه پیغام لري ؟

ځواب: په اخر کې لوستونکو ته دا پیغام لرم چې دمکار دښمن دپوچو او بی معنی تبلیغاتو تر تاثیر لاندې دي نه راځي، په روان مقدس جهاد کې د مجاهدینو سره خپله همکاري اومرسته نوره هم زیاته کړي، یرغلګر دښمن د بشپړشکست په درشل ولاړ دی، لهذا له ټولو مجاهدینو څخه هیله لرم چې ټول متحد او متفق شي، او مغرور دښمن ته دې داسې درنه ماته ورکړي څو د نړۍ ټولو کفاروته د عبرت درس پاتې شي.

شهامت: مننه چې زمونږ پوښتنې مو په ورین تندي ځواب کړي کورمو ودان !

ځواب: له تاسو هم یوه نړۍ مننه چې مونږ مو یاد او دڅه ویلو موقع مو راکړه ! پای

آنچه را ابوبکر رضي الله عنه صحابي نخستین در روز اول هجرت انجام داد، برای بزرگ مقامش بسنده است، وسایل لازم هجرت را آماده کرد و تمام ثروتش را برای هجرت ذخیره نمود و پیوسته در انتظار فرمان رسول الله صلي الله علیه وسلم بود، تا این که پیامبر او را آگاه گردانید که خداوند اجازه هجرت به او داده است، پس ابوبکر رضي الله عنه از رسول الله صلي الله علیه وسلم خواست تا همسفر او باشد. پیامبر صلي الله علیه وسلم به او فرمود: تو همسفرم هستي. ابوبکر رضي الله عنه از سرور و شادماني فراوان به گریه افتاد، حضرت عایشه ل فرمود: سوگند به خدا تا پیش از آن روز که ابوبکر رضي الله عنه را دیدم که از شادی مي‌گریست، تصور نمي‌کردم کسي از شادماني به گریه افتد.

و هنگامي که این دو مهاجر بزرگوار به غار ثور رسیدند، ابوبکر رضي الله عنه به رسول الله صلي الله علیه وسلم فرود: در جای خود بمان، تا به خاطر حفظ سلامتي تو در داخل غار جستجو کنم، پس ابوبکر رضي الله عنه داخل غار شد تا داخل غار را از آنچه به رسول خدا آزار برساند، پاک گرداند. سپس پیامبر صلي الله علیه وسلم وارد غار شد، و هردو در آنجا ماندند.

حزن و اندوه زیاد ابوبکر رضي الله عنه از آزار رسیدن به پیامبر صلي الله علیه وسلم

وقتي جستجوکنندگان قریش به نزدیک آنان رسیدند، اندوه شدیدی و سختي ابوبکر را فرا گرفت، در آن حال رسول الله صلي الله علیه وسلم با او اطمینان داد و او را آرام گردانید. ابوبکر رضي الله عنه گفت: به الله سوگند که برخود نمي‌ترسم، ترس من از آن است که آنچه را که خوش نمي‌دارم در باره تو اتفاق بیفتد ببینم. پس پیامبر با این آیه به او پاسخ گفت که (لاتحزن ان الله معنا). «اندوه مدار، الله با ماست» و همچنین فرمود: ای ابوبکر رضي الله عنه! نسبت به دو نفر که خدای سومین ایشان است، چه مي‌اندیشي؟ سپس رسول گرامي صلي الله علیه وسلم او را نواخت و برایش سکینه و آرامش را از خداوند درخواست کرد، سپس از سوی خدای آرامش و سکوني بر او نازل شد و ابوبکر صدیق رضي الله عنه از شرف نزول این آیه بهره‌مند گردید. (...فَأَنْزَلَ اللّهُ سَكِينَتَهُ عَلَيْهِ وَأَيَّدَهُ بِجُنُودٍ لَمْ تَرَوْهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِينَ كَفَرُوا السُّفْلَى وَكَلِمَةُ اللّهِ هِيَ الْعُلْيَا وَاللّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ (سورة توبه، آیة ۴۰). «پس خدا آرامش خود را بر او فرستاد و او را با سپاهیاني که آنها را نمي‌دید تایید کرد، و کلمهٔ کساني را که کفر ورزیدند پست‌تر گردانید، و کلمه خداست که برتر است و خدا شکست‌ناپذیر و حکیم است.«

و به سبب نزول این آیه از شرف همدمي و هم‌نشیني و رفاقت پیامبر صلي الله علیه وسلم برخوردار گردید. (اذ یقول لصاحبه لاتحزن ان الله معنا) «وقتي به همراه خود مي‌گفت اندوه مدار، خدا با ماست» امام قرطبي در تفسیرش بر آیة) :الا تنصروه فقد نصره الله) «اگر او (پیامبر صلي الله علیه وسلم) را یاری نکنید، قطعاً خدا او را یاری مي‌کرد» چنین گفته است: به راستي که خدا پیامبر صلي الله علیه وسلم را به وسیله رفیق و یارش ابوبکر رضي الله عنه یاری کرد، به این صورت که همدم و انیس او در غار بود، او را بر دوش گرفت، به او وفادار بود و با بذل مال و ثروت و جانش وی را محافظت کرد.

لیث بن سعد گفت: هیچیک از پیامبران یار و همدمي مانند ابوبکر صدیق رضي الله عنه نداشته‌اند، و دوست دارم به همین مناسبت آنچه را که قرطبي گفته است بیان نمایم که فرار به خاطر حفظ دین و پنهان‌شدن از دشمن جایز و روا مي‌باشد.

و هم او (قرطبي) گفت: حادثه هجرت دليلي است كه پنهان‌شدن انسان در غارها و جاهاى ديگر و فرار از دشمنان به خاطر حفظ دين جايز است، نه آن كه با صرف توكل بر خدا و تسليم‌شدن به قضاى او، خود را به دشمن واگذارد.

اعتراف حضرت عمر رضي الله عنه به فداكارى ابوبكر رضي الله عنه

عمر رضي الله عنه به اين از خودگذشتگي و فداكارى‌هاى بزرگي كه ابوبكر رضي الله عنه براى پيامبر صلي الله عليه وسلم در روز هجرتش انجام داد، اقرار نمود. بيهقي از ابن سيرين نقل كرد كه گفت: در دورۀ خلافت عمر گروهي خاطرهايي را بيان مي كردند كه گويا عمر رضي الله عنه را فاضل‌تر و بزرگتر از ابوبكر رضي الله عنه مي‌دانستند، آن خبر به عمر رضي الله عنه رسيد، عمر رضي الله عنه گفت: به خدا سوگند، كارى كه ابوبكر رضي الله عنه در شب هجرت انجام داد، ثوابش از عمل تمام خاندان عمر رضي الله عنه بيشتر است.

شبي كه رسول الله صلي الله عليه وسلم همراه ابوبكر رضي الله عنه به غار ثور رفت، ابوبكر رضي الله عنه گاهي در جلو و زماني پشت سر حضرت رسول خدا صلي الله عليه وسلم حركت مي كرد، تا آنجا كه پيغمبر صلي الله عليه وسلم متوجه شد و فرمود: اى ابوبكر رضي الله عنه! ترا چه شده است كه گاه در جلو و گاه پشت سر من حركت مي كني؟ ابوبكر رضي الله عنه گفت: هنگامي كه از جستجوكنندگان تو ياد مي‌آورم پشت سر تو حركت مي كنم، اما زماني كه به ياد دشمناني كه در كمين مي‌باشند مي‌افتم، در جلو تو حركت مي كنم. سپس پيامبر رضي الله عنه فرمود: اى ابوبكر! اگر خطرى پيش آيد، دوست مي‌دارى آن آسيب براى من باشد يا براى تو؟ ابوبكر گفت: سوگند به خدايي كه ترا به حق به پيامبرى برانگيخت و مبعوث كرد، دوست دارم براى من باشد.

و هنگامي كه به غار ثور رسيدند، ابوبكر گفت: اى رسول خدا! در جاى خود توقف كن، تا داخل غار را بررسي كنم، پس وارد غار شد و آن را بررسي كرد و برگشت، ناگاه يادش آمد كه سوراخ‌هاى داخل غار را بازرسي نكرده است، ديگر باره گفت: اى رسول خدا! در اين مكان بمان، سپس وارد غار شد و سوراخ‌ها را بست، و بعد گفت اى رسول خدا! به داخل غار فرود آى، سپس پيامبر صلي الله عليه وسلم وارد غار شد. سپس عمر گفت: سوگند به كسي كه جان من در دست اوست، فداكارى ابوبكر در آن شب برتر از تمام كردار نيک خاندان عمر است.

گريه ابوبكر صديق از بيم سوء قصد سُراقه به جان پيامبر صلي الله عليه وسلم ابوبكر صديق در غار ماند و با همه توانش مدت سه روز از پيامبر مواظبت كرد، در روز سوم هنگامي كه دانستند، ديگر به دنبال‌شان نيستند و اوضاع آرام شده است، و اين كه خداى تعالي به معجزه مشهور غار ثور رسول گرامي را حفظ كرد و نجات داد، دو مهاجر به قصد شهر مدينه غار را ترک كردند.

قريش از اين كه به مراد خود نرسيدند و آنان را نيافتند، سرگردان و متحير شدند، خشم و كينه قريش بيشتر شد و به حالت انفجار رسيد، و صد شتر پاداش و مژدگاني براى كسي كه پيامبر صلي الله عليه وسلم را به آنان بازگرداند، تعيين كردند.

يكي از پهلوانان بي‌باک قريش به نام سراقه بن مالک از اين جايزه بزرگي كه مردمان را فريب مي‌داد و براى دست‌يافتنش آنها را به هر گناه و جنايتي برمي‌انگيخت، آگاهي يافت. لباس رزم بر تن كرد و سلاح برداشت و در ميانه راه به آن دو مهاجر (پيامبر و ابوبكر) رسيد، و يقين كرد كه به خواسته اش دست يافته است، و به زودى اين جايزه فريبنده و جذاب را به دست خواهد آورد.

ناكامي و نااميدى سراقه را غافل‌گير كرد

سراقه در اين لحظات ناشناخته با خوشحالي زياد به سر مي‌برد، زيرا او مطمئن بود كه در هدف و خواسته اش موفق و پيروز است، و مسلماً آن دو را خواهد يافت و آنان را به مكه باز مي‌گرداند، و اگر بخواهند از خود دفاع كنند آنها را به قتل مي‌رساند، هنگامي كه در اين آرزوى شيرين و گوارا بود ناگاه اسب را هوارش سخت بر زمين خورد و سراقه از پشت آن به شدت فرو افتاد، سوار نامدار و دلاور خود را بازيافت و عزمش را جزم كرد و كوشيد تا غنيمت از دستش نرود، پس برخاست و بر اسبش نشست و براى تاختن بر آنها خود را آماده كرد.

در اين هنگام ابوبكر چون سوار شجاع و بي‌باک را ديد كه به اندازه فاصله يک يا دو نيزه به آنها نزديک شده است، به گريه افتاد؛ پيامبر چون دوستش را گريان ديد، از او پرسيد كه چرا گريه مي كني؟ ابوبكر گفت: سوگند به خدا كه بر خود گريه نمي كنم، اما به خاطر سلامتي تو گريه مي كنم، پس پيامبر صلي الله عليه وسلم به او اطمينان داد كه آسيبي به آنان نخواهد رسيد، و روى به سوى سوار آورد و به زبان او دعا كرد و گفت: پروردگارا! به آنچه دوست دارى و مي‌خواهي، ما را از گزند او در امان دار. در همين حال يارى الهي فرا رسيد و چهار پاى اسب سُراقه تا سينه و شكم در زمين فرو رفت.

اينجا سراقه يقين پيدا كرد كه ناكام ماند و به مراد خود نرسيد و آرزوهايش برباد رفت، و بي گمان خداى تعالي پيامبرش را از هر آسيب و بدى حفظ مي كند.

هنگام روی‌دادن این حادثه، سُراقه به سوی پیامبر گرامي صلي الله علیه وسلم روی‌آورد و گفت: ای محمد صلي الله علیه وسلم! به یقین دانستم که این حادثه به سبب تو مي‌باشد، پس از خدای بخواه، از این وضعیتي که دارم مرا برهاند؛ سوگند به خدا کساني را که پشت سر من در تعقیب تو هستند، گمراه مي کنم، سپس از رسول خدا صلي الله علیه وسلم خواهش کرد، نامه‌ای برایش بنویسد، تا پیماني و قراردادی میان هردو باشد. سپس پیامبر برای او دعا کرد، و اسب سراقه را از زمین رها کرد و از ابوبکر خواست تا بر استخوان یا سفالي تعهدی برایش بنویسد، پس نامه را نوشت و به سوی او انداخت، پس سراقه در حالي که آرزوهایش برباد رفته بود، نامه را گرفت و شخصاً به گمراه‌کردن کساني که در تعقیب آن مهاجر بزرگوار بودند پرداخت.

ابوبکر فوراً فرمان پیامبر را انجام مي‌دهد

از جمله محبت راستین و صادقانه ابوبکر رضي الله عنه نسبت به پیامبر خدا صلي الله علیه وسلم آن است که پیش از هجرت به اشاره پیامبر بلال را از عذاب و شکنجه آزاد کرد.

عطا و ضحاک از ابن عباس روایت کردند که ابن عباس ل گفت: مشرکان بلال رضي الله عنه را شکنجه مي کردند، در حالي که بلال اَحَد اَحَد بر زبان مي‌راند، و پیامبر از کنار او گذر کرد و فرمود: اَحَدٌ، یعني این که خدای تعالي ترا از عذاب مي‌رهاند. سپس پیامبر صلي الله علیه وسلم فرمود: ای ابوبکر! بدان که بلال در راه خدا شکنجه مي‌شود، ابوبکر دانست که منظور پیامبر چیست و چه مي‌خواهد، پس ابوبکر به خانه اش بازگشت و مقداری طلا برداشت و نزد امیه بن خلف (مالک بلال) رفت و گفت: آیا بلال را به من مي‌فروشي؟ او گفت: آری، پس ابوبکر بلال را خرید و آزاد کرد.

سعید بن مسیب گفت: خبر یافتم که آن وقت که ابوبکر رضي الله عنه به امیه بن خلف گفت، آیا بلال را به من مي‌فروشي، امیه در پاسخ گفت: بله او را در ازای نسطاس مي‌فروشم. (و نسطاس بنده ابوبکر رضي الله عنه بود که ده هزار دینار و غلامان و کنیزان و چهارپایاني داشت و مشرک بود؛ و ابوبکر او را در ازای این که دارائي و ثروتش از آن خودش باشد به اسلام فرا خواند و او نپذیرفت) پس ابوبکر او را با بلال معاوضه کرد، پس از آن گفتند: ابوبکر این کار را به این سبب انجام داد که بلال یاور او باشد، و در این باره آیه نازل شد: وَمَا لِأَحَدٍ عِندَهُ مِن نِّعْمَةٍ تُجْزَى (۱۹) إِلَّا ابْتِغَاءَ وَجْهِ رَبِّهِ الْأَعْلَى (۲۰) وَلَسَوْفَ يَرْضَى (۲۱ سورة الیل). «هیچکس را به قصد پاداش‌یافتن نعمت نمي‌بخشد و جز خواستن رضای پروردگارش که بسي برتر است منظوری ندارد، و قطعاً به زودی خوشنود خواهد شد» یعني به زودی در بهشت پاداشي به ابوبکر داده مي‌شود که از آن خوشنود گردد، و چندین برابر آنچه بخشیده بود، خدا به او پاداش مي‌دهد.

ابوحیان تیمي از پدرش و او از حضرت علي رضي الله عنه روایت کرد که گفت: پیامبر صلي الله علیه وسلم فرمود: «رحم اللهُ أبا بكرٍ، زوَّجني ابنَتَه، وحَملني إلى دَارِ الهجرةِ، وأعتَقَ بلالاً من مَالِه» . «خدا ابوبکر را ببخشاید که دخترش را به عقد من درآورد و مرا بر دوش گرفت و به مدینه بُرد و با دادن مالش بلال را آزاد کرد.«

آری، الله جل جلاله ابوبکر را رحمت کند، به راستي محبتش بسیار صادقانه بود، تمام ثروتش را در راه خدا تقدیم کرد و بخشید، خانواده اش را (به خاطر دین) رها کرد و جانش را در خطر مرگي قطعي که در کمین او بود نهاد، و حتي یک لحظه هم به خاطر جان خویش ترس و هراسي او را فرا نگرفت، خوف و هراس او تنها به خاطر محبوبش (رسول الله) و دین و شریعتش بود. آنگونه که در برخي از گزارش‌ها و سخنانش آن را آشکارا و واضح بیان کرد و گفت: سوگند به خدا ای پیامبر! بر جان خود نمي‌ترسم، اگر من کشته شوم، فقط یک مرد کشته شده است، اما اگر به تو آسیب و زیاني برسد، همانا که دین و شریعتي نابود مي‌شود.

بدان سبب خدای تعالي به صدق و راستي و اخلاص ابوبکر رضي الله عنه آگاه بود، و لذا خدای سبحانه و تعالي پاداشي که او را خوشنود گرداند به او عطا کرد. و برای ابوبکر این افتخار کافي است که خدای بزرگوار به بخشش خالصانه او و این که ابوبکر در این کار تنها رضای خدا را در نظر داشت، گواهي داد، زماني که مشرکان ابوبکر را متهم کردند که اقدامش در خریدن بلال این بوده است که بلال یاور او باشد، خدای بزرگوار آنان را تکذیب کرد و آیاتي را نازل فرمود که گواه عمل خالصانه ابوبکر بود.

برادر مسلمانم! آنگونه که قبلاً گفته شد، به راستي قصد من گفتگو و بحث از اعمال فداکاری‌های و جهاد ابوبکر نیست، زیرا آن کوشش سپاس نهاده‌ایست که در کتاب‌های تاریخ و سیره‌ها به تفصیل از آن بحث شده است. اینها تنها تکه‌ها و قطعه‌هایي است که به محبت و از خودگذشتگي ابوبکر پیوسته است، و از کتابي که من در صدد تألیف آن مي‌باشم برگزیده ام.

و خداوند ابوبکر آن رفیق دوم در غار آن دوستدار پیامبر و آن مجاهد در راه خدا و آن وزیر و خلیفه پیامبر صلي الله علیه وسلم را رحمت کند

علم النـغمات !

يادعظيم الشان قرآن دلهجوفن !!

ژباړه: ابو كلثوم

دنړۍ پـه هرځـای کـې دعظـيم الشـان قـرآن تـلاوت كـوونكي "قـاريـان" دقرائت لـه اوولهجو بيـرون كيـدای نشي ، يعنې د قرآن مجيد د هرقـاري تـلاوت بـه خامخا دقرائت لـه اوو لهجو بيـرون نـه وي ! كومي اوو لهجي چې دفـن اسـتادانو پـه دې جملـه كـې جمـع كـړي دي... "صـنع بسـحر " "ص" صـبـاء "ن" نهاونـد "ع" عجم (چهارګاه) "ب" بيات "س" سيګاه "ح" حجاز اود "ر" رست مراد دی ، دې فـن تـه ځينې علم النغمات وايي ! ځيني ورتـه ترانيم قرآني وايي او ځيني يې دلهجو په علم نوموي !

پـه عربـي هېـوادو لكـه مصـر ، امـارات ، سـعودي ،سوريه ، عراق ، او نورو كې لكـه: ايران اندونيزيا كې ددې علم دزدكړې لپاره ښـه پـوره پاملرنـه او جلانظـام شتون لري ،تردې چې پـه ځينو هېوادو كې خو دزده كړې لپاره يې دومره توجه كېږي چې لـه قاريانو څخه عـلاوه عـام خلـک يـې هـم ددې فـن سـره عـلاقـه اواشـنائي لـري ،البته پـه افغانستان ، پاكستان اوهندوستان كې چېري چې دعجميـانو بشـپړاكثريت دی، دلتـه ددې فـن سره اشـنايي او وربانـدې پوهـه دنشـت پـه حسـاب ده ، بلكـې دډېر افسوس وړداده چې ددغويادو هېوادونو زياتره خـواص مشـهورقاريان ، اوعلمـاء هـم ددې فـن سـره ډېر مناسبت نلري، ليكوال پخپله هـم ددې فـن طالـب دی پـه زړه كـې مـې ارزو پيدا شـوه چـې ددې فـن پـه اړه ځينـې ښستيزي خبري پـه يوه ليكنه كې را يوځای كړم څو ددې فن دياد ولو لورته هم دنوروفنونو پـه څېر پاملرنه وشي...

علم النغمات اودعظيم الشـان قـرآن دلهجو لـه زده كـړې څخـه وړانـدې اړينـه ده چـې زده كـوونكي عظـيم الشان قرآن پـه ښـه تجويد سره ولولي اودتلاوت كولو پر مهـال دتجويـدي قـواعـدو رعـايتولو مشـق وكـړي ، كـه يوتن پـه تجويد سره تلاوت كـې كمزوری وي ،هغـه بايد لومړی تجويد زده كـړي، پـه سمه اوپـوره تـوګـه د قرآني حروفـو د ادا كولـو كـې كوښښ وكـړي ، بيـا دې لـه هغـه وروسته نغمات اولهجات ياد كړي !

علم النغمات دعظيم الشـان قـرآن لـه جماليـاتو سره تـړاو لـري ، پـه رابښـكونكي اوخواږه غږ دعظيم الشـان قرآن دتلاوت داسلامي شريعت لـه حكمونو يو حكم دی ، پـه حديث شريف كـې راغلـي :درسـول الله (ﷺ) ويـنـاده: "ليس منا من لم يتغنّ بالقرآن" هغه زمونږ څخـه نـدی چې عظيم الشـان قـرآن پـه ښائسـته غږ اوښـه انداز ونـه لـولي ،رسـول الله (ﷺ) فرمـايلي: "ونعـم النعمـة الصـوت

الحسن "... غوره نعمت ښه خوږ غږ دی... هم دا شان رسول الله (ﷺ) فرمايلي: "زينوا القرآن باصواتكم فإن الصوت الحسن يزيد القرآن حسناً"... قرآن مجيد ته پخپلو غږونو ښکلا ورکړئ ولې چې ښه اواز دعظيم الشان قرآن ښائست ته نوره هم ښکلا ښيي... همداسې درسول الله (ﷺ) وينا ده: "اِقرأوا القرآن بألحان العرب وأصواتها"... قرآن مجيد دعربو په طرز اولهجو اودعربو په غږونو کې لولئ يعني دهغوئ داوازونو نقل اوتقليد کوئ! ددې پورته احاديثو څخه جوته شوه چې په ښه خواږه غږ او په راښکونکي طرز دعظيم الشان قرآن تلاوت نه يوائې غوره کار دی بلکې داسلامي شريعت حکم هم دی، د عظيم الشان قرآن په دې ايت (وَرَتِّلِ القرآن تَرتيلا) کې همديته اشاره ده له دې وجې علم النغمات دقرآن مجيد دتلاوت لپاره زيات گټور علم دی، جوته ده چې دغه علم هم شرعي علم دی، او په شريعت کې دروند ځای او اهميت لري دنورو فنونو او علومو په څير دا فن هم خپل ځانگړي اصول، قواعد او ضوابط لري، دهغو په يادولو اورعايتولو سره دعظيم الشان قرآن په تلاوت کې ښه استفاده کيدای شي، البته داضروري ده چې اصلي موخه به دلهجو يادول نه وي اونه به ټوله خواري ديوي لهجي په يادولو صرف کوي اونه دلهجاتو دومره خيال ساتل چې له امله يې له تجويدي قواعدو سرغړوني ته نوبت ورسي

يا له امله يې دقرآن مجيد په معانيو اومفاهيمو کې چې کوم تدبر او غور ته اړتيا ده هغه له پامه وغورځول شي اوټوله توجه دلهجو لورته شي!

ترټولو لويه اوبنسټيزه پوښتنه داده چې دافن ولي يادولی شي؟ ددې فن غرض څه دی؟ ددې فن ديادولو بنسټيز غرض دادی چې مونږ دعظيم الشان قرآن دمعانيو اومفاهيمو تل ته ورسو!! او په داسې ندازيې ولولو ته به وايي چې زمونږ رب مونږ ته مخاطب دی!!

يعني اياتونه په مجسم اندازکې وړاندې کړو! مثلاً: په قرآن مجيد کې څودول اياتونه دي، ځينې اياتونه دعذاب اوثواب باره کې دي، ځينې کفارو اوفساقوته دسزا اوجزا ورکولو باره کې دي دا آيتونه مونږ بايد د "غم اوحزن" په طرز کې ولولو اځنې آيتونه جنتيانوته دبشارت اوزيري په باره کې دي هغه بايد دخوشي په طرز اولهجه ولولو! دادي فن غرض دی.

ټولي لهجي اووه دي، کوموته چې مونږ په پيل کې اشاره وکړه اوهم دا اووه گوني لهجي اصلي دي، پاتې نوري لهجي فروعي اوښاخونه دي! چې داصلي لهجو سره په يوځای کولو سره جوړيږي، چې په راتلونکې کې به دهري لهجې سره يوځای ضمناً دهغو ياد ونه هم را شي، ددې لهجاتو مشق دي له هغه مشاق قاري څخه وکړای شي کوم چې په دې فن پوهيږي اوددې مضمون په لوست سره به تاسو دلهجو له نومو سره اشنا شئ اولړ ترلړ به دلهجو په پيژندلو سره وپيژنئ چې په کومو، کومو ايتونو کې کومي، کومي لهجي کارول کيږي.؟

دعظيم الشان قرآن داياتونو په تلاوت کې د لهجو ترتيب تو پيير لري بلکې دهر قاري دلهجاتو ترتيب له بل سره توپيرلري، ليکن زياتره قراء (قاريان) په پيل کې بيات (لهجه) کاروي

دلته د "صنع بسحر" عبارت ترتيب ته په پام سره دهري لهجي تعارف وړاندې کوو:

۱ـ صباء.....

صباء په لغت کې "مطلع الشمس" يعني له ختيځ لوري چليدونکي هوا ته وايي، دا دغم اوحزن لهجه ده، هرکله چې يو تن دغه لهجه اوري دهغه په طبعيت کې دغم، حسرت، اوداركيفيت پيداكوي، دا له دې پلوه ډېره خوږه لهجه ده، چې په يوه وخت پکې دغم اوجمال دواړه کيفيتونه موندل کيږي، دقرآن کريم هغه اياتونه

چې د حزن ، غم ، حسرت او الم پیغام لري هغه په دې لهجه کې لوستل کېږي هغه ایاتونه چې پکې دجنت او نعمتونو ذکر راغلي ،په دې لهجه کې نه لوستل کېږي هغه ایاتونه چې دجهنمیانو ذکر پکې شوی یا فساقو او کفارو ته دعذاب ورکولو ذکر پکې راغلی دندامت ،حسرت مضامین پکې شته دهغو تلاوت په دې (صباء) لهجه کې ډېر مناسب دي.

په دې پوهیدل پکار دي چې په هره لهجه کې قرائت درې درجې لري ، ۱ـ قرار ۲ـ جواب ـ۳ جواب الجواب ، "قرار ": هغه لومړی درجه ده چې پکې اواز لږ (ټیټ) او ښکته درجه وي ؛ "جواب ": دویمه درجه ده په دې کې اواز دلومړی درجې په نسبت څه لوړیږي ؛ "جواب الجواب ": دریيمه او آخري درجه ده په دې کې اواز پوره لوړولی شي ،په لهجو کې ددرېوارو درجو رعایت ضروري دی اودقراؤ ترمنځ متداول دی ، دصباء څو ښاخونه دي چې په هغو کې یو ښاخ یې "مقام منصوري " دی ، دویم یې "مقام الحدیدي " دی ، دځینو قراؤ په اند:رمل هم دصباء ښاخ دی ، په دې مختصر مضمون کې د فروعي مقاماتو څېړل اوترې بحث غرض ندی !

البته دومره پوهیدل ضروري دي چې مقام منصوري ته "حزن الرجال " هم وايي ، یعنې دهغه دادا کولو پرمهال ته به وايي چې ګویا قاري ژاړي ! یا دژړا انداز غوره کوي !هم داسې دصبا نور ښاخونه هم شته لکه:صباء زمزم ، صباء عشاق ، اومقام حدیدي په "مدّ عوض " سره لوستل کېږي یعنې چېري چې تنوین منصوب وي !

په شام ،عراق مصر اونورو هېوادو کې دصباء لوستلو جلا طریقې شته په اصلي لهجه کې ټول متفق دي ، یواځې دنومونو ترحده یو څه اختلاف پکې شته دی ، دصباء لهجې وروسته عموماً عجم لهجه لوستل کېږي ، صباء دغم په ایاتونو کې لوستل کېږي اوکله چې دغم ایاتونه ختم شي دغم اوعذاب نه دخلاصون ذکر شروع شي ، نو هغه په عجم لهجه کې لوستلی شي ،هم داشان دعظیم الشان قرآن هغه ایاتونه چې پکې تذکیر اوتانیث وي هغه هم په صباء لهجه کې لوستل کېږي عجمي لهجه دوه ښاخه لري عجم عشیران اوعجم خلوتي .

نهاوند.....

دا نهاوند سیمي ته منسوب ده ، دا لهجه په اصل کې دخوښۍ لهجه ده ، لیکن پکې دغم هم لږ امیزش شته ، له دې وجې دغه لهجه یواځې په خوښۍ کې منحصر ګڼل سم ندي ، دا دلیطفو او باریکو ځایونو ځخه ده ،پکې دشفقت اونرمۍ عنصر ډېر شته دعلم النغمات استادان وايي:دنهاوند لهجه دهغه خوش رنګه ګلاب اوښکلي ګل په څېر ده ، چې پاڼې یې په اوبو باندې لمدې وي !دالهجه دانسان په طبعیت کې دمحبت خوښ ، اوتازه ګۍ کیفیت پیدا کوي دجوش اوجذبي اشعار هم زیاتره په دغه لهجه کې ترنم کېږي کله په دې لهجه کې اذا ن هم کولی شي البته پکې اذان غیر معروف دی ! دعظیم الشان قرآن هغه ایاتونه چې د جنت او جنتیانو دذکر په اړه دي په کومو ایاتونو کې چې دنعمتونو ذکر وي، دخوشالۍ او فرحت مضمون پکې وي یا هغه ایاتونه چې پکې الله(ﷻ) په انسانانو اوبشریت داحسانونو اومهربانیو ذکر وي یا دجنت اودهغه دبالاخانو ، حورو غلمانو ذکر وي هغه په دې لهجه (نهاوند) کې لوستل ډېر مناسب او غوره دي ،په دې کې یو څه غمجن کیفیت هم شته له دې وجې هغه ایاتونه چې دقیامت ورځې ، اودهغې داحوالو په اړه دي هغه هم په دې لهجه کې لوستل کېږي ددې فن دځینو علماوو په اند: په هغو ایاتونو کې چې دالله(ﷻ) صفتونه ذکر وي یا پکې داخلاقو ،عباداتو اودعا ذکر وي هغه هم په دې لهجه کې لوستل کېږي دودریدو

اوسکون لهجه ده ، له دې وجې ځینې قراء یې زیاتره په سهار کې لولي، قرآني قصص هم په دې لهجه کې لوستل کیدای شي ، دنهاوند لهجې څخه وراندې او وروسته حجازي ، صبا،جهار ګاه (چهارګاه) لوستل کیږي اوزیاتره دنهاوند لهجې وروسته رست لهجه هم لوستل کیږي اوبیات لهجه هم ترې وړاندې اووروسته لوستلی شي، دالهجه صدیق منشاوي،مصطفی اسماعیل، شحات محمدانور اومحمود شحات محمد انور په راښکونکي اوښه انداز سره لولي دمقام نهاوندي هم ګڼ ښاخونه شته لکه: نوا ، ځنبات ، صُبی داتولي دعراقیانو په نزددي دځینو فن پوهانو په نزد نکریز (نګریز) هم دنهاوند ښاخ دی ،اوځینې نوربیا نکریز دچهارګاه اوصبا، مجموعه بولي اوهمدا نکریز (کومه چې له چهارګاه اوصبا، څخه جوړه ده) ادا کول یې مشکل اوقلیل الاستعمال دی

۳ــ عجمي (چهارګاه یا جهارګاه):

لغت کې عجم له عربو پرته نورو خلکوته وایي.خو داسې نده چې دغه لهجه دکومې بلې ژبې ده ،داهم عربي لهجه ده ، دمصري قراؤ په اند:عجم دصبا، ښاخ دی ، اوچهارګاه بیا دعجم ښاخ دی ، خوسهي داده چې چهار ګاه اصلي لهجه ده له دې وجې دلته مونږبحث کې هم چهارګاه څېرو عجم چې دصبا، یوښاخ د ی په هغه باندې بحث وړاندې تیرشو ، په عجم اوچهارګاه کې اختلاف یواځې دالفاظو دی په اصل کې یوه لهجه ده ، یواځې په دوه نومو نومول شوي څوک یې عجم بولي اوڅوک ورته چهارګاه وایي، خوځما دنیمګړو معلوماتو له مخې ددې وجه داده چې ځینې قاریان چهارګاه دلومړیو دوه درجو (یعنې دقرار اوجواب) وروسته په جواب الجواب کې عجم لولي ، کوم چې دصبا، ښاخ دی، ددې عجمي په وجه قرار اوجواب دواړو ته عجم هم وایي کومه چې په حقیقت کې یواځې دچهارګاه په لهجه کې لوستل کیږي

چهارګاه دجلال ، قوت اوعظمت لهجه ده له دې وجې دعظیم الشان قرآن هغه ایاتونه چې دالله (ﷻ) په جلال ،کبریائي اوعمظت دال دي هغه په چهارګاه کې لوستل ډېر مناسب دي ،په دې لهجه کې یوځه درد ،غم اوحزن هم شته ، خوپه دې لهجه کې مرکزي نکته ، قوت ، عظمت ، استقامت او جلال دی ، او دچهارګاه جواب الجواب ته ځینې قراء د "لحن الهندي" نوم هم اخلي اوچهارګاه عموماً درست وروسته ویل کیږي خو دحجاز وروسته هم ویل کیدای شي.

۴ــ بیات...

دادعراق یوې قبیلې ته منسوب ده لنډه دا چې په دې لهجه کې درې امتیازي صفات شتون لري:

۱ــ ددې ادا په ډېره اسانه کیږي اویادول یې هم اسان دي،دغه وجه ده چې زیاتره قاریان په دې لهجه کې تلاوت کوي.

۲ــ دا لهجه دهرځای سره مناسب ده ، یعنې ددې لهجې وروسته هره بله لهجه لوستل کیدای شي

۳ــ دایوه داسې لهجه ده چې په اوریدو سره یې اوریدونکې د ډار ښکار ګرځي نه ،همداسې چې کله په حدر کې لوستل کیږي نو دادائیګۍ انداز یې جلا وي ،اوپه ترتیل کې یې انداز جلا وي ، هرقاري دا لهجه په خواږه غږ سره لوستلی شي دالهجه له عراق څخه دحجاز ته نقل شوه ، دحجاز خلکو پکې نوري زیاتونې وکړې، اوبیا ترکیې ، شام ، اونورو هېوادوته وغځیده ، اودهري سیمې خلکو پکې نوري په زړپوري زیاتونې وکړې ، لهجې ته "ام المقامات" یعنې دټولو لهجو مور هم ویل کیږي ، داډېره پراخه لهجه ده په دې کې

دخوشالي. اوغم اميزش هم شته زياتره عربي اواسلامي نظمونه ،شعرونه اونعتونه ، په دې لهجه کې لوستل کېږي ، اذان هم پکې کيږي ،دا لهجه دعظمت اوجلال په اياتونو کې هم لوستل کېږي اودنرمی او عذاب په اياتونو کې هم؛ هم دا راز دعظيم الشان قرآن هغه اياتونه کوم چې دمکالمو اوحوادثو په باره کې دي هغه اياتونه چې دعا وي پکې دي ، هم داشان هغه اياتونه چې کوم مسلمانان جهاد ته بولي ،يا هغه اياتونه چې دخالق اومخلوق عظمت بيانوي ،هم دا راز دعظيم الشان قرآن کوچني سورتونه زياتره په دغه لهجه کې لوستل کېږي ددې لهجې څخه راندې اوروسته هره لهجه لوستل کېدای شي بيات څوفروعات اوښاخونه هم لري:

اصلي بيات.... په دې کې دغم اړخ زيات دی اوله صباء سره زيات مشابه دی

کردي بيات.... دبيات کردي يا حجازي لهجه هم نرمه ده اوهم په جمال کې ځانګړې ده ،زياتره وخت قاريان په دې لهجه تلاوت پای ته رسوي کومه چې ځيني فن پوهان دبيات صدقه په نوم نوموي

بيات شوری:ددې پيل له حجازي څخه کېږي اواختتام يې په بيات ، دالهجه ډېره لږ کارول کېږي اومشکله همده.هم دا راز نورښاخونه اوفروعات يې هم شته لکه: ۴بيات حسيني ۵.. بيات ابراهيمي ۶... بيا لامي ۷... بيات اصفهاني ۸... بيات دوګاه... ۹نوا ... داټول دبيات ښاخونه دي

۵.... سيګاه يا سيکاه:

ځيني خلک دالفظ فارسي بولي ، دامرکب دی دسه اوګاه څخه سه معنی ده درې اودګاه معنی ده ځای له دې وجې چې دالهجه زياتره په درېيم لمبر لوستل کېږي، دبيات او رست وروسته داد غم اوخوشالی دواړو مفهوم لرونکو اياتونو کې لوستل کېږي له دې وجې زياتره قاريان دالهجه دخپل تلاوت لپاره محور اومرکز ګرځوي چې دنورو لهجو له لوستلو وروسته دويم واري بيا سيګاه لولي يا دهري لهجې وروسته يې لولي دا لهجه د دنهاوند ، چهارګاه ، حجاز ، اورست وروسته لوستل کېږي او دبيات،حجاز ، اورست دسيګاه وروسته يې هم لوست ممکن دی ، دقرآن کريم هغه اياتونه چې پکې ديوې خبرې په اړه خبر ورکول مقصود وي يا پکې کومه قصه وي و يا دقيامت ورځې په احوالو مشتمل وي يا هغه اياتونه چې په سوال اوځواب مشتمل وي يا په استفهام مشتمل وي يا هغه اياتونه چې پکې يوه نوعه زجراو اوتوبيخ وي هغه په دې لهجه کې لوستل کېږي دسيګاه يوښاخ رمل دی کوم چې دسيګا په منځ کې لوستل کېږي اودکوم خاص تاکيد لپاره رمل کارول کېږي مثلاً: وراندې سوال تير وي دهغه سوال دجواب ايت چې راشي هغه په سيګاه سره لوستل کېږي

۶ـحجاز...

دالهجه حجاز ته منسوب ده ،دا هم ډېر پراخ مقام دی ، په دې کې خشوع ، حزن ، غم ، درد ،او الم کيفيات موندل کېږي، ډېره مشهوره اوښائسته لهجه ده ، دالهجه شيخ القراء مصطفی اسماعيل ، شيخ عبد الباسط عبد الصمد اواميرالنغم شيخ شحات محمد انور رحمهم الله اودهغه لائق فرزند محمود شحات انور يې په ډېر خواږه اوراښکونکي انداز کې لولي اوپه دې لهجه کې اذان هم ډېر مشهوردی ، دقرآن کريم هغه اياتونه کوم چې دقيامت په اوصافو مشتمل دي ، يا په هغو کې دغم ،حزن اود درد مفهوم دی هغه دحجاز په لهجه کې تلاوت کېږي ، څنګه چې په صباء کې تلاوت کېږي ،حجاز دصباء اوسيګاه وروسته تلاوت کېږي همدا رنګه دحجاز وروسته نهاوند ، سيګاه ، رست ، اوبيات لوستل کېږي ، په خاصه توګه نهاوند او صباء

په ډېره زیاته آسانۍ سره له حجاز سره یوځای لوستل کیدای شي، دحجازه څوښاخونه دي دعراقیانو په اند: حجاز دیوان اوحجاز غریب یې ښاخونه دي، ددې څخه علاوه دحجازنورښاخونه هم شته لکه حجاز همایون، حجاز قطر، حجاز مثنوي، حجاز یزادي، حجاز مدمي؛ حجاز مدمي نهایتي درجه غمگینه لهجه ده، اوکرد قبایلو کې یې یوبل ښاخ دی چې هغې ته خلک آجغ وایي، هم دارنگه زنکران اوحجاز "کار" هم دحجازي لهجي ښاخونه دي یوبل ښاخ یې حجاز "کائکار" هم دی، زنگران ډېر کم کارول کېږي

۷....رست

دپته رصد هم وایي، دا دفارسي دلفظ "راست" مخفف دی، داهم ډېر پراخ اوښائسته مقام دی، اوددې سربیره په دې کې قوت، صلابت، اورخامت هم موندل کېږي، اوپکې وقارهم موندل کېږي، له دې وجې دپته "ملک المقامات" (دمقاماتو سردار) او ابو النغم ویل کېږي، دبیات وروسته تر ټولو زیاته کاریدونکې لهجه ده، په دې لهجه کې اذان هم ډېر مشهوردی شیخ عبدالباسط زیاتره وخت اذان په حجاز کې او راغب مصطفی غلوش زیاتره وخت په رست کې اذان کاو، دا لهجه هم دتلاوت لپاره محور اومرکز گرځیدای شي، ځو ټول تلاوت په دې لهجه کې وکړای شي، اوتبعاً نورې لهجې هم ولوستل شي، په دې کې حزن هم شته دی، اوجمال هم، په دې کې دعظیم الشان قرآن دایاتونو تلاوت په ډېر راښکونکي انداز سره کېږي، ددې لهجې امتیازي وصف دا هم دی چې هرڅوک یې لوستلی شي، که هغه وربانديې پوهیږي او که نه، دحرمینو امامان په دې لهجه کې تلاوتونه کوي، داپه هغو ایاتونو کې کارول کېږي چې زیاتره پکې دالله تعالی په دعا مشتمل وي، هم داسې په کومو ایاتونو کې دالله (ﷻ) داسماء حسنی ذکر شوی وي هم دا رنگه قراني واقعات، قصص، فقهي احکامو ایاتونه هم داسې قرآني دعاوي په دې لهجه کې تلاوت کېږي، دا لهجه عموماً دبیات او نهاوند وروسته تلاوت کېږي اودرست وروسته صباء سیگاه چهار گاه، اوبیات لوستل کیدا شي، شیخ سید متولي عبد العال، راغب مصطفی غلوش، سید سعید اطهر بدوي، اوځینې وخت شیخ طبلاوي په دې لهجه کې ټول تلاوت کوي اوهم دا لهجه محور اومرکزیت گرځوي دنورولهجو وروسته دویم واریبا رست لولي، ځیني قراء وایي: ماهور دچهار گاه ښاخ دی حقیقت دادی چې ماهور درست جواب الجواب کې نهایي درجه ده

اوس ترټولو اهمه دپام وړپوښتنه دا پاتې ده چې کوم خلک لهجي نه پیژني نوهغوئ دا فن څنگه یادکړي؟ ځواب دادی چې د هغو مشرانو قاریانو تلاوتونه دي اوري کوم چې پخپلو تلاوتونو کې زیاتره وخت ټولې لهجې لولي، لکه شیخ القراء مصطفی اسماعیل شو، امیر النغم شیخ شحات محمد انور (د نوموړي ځوی محمود شحات انور) تلاوتونه په کثرت سره اوالتزام اوریدو به یې طرز په ذهن کې کیني اوبیا دهرې لهجې جلا، جلا طرزوي، چې کوم یو طرز محفوظ کړي نو پودې شي چې دغه تن لهجې هم یادولی شي، پاتې شوه دامسئله چې اوس دطرز پیژند گلوي به څوک کوي چې دفلانۍ لهجې دا طرزدی؟ ددې لپاره لهجو دا استاد قاري لاربنوونو ته اړتیا ده خودداسې قاریانو شمېر دلته ډېرکم دی پای

داسلامي حجاب سره دلویدیځ دښمني او د حجاب ورځ

داد ۲۰۰۳م کال خبره ده، دهمدې کال دستمبر میاشت کې په فرانسې کې دمسلمانو مېرمنو په حجاب کولو دبندیز لګېدلو قانون تصویب او دوخت دولت ښه په شدت عملي کړ چې له امله یې دمسلمانانو ژوند په فرانسې کې ډېر تریخ شو، د فرانسې مسلمانانو دفرانسې ددولت دې ظالمانه اقدام سره خپل شدید مخالفت ښکاره کړ، پرضد یې مظاهرې وکړې، ډېر مسلمانان ددې هېواد نه نورو هغو اروپايي هېوادونو ته کډه شول چې هلته پر حجاب بندیز نه و؛ دنړۍ کابو ټولو حقوق پوهانو دفرانسې دا اقدام ددې هېواد داتباعو په شخصي ژوند کې مداخله او دلباس په انتخاب کې دخلکو دازادۍ دسلبولو په معنی تعبیر کړ او دفرانسې دولت ته یې ددې قانون دلغوه کولو مشورې ورکړې خو دا چې ستونزه دمظلومو مسلمانانو وه نو فرانسه داډه وه چې له یو لورې پرې هم دفشار وار دېدلو خطر نشته نو ځکه درناګانو، رونقونو، ښکلا و خوشبویانو او ازادۍ دې هېواد دهیچا خبرې اورېدل او منل اړین ونه بلل، په خپل ضد ټینګ ودرېدلو، په هېواد کې دمیشتو ۲میلیونو مسلمانانو شخصي او مذهبي آزادي یې سلب او دنامعقولو پلمو په مقابل کې یې ددوئ احساسات تر پښو لاندې کړل.

دظلم او جبر نه ډک دې قانون پرضد دآواز پورته کولو او په حقوقي لحاظ ددې اقدام دنامشروعیت ښکاره کولو په موخه دنړۍ داسلامي حرکتونو او تنظیمونو مشران په لندن کې د ۲۰۰۴ کال په جولای کې داسلامي نړۍ دنامتو عالم یوسف القرضاوي په مشرۍ کې په یو جوړ شوي کانفرانس کې سره راټول شول، په همدې کانفرانس کې پریکړه وشوه چې دمسلمانو میرمنو دحجاب یانې دشرعي ستر نه دحمایت او دحجاب پرضد دشویو اقداماتو دغندنې په موخه به هر کال دستمبر په ۴ مې نېټې په نړیواله سطحه دحجاب ورځ لمانځل کېږي، بس دهمغې ورځې نه ترننه هرکال دستمبر په ۴ مې نېټې په ټولې نړۍ کې داسلامي حجاب سره دمینې، ورنه ددفاع، په مسلمانانو میرمنو کې ددې حکم دبیا احیاء او پرې دلګېدلو بندیزونو پرضد دکرکې ښکاره کولو په موخه مسلمانان دا ورځ دحجاب په نوم یادوي.

داسلام او مسلمانانو پرضد داعلان شوي اوسني صلیبي جنګ دپیل سره سم داسلام شعائر، ځانګړې نښې او په اسلامي لار ښوونو اوفرائضو کې دجهاد او اسلامي حجاب پرضد داسلام ضد کفري عناصرو له لورې دمنظم پلان له مخې هغې رواني دي پدې لار کې په ملیاردونو ډالر لګول کېږي او ټول اړین وسائل پکې په کار اچول

شویدي ،دې هڅو اوس د کلتوري یرغل بڼه غوره کړېده او لکه دعسکري یرغل پدې یرغل کې هم ټول استعماري ځواکونه یوموټي دي، دوئ ټول په یوه خوله اسلامي شعائر او داسلامي ثقافت ستر علامات دبنسټپالنې او ترویستي نښې ګڼي او هغه لویدیځ چې خپل ځان دبشري حقوقو محافظ بولي او هر انسان ته په مدني ژوند کې دشخصي آزادۍ ورکولو سترې دعوې کوي دهماغه لویدیځ په فرانسې ،هالنډ او ډنمارک کې دمسلمانانو دشخصي ازادۍ دسلبولو په لړ کې دمېرمنو په حجاب بندیز لګول شویدی او په یو لړ نورو کې هم دبندیز لګیدلو لپاره هڅې روانې دي.

داسمه ده چې داسلام نشاۀ ثانیه لویدیځوال وار خطا کړیدي او اسلامي لاربښوونو ته دژمنتیا تېز خپرېدونکي احساس دلویدیځ ددولتونو او ولسونو لپاره دتشویش سبب ګرځېدلی ، لویدیځوال غواړي چې مسلمانان تش په نوم مسلمانان وي ، پکې داسلام هیڅ رنګ او نښه نه وي او دخپلو ټولو لاربښوونو نه لرې وي خو بیا هم دمسلمانانو دعامو عباداتو په اړه ددوئ دریځ نرم دی ،د لویدیځ په یو ګوډ کې به هم تا څوک له عبادت نه منع نکړي او نه به ته کله په دې اړه دکومې ویرې ښکار شې ؛ ته شپه او ورځ لمونځونه کوه ! روژې نیسه ! زکاتونه ورکوه ! هر کال حج کوه خیراتونه کوه ! عام المنفعة ادارو سره مرستې کوه ! نادارو خلکو سره کومکونه کوه ! شپه او ورځ تلاوتونه کوه !تا به څوک ددې یو شي نه هم منع نکړي، نه به درباندې په عام محضر کې اعتراض وکړي ، نه به هم ستا پرضد کوم تحریک وچلول شي او نه به هم ستا پرضد په رسنیو کې اواز پورته شي خو چې کومه مسلمانه مېرمن دبې حده زیاتې ارتیا په اساس په خپلې خوښې او ارادې دخپلو بچو دپالنې او روزنې لپاره دکور په نوم ډېرې مهمې او بنسټیزې ادارې او روښنې تربیوي او روزنیز مرکز ته ځان وقف کړي او په ډېر پاک احساس دمعاوضې پرته داستر اخلاقي مسئولیت ادا کوي او انساني نسل دبد اخلاقۍ او وحشت کندو ته دلویدلو نه ژغوري نو دداسې مېرمنو ټول لویدیځ دښمن وي اود اسلامي نړۍ سیکولران یې په بدونومونو یادوي ، دداسې مېرمنو په باره کې داسلامي نړۍ سیکولران او غربي مزاجي خلک وایې چې دا باسواده مېرمن ولې ځان په کور کې ضایع کوي؟ولې دمشرانو فشار قبلوي؟ولې دعنعناتو په وړاندې ماتې خوري؟او ولې دملایانو خبرې مني؟

اوپه غربي ټولنې کې خو دا کار بیخي دپرمختګ ضد ، دبشر حقوقو خلاف او دشخصي ازادۍ سلبول ګڼل کېږي لویدیځوال او داسلامي نړۍ تش په نامه روښن فکران خو بیا په هغه مېرمن ډېر زیات په قهر وي کومه چې دسختې ارتیا په صورت کې له کوره بیرون په داسې حال کې راوځي چې سر مخ او نور ټول بدن یې پټ وي

په نړۍ کې چې هر تش په نامه روښنفکر ،ډیموکرسي پلوی خپرونکی،دبشر دحقوقو مدافع یا سیکولر سیاسي مشر دانساني ټولنې دپرمختګ ،د اقتصادي ودې علمي ترقۍ یا تهذیبي ارتقا په اړه غږېږي نو خپل نفرت دداسې مېرمنو په وړاندې ښکاره کوي چې دخپل ځان په اړه دحرصناکو او هوسناکو غلیظو نظرونو نه راپیدا کېدونکو ناسمو افکارو او ارادو په نتیجه کې یې دخپل عزت دبایللو دخطرناکو حادثاتو نه دځان ژغورلو په موخه په خپله خوښه بهرون ته دراوتلو پر مهال خپل سر ، مخ او ټول بدن پټوي.

دمسلمانو مېرمنو دحجاب او دخپل دین دلارښونو سره سم دستر کولو سره ددوئ دښمني ولې دومره جوړه ده؟

اصل خبره داده چې نړیوالو رسنیو (چې وړباندې دیهودو قبضه ده)څرنګه چې دغربي کلتور دخپراوي او پرنړۍ یې دمسلط کولو لپاره ډېرې زیاتې هڅې او پدې لار کې بې حده زیات لګښتونه کړي نو همدا رنګه پخپله دلویدیځوالو په زړونو کې دخپل کلتور سره دبې حده زیاتې مینې دپیداکولو لپاره هم یا دورسنیو دومره

کونښونه کړیدي چې په نتیجه کې يې اوس لويديځوال دخپل کلتور سره دجنون ترحده مینه کوي او همدا کلتور دخپل ژوند ټول متاع ګڼي.

دغربي کلتور روح څه دی؟ فحاشي ،عرياني ،او دجنسي غوښتنو دپوره کولو لپاره ترهغه حده ازادي چې پکې دسپو او نورو حيواناتو سره دجنسي اړيکو ټینګول او ښه په افتخار يې خلکو ته ښودل عيب نه وي ،لويديځوال پدې کلتور دهرڅه قربانولو ته تيار دي او داسې ګڼي چې په نړۍ کې يې دټولو شومواهدافو پوره کېدل ددې کلتور دژوندي ساتلو او پرنړيوالو يې په مسلط کولو سره تړلي دي ؛ بلکې ددې نه هم يو قدم وړاندې خپل وجود او بقا دخپل کلتور په بقاکې ويني او ددې کلتور پناه خپله پناه ګڼي ؛ نه پدې دچاسره سودا کولو ته تياريږي او نه هم په نړۍ کې ددې مخالفين زغملای شي ؛ کومه مېرمن چې په شرعي حجاب کې دکور نه بېرون راوځي لويديځوال يې داسې ګڼي لکه چې عملا يې ددوئ کلتور چيلنج کړی وي نو ځکه يې حجاب دهېواد امنيت ته خطر ګڼي او پرې بنديزونه لګوي ؛ ګيني حجاب اوديوهېواد امنيت ته خطر جوړېدل ؟!.

دلته داخبره هم دیادولو وړده چې دسترو ملټي نيشنل شرکتونو هغه مالکان چې دهېوادونو دسياستونو دبدلولو ترحده اثر رسوخ لري دحجاب سره دمخالفت په راپيدا کولو او دفحاشۍ په خپرولو کې دهغوئ هم لوی لاس دی ؛ په يوې جريدې کې په نشر شوي مضمون کې مې ولوستل چې دسرو دهوسناکو نظرونو او دمېرمنو دبې حجابۍ ترمنځ چې کومه رشته قائمه ده له دې لارې په نړۍ کې دسونو ملياردوډالرو تجارت اوکاروبار روان دی او دعريانۍ او فحاشۍ تحفظ او ورته وده ورکول دهمدې کاروبار دبقا جنګ دی ، دا کاروبار دآرايش او زيبايش دوسائلو او دلباس دانواعو او ډولونو دفن نه پيل کېږي او دفحش فلمونو او دجسم فروشۍ ترنړيوالې مافيا رسېږي ، دا کاروبار او پکې ډېره ستره پانګونه ډېره حيرانونکې ده ،

دښځو دنوکانو نه نيولې دسر تروېښتانو پورې دهر اندام دتزئين او آرايش دوسايلو دبرابرولو لپاره په زرونو لوی ملټي نيشنل شرکتونه کارکوي ، يوازې دوېښتانو دښکلا لپاره دشامپو نه نيولې تر وېښتانو د نيغولو او تاوولو ، رنګ ورکولو اوغوړ ښکاره کولو بدلولو لپاره په سو نو ملټي نيشنل شرکتونه دوسايلو په برابرولو بوخت دي.

نو دښځو دنوکانو نه دسرتر وېښتانو دمېرمنو دبدن يو غړی هم داسې ندی پاتې چې دکاروبار موضوع نه وي ګرځول شوي او دنمايشګرو مېرمنو په صورت کې دتلويزون په پردو نمايش ته نه وي وړاندې شوې ؛ دا هر څه په دومره هنر کېږي چې هره مېرمن يې تقليد ته هڅول کېږي او په همدې چل په ناشعوري ډول هره مېرمن دبازار زينت وګرځول شي چې له امله يې ټولنه دهيجان او جنسي بې لاريتوب ښکارشي ، ددې لپاره چې پدې بل اور تېل واړول شي او کاروبار لاپراختيا ومومي ورته دفحش موادو دتيارولو او خپرولو لوی صنعت رامنځته شوی چې له لارې يې هرکال ۷۰ ملياردهډالر لاسته راځي ، پدې کې ۱۵ مليارده ډالر يوازې دامريکا نه ترلاسه کېږي ، هر کال د ۲۰ ملياردو ډالرو فحش فلمونه خرڅېږي ،۸ مليارده ډالر په مجلو او جرايدو کې دفحش عکسونو دخرڅلاو له لارې ګټل کېږي اوپکې ترټولو بدکاروبار د ۱۳کلونو نه دکم عمر لرونکو انجونو دفحش فلمونو اوعکسونو دی ،په انترنيټ کې ددوئ د ۱۰۰ زرو نه زياتې پاڼې دي چې له لارې يې هر کال ۳ مليارده ډالر ګټل کېږي ،په انترنيټ دټولو فحش ويب پاڼو شمير ۴ميلونو او ۷سوه زرو ته رسيږي چې ددې ويب پاڼو نه دنړۍ نيږدې ۳ مليارده انسانان فلمونه او عکسونه خپلو کمپيوټرونو ته اړوي او له ځانونو سره يې ساتي ؛ يوازې په امريکاکې ۳ لکه او ۲۵زره انجونو دعکسونو اوفلمونو لپاره دخپل بدن نمايش کوي.

په ټولنې کې دهمدې هيجان له پيداکېدلو او په هر مقام دمېرمنو دبربندولو له امله په لويديځه ټولنه کې دناجايزو جنسي اړيکو يو طوفان دی او جسم فروشۍ

پکې دیو نوي کاروبار بنه غوره کړیده چې دنړۍ دډېرو غریبو او آفت وهلو هیوادونو نه دکم اولږ زیات عمر لرونکې انجونې هم ورته راوستل کېږي چې دې هم اوس دیو بل مستقل کاروبار شکل غوره کړی.

دفحاشۍ پدې سیلاب کې نړۍ ته دارمونو انسانانو ډېرلوی نسل راغلو ،یواځې په امریکا کې هرکال کم عمره انجونې یو میلیون کوچنیان زیږوي چې پکې زیاتره خیراتي ادارو تـه سپارل کېږي دپلار او مـور دشفقت دسیوري نـه محروم دا کوچنیان چې په خیراتي ادارو کې په هرڅومره زیاتو خوندونو او مزو کې راسترشي خو په فکري لحاظ فساد خوښونکي او دبلوغ سره سم قاتلان ، لوټماران انسانان تښتونکي او دمېرمنو عزت لوټونکي وي ،پخپله لویدیځې رسنۍ وایي چې په هرې دقیقې کې ۱۲۰ مېرمنې دجنسي تېري ښکار کېږي. نو سره له دې چې دلویدیځ دې فحاش او عریان کلتور انساني ټولنه ډېرې سترې بداخلاقۍ او فساد ښکار کړیده خو چې ملټي نیشنل شرکتونو ته ترې هرکال ملیاردونه ډالر ګټه رسېږي او بیا رسنیو تـه ددې شرکتونو له لورې په یو او بل نوم ډېرې زیاتې پیسې ورکول کېږي نو دلویدیځ دلیکوال ،څېړونکي ،مبصر، دمدني چارو کارپوه ، دبشر دحقوقو مبارز او سیاسي مشر له لورې یې پرضد یې آواز نه پورته کېږي ، او اوس یې چې تاوانونو لویدیځ ورخطا کړی او دټولنې کوم دردمند فرد یې پرضد اواز پورته کوي نو چندان ګټه ځکه نه کوي چې له یوې خوا غربي ټولنه پدې اړه دګمراهۍ ډېروجورو کندو ته پریوتې او له بلې خوا دداسې اواز دبې اسره کولو لپاره نړیوالې رسنۍ هم ډېرې ژر په خوځښت کې راځي ځکه چې ملټي نیشنل ګڼ شرکتونه دیهودو دي او په نړیوالو رسنیو هم دهمدوئ قبضه ده.

نولنده داچې کومه مسلمانه مېرمن چې په پرده کې له کوره راوځي نو دا مېرمن دوئ دخپلو ګټو لپاره ګواښ او دخپلو ګټو پرضد یو ګرځنده اشتهار ګڼي نو ځکه یې په حجاب بندیزونه لګول کېږي او په بدو نومونو هم یادېږي

دمسلمانو مېرمنو دحجاب پرضد دې اقداماتو او سلوک مونږ خفه کړي یو خو پرې حیران او ډېر پریشان نه یو ،حیران خو ځکه نه یو چې دا مهال ددوه طاقتونو ډېره ستره مقابله روانه ده، یو لورته دماده پرستۍ ،شهوت پرستۍ عیش پرستۍ ،افراطي ازادۍ ،وحشت او بدفعلۍ فکر دی چې ټول لویدیځ یې ترشا ولاړ دی او په نوم ښځه بربنډول ، دهرځای زینت جوړول او قدم په قدم ترې خوند او لذت اخستنه اسانول او عامول ددې فکر مجبوري ده خامخا به یې کوي نو تعجب به ولې پرې کوو ؟

بل لورته دانسانیت شرافت، اخلاقو ،عزت، پاک لمنۍ او دفطرت اصولو ته دژمنتیا فکر دی ؛ دې فکر ته اوس الحمدلله په شرق او غرب کې زمونږ ځوان نسل په ډېرې تېزۍ رانېږدې کېږي ؛ په ځانونو کې دبدلون راوستلو داقدام عزم یې کړی ،فطري اصولو او اسماني لارښوونو ته په ډېر سرعت راستنېږي چې د شرعي حجاب سره دمسلمانو مېرمنو دمینې ډېروالی او دکارولو کثرت یې لویه ښنه ده ؛ اوس هاغه پخوانی وخت ندی چې دفتر، شفاخانې ، مکتب او پوهنتون کې به مسلمانې مېرمنې وې خو دحجاب تصور به هم نه و اوس پدې هرځای کې باحجابه مېرمنې ښې ډېرې وي ؛ او یواځې په اسلامي هیوادونو کې نه بلکې په لویدیځ کې یې هم دمسلمانو مېرمنو سره دومره قدر او اهمیت دی چې هره یوه پرې اوس لکه دشهیدة الحجاب ،،مروه الشربیني،، په څېر سر ورکولو ته تیاره ده ځکه چې دروانې پېړۍ اسلام ته ژمنه هره مسلمانه مېرمن پدې پوه شویده او ښه په جهر وایي چې شرعي حجاب اوس په شخصي ژوند کې زما دازادۍ ښنه ده ،دا مې پت ، عزت ، شرافت او حفاظت دی، دا مې وقار ،اعتبار او افتخار دی او همدا زما ښنان دی ؛ لویدیځ هم باید دا حقیقت ومني او چې دبشر حقوقو او آزادۍ ته ځان ژمن بولي نو دبندیزونو لګولو پرځای دې خپلو اتباعو ته په شخصي ژوند کې ازادي ومني.

لیکوال: داسلامي نړۍ مفکرعالم مولانا سید ابوالحسن علي "ندوي" رح - ژباړه: ابوطهیر

اسلامي هیوادوکې

داسلامیت او مغربیت ترمنځ کشمکش!

اسلامي نړۍ کې دجدید یت اومغربیت ملاتړي اوناقدین

نهمه برخه

دکمال اتاترک فکري روزنه، اودهغه دذهنیت اومزاج طبعي ځانګړني:

له غربي تهذیب سره دهغه (مصطفی کمال) په زړه کې دومره مینه وه چې د تقدس او احترام تربرید هم پسې وراوښتي وه، آن چې په اعصابو اوجذباتو یې هم دهغه د اثر دوړي پرېوتي وي، ددې په یادولو د اتاترک مستند سوانح لیکونکی "عرفان اورګا" (irfan orga) لیکي:

مصطفی کمال چې دوس ترحده به دکوم شي زیات تلقین کاو او پخپله یې په هغه عمل هم کاو، هغه د نوي خدای (تهذیب) پرجوش منل او هغه ته وفادار حواریتوب وه، هغه دالفظ (تهذیب) دهېواد له یو سرنه تربل خور کړ، کله به چې دهغه په اړه یې خبري کولي، له سترګو به یې ځلا پورته شوه، په مخ به یې یو داسي کیفیت ښکاره شو، ګواکې تابه ویلي چې د مراقبه جنت په وخت کې دیوه صوفي مخ دی (ibid p.273)

مصطفی کمال خپل قوم ته ویلي، مونږ باید دیوه مهذب اوښایسته قوم لباس په تن کړو، نور باید دنیا ته دا ښکاره کړو چې مونږ یو لوی قوم یو! مونږ ته دیو بل ناپوهه قوم خلک دا موقع نه راکوي چې په پخواني زاړه فیشن پوري وخاندو! مونږ ته له زمانې سره یو ځای یون پکاردی (ibid p.260)

ددې وروسته یې په ذهن کې په اصلاح شوي او نوي قالب کې دترکیې داچولو تخیل و، خو دهغه په برخه چې کوم انساني قوم رسیدلی و، هغه دبیزارو، ناهیلو اوترهیدلو خلکو ټولي ته ورته وه.. څنګ چې په جنګ کې یونوی شامل شوی عسکر وي! هغه دیوه داسي سړي په حیث په یواځې سرکارپیل کړ، کوم چې دځواک سرچینه و، هغه له ځان پرته په بل هیچا دفیصلې باورنه لاره، تل دنورو په چارو کې لاسوهنې ته لیوال و، (ibid p. 244)

دتهذیب په اړه دهغه اند اوتخیل څه و؟ او دترک قوم لپاره یې څه غوښتل؟ ددې ځواب په لاندې وینا کې کښل شوی لیکوال لیکي:

ددې لپاره چې ترکان ژرترژره ځانونه دغربیانو په رنګونو رنګ کړي اوله سره ترېښو دهغوئ پښا ن شي

!تردې چې ترمنځ یې هیڅ یو امتیاز هم پاتـه نه وي څو
;تاکس نه ګوید بعد ازین من دیګرم تودیګری ! !

هغه دترک خولۍ او د بل لباس په سرکول له قانونه سرغړونه اعلان کړه په ځای یې دهیټ استعمال لازم کړ ، په دې اړه یې له دومره شدت څخه کار واخیست ، چې شاید له دې پرته دترک قوم لپاره دعزت بل شرط نه وي !دا دهیټ خونړۍ جګړې آن دصلیبي جنګ ښه غوره کړه ، ترک سوانح لیکونکي دامعرکه داسې یاده کړې:

فساد اوبلوا زیاته و ه اوحالت دومره له خطر ډک و چې دبحر احمر په غاړه یو ه کرزو ته هروخت دتیار سئ حکم ورکړل شوی و ، په هېواد کې ځای په ځای بیړني محاکم جوړ شول ، هغو ئ خپل بیړنی کا رپیل کړ ، دې کار بلوایان نور هم مشتعل کړل ، ددیني کړیو هغو غړو چې خلک یې پاڅون ته هڅولي وو ، په دار وځړول شول اویا دیته اړشول چې ځانونه پټ په تیښته وباسي ! هیڅکله یې له رحم اوعاطفي کار نه اخیسته ، مصطفی کمال دخپل جوړکړي دپلان بشپړولو پریکړه وکړه ،ورته په دې پروا نه نه راتله چې دهغه دبشپړولو لپاره کوم زرایع اووسائلکارول کېږي ؟ډلي ،ډلي خلک نیول کېدل ، یواځې په دې تور چې هغوئ مذاق کړی وو ، په دار وځړول شول ، مجرم اونه مجرم یوشان دوحشت ښکار ول ، هغه نه په تحقیقاتو کې دعجلې کولو له امله چاته سرزنښت ، ورکړ اونه یې دقوم خوښې ته په شکست ورکولو کې تامل وکړ، زیاتره وخت به یې دتکبر په لهجه ویلې: زه یواځې ترک یم ، ځما شکست به دنړۍ شکست وي !دا جعلې اوغرضي جنون یې هغو خلکو ته هم ورنقل کړی و چاچې به هغه دترکیې دنجات ورکوونکي او.... لقبونه کارول ....

بالاخرد هیټ په جنګ کې اهیټ برلاسی شو ، محاکم کامیاب شول ،ولس شکست وخوړ ، مصطفی کمال ددې لپاره چې نړیوالو ته خپله دا بریـا نوره ښـه څرګنده کړي ، په ۱۹۲۷ز کې مکه معظمه کې دموتمر اسلامي جوړې شوي غونډې ته یې دخپل پارلمان یوتن غړی "ادیب ثروت" د استازي په تو ګه ور واستاو ه ، ادیب ثروت هغه یواځینی مسلمان استازی و چې هیټ یې اغوستی اوپه موتمر کې شریک و ، له امله یې دنورو هېوادو استازو په ډېر انقباض ترېو تندو هغه ته هرکلی ووایه(ibid p. 265)

په هر صورت داتاترک پرژوند داجمالي رڼا اچولو سربېره دهغه د مزاج په ځانګړتیاوو ،دهغه دکردارونو اوکارنامو بیانولو پهلړ کې یادلیکوال لیکي:

هغه پخپل ژوند کې له رنځونو اوناهیلیو سره هم مخ و له دې وجې ورته ډېر لږ دخوښیو فرصتونه په لاس ورغلي ، هغه له غریبانو سره مینه او له شتمنو خلکو نفرت کاو ، دمفکرانو اوعالمانو څخه ډاریده ولې دهغوئ څواک یې له خپل څواکه ډېر ګاڼه ، دشرابو ،میرمنو اوموسیقۍ زیات شوقي و ، هم یې له هغو تولو خلکو نفرت کاو ، چاچې ورسره اختلاف کاو ، اګرکه چې هغه به کله ،کله هغوئ دخپلو غرضونو لپاره هم استعمالول ، هغه دخپل عزم، څواک ، سخت مزاجۍ او دذهن صفایې لوړ مقام ته رسولی و ، دهغه مزاج اوژمنتوب دواړه له یوبل سره په هم آهنګ کېدو وړاندې شول اوپرمختګ یې وکړ، دهغه دسترتوب راز دا و چې مقاصد یې محدود او معین وو ، یومعاصر دولت دخپلو څرګندو اومعلومو حدودو دننه جوړول ! ! ددې ترڅنګ دهغه بل خصوصیت دا و چې دشکست اوتباهۍ خولي ته پد غورځیدو و وروسته به هم پخپل فکر او آند ټینګ ولاړو اوله هغه نه په شاتګ کولو ته تیار نه و (ibid p. 296-297)

دکمال اتاترک اصلاحات اودهغه انقلابي ګامونه:

دکمال اتاترک مشهور انگریز سوانح لیکونکی (H. C. ARMSTRONG) دهغه په اصلاحي او انقلابي کردار باندې درېیا اچولو په ترڅ کې لاندې الفاظ کښلي:

اتاترک په چل ول او دځواک په کارولو ،د هغو قوي او عمومي کارونو په بشپړولو لاس پورې کړ، کوم چې هغه پیل کړي وو ،هغه دا پرېکړه هم کړې وه چې ترکیه له خپلې زړې او متعفن ماضي نه بهځان جلا کوي ، هغه دسیاست هغه پخوانۍ قالب رښتیا مات کړ ،سلطنت یې له دیمکراسۍ سره اشنا کړ او ترکیه چې یو شاهي (EMPIRE) رژیم یې درلود ، په یو معمولي هېواد یې بدله کړه او یو دیني سلطنت یې یو حقیر جمهوریت وگرځاوه ، هغه سلطان (خلیفه) معزول کړ ، دپخواني عثماني سلطنت سره یې ټول اړیکې پرېکړل ، اوس هغه غوارې او هڅه کوي چې دقوم عقلیت ، پخواني تصورات ، اخلاق ، عادات ، لباس ، دخبرو طرز ، اداب ، ژوند ، اودکورني ژوند ترجزیاتو هرڅه تغیر او بدل کړي، دکومو په وجه چې ترکانو ماضي د شرقي چاپېریال سره تړلي . دگلي انقلاب او بدلون دغه کار دنوي سیاسي قالب له جوړولو زیات ستونزمن و ، ورته ددې کار دستونزو پوره ادراک او احساس و ، یوځل هغه ویلي : ما په دښمن فتحه او غلبه وموندله او هېواد مې ونیو نو ایا زه به په قوم باندې هم غلبه ومومم !!! ایا قوم به مفتوح کړم ؟(GREY WOLF P. 287)

په رښتیا کمال اتاترک پرولس غلبه وموندله ، هېواد یې داسې سیکولر (لادین) دولت وگرځاوه ، چې په هغه کې اسلام درسمي دین بڼه نلري ، دین او سیاست یې سره جلا کړل ، او پرېکړه یې وکړه چې دین د هر انسان ذاتي معامله ده هر سړی کولی شي چې ځانته هر دین چې غوره یې بولي خوښ کړي ، پرته له دې څخه چې هغه (دین) له سیاست سره یوځای کړي ، دخلافت اداره یې رنگه کړه ، شرعي اداري ، محاکم او اسلامي قوانین یې له هېواده بېرون کړل ، دسویس دیواني قوانین او دایټالیا فوجداري قوانین ، دجرمني نړیوال او عامه قوانین او داروپا ټولنیز قوانین یې راوړل نافذیې کړل ، دیني زده کړې یې ممنوع کړې، پرده او حجاب کول یې له قانونه سرغړونه اعلان کړه ، مخلوط سیستم یې پلي کړ، دعربي حروفو پهځای یې لاطیني حروف دود کړل ، په عربي ژبه کې یې اذان بند کړ ، دترک قوم لباس یې تغیر کړ ، دهیټ استعمال یې لازمي کړ ،لنډه چې کمال اتاترک دیاد انگریز تاریخ پوه په وینا دترک قوم او حکومت دیني اساس له بېخ او رېښو ختم کړ او دقوم نظریه یې بدله کړه (ATATURK P.280)

کله چې اتاترک پارلمان ته دهېواد دسیکولر گرځولو وړاندیز پاټه وړاندې کړه .او په پارلمان کې یې کومه وینا کړې دهغې دلنډیز په وړاندې کولو عرفان اورگا لیکي:

مصطفی کمال په کال ۱۹۲۴ز کې دمارچ په ۳مه نېټه پارلمان ته یو پرېکړه لیک وړاندې کړ، په هغه لیک یې ترکیې ته دیوې بې دینه هېواد بڼه (SECULAR) ورکړه او دخلیفه منصب یې ختم کړ . دوړاندیز پاتې وړاندې کولو پر مهال مصطفی کمال په ازادانه توگه بحث وکړ، هغه وویلي:چې عثماني سلطنت داسلام په اصولو جوړ و او اسلام دخپل اصلیت ،جوړښت او اندونو له پلوه عربي دی ، هغه دپیدائښت نه ترمرگه دخپلو پیروانو ژوند تشکیلوي او هغوئ پخپل یوه مخصوص قالب کې ځایوي ، دهغوئ امیدونه زندۍ کوي ،دهغوئ دزړورتیا وو او پرمختیاوو وړاندې خنډونه ایجادوي ، په هېواد او حکومت کې داسلام پرلپسې پاینښت له امله به هېواد او حکومت تل دخطرونو او ستونزو سره لاس او گرېوان وي (ATATURK P. 241)

د هغه نویو پرېکړو او اصلاحاتو چې داسلام په راتلونکې کوم اغیز پرېباسه او له امله یې څومره لړې وتې

لرونکي بدلونونه رامنځته شول ، هغو په نغوته عرفان اورګا ليکي:

پارلمان چې کومي پريکړي وکړي ، دهغو ډېره لړه يادونه اوڅېړنه و شوه ، په حقيقت کې هغو په اسلام ديوه درووند ګذار او مرګوني پيغام حيثيت لاره ، دتعليم په اړه دوحدت قانون په ښوونيزډګر کې د اوږدو بدلونو لامل شو ، هغه ښوونيز نظم ونسق چې ددغه جمهوريت دحدودو دننه وليدل شو ، په ترڅ کې يې ټول تعليمي سيستم دپوهنې وزارت په واک کې راغی ، دي بدلون دمدرسو په هځو اودهغو علماوو او استادانو په ازادۍ منفي اغيز و کړ چاچې له دي وړاندې په يو ازاد اوخپلواک چاپيريال کې زده کړي کولي ، بل ګام يې ددينې چارو داداري جوړول و ، کومه چې ديوه رئيس درياست لاندې راځي ، دا نوي اداره ددينې چارو او اوقافو دپخوانې وزارت په ځای يې رامنځته کړه ، دچا په ذيمه چې ددغه وزارت اړوند دينې چارو رهبري ، دخيراتي او قافو اړوند امورو تنظيمول ، دمسجدونو اويتم خونو جوړول او دهغو پالل دي ، وړاندې ددغه وزارت دندي وي ، خو دچارو نظام يې زيات ناسم اوډېر شرمونکی و.

دعربي رسم الخط په ځای لاتيني رسم الخط يې دود کړ ، دترک قوم په ژوند کې يې يولوی

انقلاب راوست اويو داسي نوی نسل يې وروزه چې دخپل پخوانې تهذيب اوکلتور سره يې تړون پاتې نشو ، په پخوانې تهذيب او کلتور ، علم او ادب باندې ددې انقلاب چې کوم اغيز پريوت هغه زمونږ دزمانې منلي غربي مفکر او تاريخ پوه(ARNOLD TOYNBEE) پخپل کتاب(A STUDY OF HISTORY) په دېره ښه توګه انځور کړي هغه ليکي:

ديوه پخوانې روايت له مخې داسکندريه کتابتون ذخيره کومه چې دنهه سوه نه دزياتو کلونو محصول وه ، دحمامونو ګرمولو لپاره دسون توکو په توګه سيزل شوي وه ، زمونږ په وخت کې دکتابونو دسيزلو لړ کې هټلر هغه ټول څه وکړل ، چې هغه کولی شول، اګرکه نن سبا دچاپ خونو په وجه ظالمو واکمنو لپاره دغه لورته په ګام پورته کولو کې ډېر کم برى ليدل کېږي او مشکله ده چې کامياب شي.

څېړنه: دلته په دغه روايت کې غربي ليکوال داسکندريه کتابتون دسيزلو هغه روايت ته اشاره کړي ده، چې په استناد يې د حضرت عمر (ṣA) په حکم داسکندريه علمي ذخيري ته اور اچول شوی و !! له تاريخي اوعلمي پلوه دغه روايت کوم اصل نلري ! يواځي تشه افسانه پاته ده اروابناد مولانا شبلي نعماني پخپل فاضلانه کتاب(کتب خانه اسکندريه) کې ددغه روايت علمي اوتاريخي حيثيت بالکل ختم کړی دی

يادليکوال ليکي:

دهټلر هم عصر مصطفى کمال(اتاترک) بيا يوه ښه موزون طريقه غوره کړه ، دترک امپراطور هدف دخپلو وطنوالو اذهان دهغه ايرانې تمدن له چاپيرياله ازادول وکوم چې ترکانو ته په ورثه کې پاتې و اوپه زور يې دغربې تهذيب قالب ته ور واچول ، هغه دکتابونو سيزلو پر ځای دتهجي حروفو په بدلولو قناعت وکړ ، ددې قانون دپلي کولو څخه وروسته دترک غازي لپاره دچينې شاه ، يادعربي خليفه دنقالي اړتيا نه وه ، عربي ، ترکي اوفارسي علمي ذخايروته اوس دنوي نسل لاس رسی ممکن نه و و ، دکتابونو سيزولو ضروت نه و ، ولې تهجي حروف چې دکيلي حيثيت لري ، هغه لغوه شول ، اوس هغه ذخاير په داډمنه توګه په الماريو کې بند پاته شول ، دڅوتنو عمرخوړلو عالمانو پرته ورته نور څوک دلاس ووړو پاتې نه ول.(P.518_519) نوربيا

د مجلې ژورنالیزم

Magazine Journalism

دریمه او وروستۍ برخه

زلمی افغان

د مجلې دندې:

مجله د خپلو لوستونکیو لپاره لاندې دندې ترسره کوي:

* تفریح ورکول.
* د معلوماتو ارائه کول.
* د عامه ذهنیت غوړول.
* د لوستونکیو را جلبول.
* په ټولنه کې مثبت بدلون راوستل.
* خلکو ته سواد ښودل.
* د تبصرو خپرول.
* اعلانات خپرول.

د مجلې او ورځپاڼې ترمنځ توپیرونه:

۱– ورځپاڼې عادي او عمري مینه وال لري؛ خو مجلې د هیواد په کچه ځانګړي او عمده مینه وال لري.

۲– مجلې په میاشت کې یو ځل خپرېږي او ورځپاڼه هره ورځ. لوستونکي ځکه ورته پام اړوي، چې مواد یې ژور، دقیق او په اوږده زماني واټن سره تهیه شوي وي.

۳– د مجلې لیکنې او مواد عموماً په یوه یا څو بشپړو پاڼو کې ځای پر ځای، داسې پاڼې چې کچه یې د ورځپاڼو تر هغې کمه او د کتابونو تر پاڼو غټه وي.

۴– مجلې د معلوماتو عمده ماخذونه او سرچینې تشکیلوي. مجلې د لوستونکیو د تفریح او سرګرمیو لپاره

JOURNALISM,P49, by:Dr Quratlain Gohar(PAS) -[1]
& Haseeb Gohar (FSP)

هم یو غوره انتخاب دی، همدارنګه د فکر جوړوني او ذهن سازي لپاره هم پراخه کارونه لري.

د مجلې د پرمختګ لاملونه:

رونالډ ولسیلین په مجله پوهنه (Understanding Magazine) کې د مجلې د پرمختګ د لاملونو په باب کې لاندې ټکي د مجلې د پرمختګ عوامل بولي :

☒ د مجلې هدف .

☒ د مجلې لپاره غوره بازار موندنه (مارکټینګ).

☒ د معیاري لوستونکیو لرل.

☒ د دایمي لوستونکیو علمي او کلتوري سویه.په پام کې لرل

☒ په مسلک کې سیالي .

☒ پر کړنلاره بیا بیا غور کول .

☒ د عامه ذهنیت او عامه سویو په پام کې نیول.

☒ د کاغذ کیفیت .

☒ د رنګونو کیفیت

☒ انځوریز ژورنالیزم پلي کول.

☒ د عالي تیکنالوجۍ کارول .

☒ مجلې ته پرلیکه (انلاین) او هوسا لاس رسی.

☒ مناسبه بیه .

☒ د مجلې دایمي چلول.

☒ د لوستونکیو تبصرې او وړاندیزونه اخیستل.

☒ د مجلې په پاڼو کې د لوستونکیو برخه او د دوی نظرونه او تبصرې خپرول.

☒ هر وخت د مجلې ژورنالیزم د اصولو او اخلاقو تعقیب.

☒ اشتهار او اعلانونه.

او ځیني نور...

د مجلې د ناکامۍ لاملونه :

☒ د کاغذ خراب او تر ټولو ټیټ کیفیت.

☒ د رنګونو ناسم انډول او کیفیت.

☒ د چاپ کړندود.

☒ د مجلې مطلق یو او یو نواخته ډیزاین.

☒ د اعلاناتو کمښت.

☒ د سرمقالې د ښکاره بیلګې کمښت.

☒ پر ټاکلي وخت نه چاپول او تر لوستونکیو نه رسول.

☒ ډېر لوړ قیمت.

☒ د لوستوالو نشتوالی.

او داسې نور...[2]

ضص

د مجلې د تیارۍ په اړه ریاض ثاقب په خپل کتاب (نوې خبریالي) کې کاږي : مجله اړه ده چې د خپلو خپرونو په لومړي پړاو کې له اړوند ښار یا ولایت څخه اجازه لیک ترلاسه کړي. د دې چارې لپاره یوه ځانګړې فورمه ډکول کېږي.په فورمه کې د خپروني د ځرنګوالي،شتمنۍ، کار

[2] JOURNALISM,P50, by:Dr Quratlain Gohar(PAS) & Haseeb Gohar (FSP)

کوونکو، د امتیاز څښتن، مسوول مدیر، مرستیال او نورو څیزونو په اړه معلومات ورکول کیږي.

ورپسې د ولایت یا ولسوالۍ اداري چارواکي پولیسو ته دنده سپاري ،چې د غوښتنلیک د څښتن په اړه بشپړه څېړنه او پلټنه وکړي. د پلټنو تر مثبت ځواب وروسته د اطلاعاتو او کلتور وزارت یا ریاست د خپرونو د ثبت د څانګې له لوري اجازه لیک ورکول کیږي. اجازه لیک ټاپه کیږي او دا د دې ښکارندويي کوي ،چې تر دې وړاندې په دغه نامه کومه بله خپرونه نه ده خپره شوې، د خپرونې د ثبت غوښتونکي د خپرونې خپرندوی هم وي. که هغه وغواړي د مدیریت (Editor) چارې هم پر غاړه اخستلای شي؛ خو چاپوونکی بیا بل کس وي. که چېرې له خپرندوی سره مخکې له مخکې د چاپخونې اجازه لیک شته وي، چاپچارې یې هم پخپله ترسره کولای شي.

ښاغلی ثاقب د مجلې د کار کوونکیو د عمرونو په باب زیاتوي، چې د خپرندوی، چاپګر او مدیر عمرونه تر ۲۱ کلونو کم او په اخلاقي جرمونو تورن نه وي.[3]

د مجلې کارکوونکي او د هغوی دندې :

د نوې خبریالۍ نومې کتاب لیکوال ښاغلی ریاض ثاقب د مجلې د کار کوونکو او د هغوی د دندو په اړه کاږي : د مجلې کار کوونکي په مجموعي ډول په دوو برخو ویشل کیږي، یو د مجلې کاري څانګه ده، بله د مجلې اداري څانګه.

الف- کاري څانګه:

د کاري څانګې مشر مدیر یا ایډیټر دی، چې د مشر ایډیټر تر څار او لارښوونې لاندې وي. په مجله کې خپرېدونکي توکي چمتوالی ،اوډون او سمون، کمپوز، کاپي جوړاوی ټول د ایډیټر تر څار لاندې تر سره کیږي.

په ډېرې مجلو کې د ایډیټر ترڅنګ ،مرستیال ایډیټر او مصححان هم د مجلې پر بشپړتیايي چارو بوخت وي. دغه کسان د موادو په چمتو کولو ، ایډیټ او لیکنو کې برخه اخلي. د پروف لوستنې، کمپیوټر او هنر څانګې هم د ایډیټر تر لاس لاندې وي.

د کاري څانګې ارزښت په دې کې دی ،چې د مجلې ټولې مهمې چارې او خپرنیز پړاوونه د دوی په لاس کې وي. د مجلې ځرنګوالی او معیار د هغې له منځپانګې او خپرو شویو توکیو ځرګندیږي. کاري څانګه اړه ده چې د مجلې د زړه راښکون او معیاري تابه لپاره هلې ځلې وکوي.

ب- اداري څانګه :

د مجلې په اداري څانګه کې مدیریت، د اشتهارونو، تیراژ او مالي چارو برخې کار کوي. اداري چارواکي د مجلې د کار کوونکیو اړتیا او غوښتنو ته ځوابونه وایي. ټرانسپورټي چارې، مېز، څوکۍ، لیکنیز توکي، قلم، کاغذ، اوبه ، بریښنا، د کمپیوټرونو ستونزې ،ځای او نور اړوند څیزونه سمبالوي.

د کار کوونکیو ګومارنه او نورې چارې هم له همدې لارې ترسره کیږي.

د مجلې د مطالبو ډول:

۱- ژوند پیښې یا شخصي لاسته راوړنې :

په شخصي تجربو ولاړې لیکنې چې د لیکنې د سفر ،لیدنې- کتنې په ترڅ کې ولیکل شي د بېلګې په توګه د مزارشریف سفر او داسې نور .

۲- فکري لیکنې :

په دغو لیکنو کې لومړی مواد راټولیږي ،په غور سره لوستل کیږي او وروسته بیا د موضوع په اړه نظر ورکول کیږي خو دغه ډول لیکنې زیاتره د هغو له خوا

[3]-نوې خبریالي، ریاض ثاقب،ژباړن: نذیر احمد سهار، مخ۱۷۰

لیکل کېږي چې نظر او مفکورې ته یې په ولسي کچه هر کلی کېږي او د خلکو په زړونو کي ځای ولري، خو هغوی چې په خلکو کي محبوبیت او یا هم وړ او بې داغه سابقه ونلري؛ هېڅوک یې پر لیکنو وخت نه ضایع کوي.

۳- تحقیقاتي یا څېړنیزي لیکنې:

په دغه ډول کي هغه لیکنې راځي چې وروسته له ډېرې مطالعې او څېړنې ترلاسه کېږي، که څه هم د دغو لیکنو او د نظریې د ډلو ترمنځ هومره توپیر نه تر سترګو کېږي ؛خو پر دې سربېره دغه لیکنې د ډېرې دقیقې او هر اړخیزې مطالعې په ترڅ کي لیکل کېږي.

۴- تألیف یا ټولونه:

د دغو لیکنو لپاره کېدای شي مواد یا محتویات د بېلابېلو کتابونو څخه را ټول شي او وروسته لیکوال دغه مواد په خپلو الفاظو کي ولیکي چې دغه لیکنو ته تالیف ویل کېږي.

د مجلو د لیکنو لپاره منابع او سرچینې:

١- کتابتون ٢- دایرة المعارف

٣- معلوماتي کتابونه ۴- انټرنیټ

٦- معلوماتي سي ډیانې - ٦ رسنۍ

٧- بیلابیل ارشیفونه او داسې نور...

د مجلو لیکنو ځانګړ تیاوې :

☒ اسانه

☒ لنډې

☒ عامه فهمه

☒ جامع یا هر اړخیزي

☒ بیا هم د خپلو لوستونکیو سویې ته په پام .

د مجلې توزیع :

د مجلو توزیع د بریښنالیک (ایمیل) په مټ هم کېدای شي، د اخبار پلورنځیو ، کتاب پلورنځیو او نورو غورپو او هټیو له لارې. یا د وړیا توزیع په صورت کي بنایې له یوه یا څو خاصو ځایونو څخه توزیع او وویشل شي.

د مجلو توزیع بنایې په دوو بڼو ترسره شي :

١- وړیا :

د مجلو وړیا توزیع عموماً د خلکو د تجماتو په مرکزونو ترسره کېږي. لکه : ښوونځي، مدرسې، پوهنتونونه، سترې غونډې، کتابتونونه، کتاب پلورنځي او نورو داسي ځایونو کي خلک یې ترې په اسانۍ ترلاسه کولای شي.

٢- په بیه :

دا ډول توزیع د کتاب پلورنځیو او اخبار پلورنځیو (Book Stall) له لاري ترسره کېږي. همدارنګه د میاشتنۍ یا کلنۍ ګډون ونډې د ادایني په صورت کي د پوست بکس، بریښنالیک او ترانسپورتي وسایلو په مټ هم توزیع کېدای شي.

په دې لیکنه کي له لاندنیو مأخذونو څخه استفاده شوې ده :

(١) ثاقب ریاض ، ژباړن نذیر احمد سهار ، نوې خبریالي، میوند خپرندویه ټولنه، ١٣٨٦ل، کابل

JOURNALISM by:Dr Quratlain (٢) Gohar(PAS) & Haseeb Gohar (FSP)

(٣) ګوګل ډاټ کام او بېلابېلي انټرنیټ پاڼي

ومن الله التوفیق

دتعليم اوتربيې په اړه

يوه پوښتنه او ځواب يې ...!

شهامت مجله چې د افغانستان داسلامي امارت دفرهنگـي کميسـيون پـه امتيـازخپريږي پرلپسـي ځلويښتمه گڼه مې کتله. پـه ۵۹ ام مخ کې پـه مقوس ليک ليکلي وو(دټولودیني مدارسو لپاره واحد تعليمي نصـاب)تري لانـدي مبـارک حـديث(طلـب العلـم فريضة...)او ژباړه يي په پښتو ژبه کښل سوي وه.سريزه هم پښتو وه او پـه پـای کې ليکلي وو(پـورتنی نصاب دابتدايي اومتوسطي پـه شمول پـه يـولس درجـو کې دټولو افغـاني دينـي مدارسولپاره واحد نصاب ترتيب شوی او پـه عملي کولـويې هرمحترم مـدرس او طالـب العلم مکلف دی. ومن الله التوفيق)

دانصـاب داسـلامي امـارت دتعلـيم او تربيـې کميسيون جوړکړی وو.

مهـال ويش لـه ابتـدايی پيـل او پـه درجـه حـادی عشر(۱۱) (دوره حديث) پای ته رسيده ،درسي ساعتونه دورځي اووه وو.

ډيرکتابونه په عربي ژبه ووچي بايد وي.خودعربی ترڅنگ دري(فارسي) هم څرگند ځای درلود. پيـل يې پـه ابتداييه کې په پنج کتاب ، دوام يې گلستان ، بوستان.. او پای يې په درجه تاسعه(۹) کې په مثنوی شريف سوی وو.

دتعجب ځای راته داوو چې له پيله تر پايه دپښتو په هکله نه دکوم کتاب نوم ليدل کيده او نه کوم درسي ساعت ورته ځانگړی سوی وو.

زه نه پوهيږم چې ددې لپاره پښتو نه وه چې هغه خو مورنۍ ژبه ده ، دهرچا زده ده. خوداخبره دمنلو وړ نه ده، ځکه لـه ځينو پرتـه، همدا کسـان پـه پښـتو ليکنـه کولای نسي او که دغسي وای بياخوبه زموږپيوونده ټول دپښـتو ليکـوالان وو او دعربو اعرابيـان بـه ټـول دقـرآن کريم په باريکيو پوهيدل.

که وايي چې دا نصاب دفارسي ژبو لپـاره دی، هم نـه منـل کيـږي، ځکـه هغـوی هم پښـتو تـه اړتيـا لـري او دهغوی به بيا فارسي ته اړتيا نه وه ځکه مورنۍ ژبه يي ده په خپله به يي زده وي.

له ماسره دژبي په هکله تعصب نسته خو داوايم چې په مورنۍ ژبه زده کړه خورا اسانه او دهرچا حق دی.

په هر حال، زه خو په رښتيا ورتـه حيران سوم ،که په اړه يې ځواب راته وويل شي ډيره به ښه وي.

مزمل حقمل

ددې وروړ پوښتنه او انديښنه مو د اسلامي امارت د تعليم او تربيې کميسيون ددیني برخې له مسئولينو سره

شریکه کړه، هغوئ یې په اړه لاندي وضاحت او ځواب را استولی چې دادی دلته یې ګټمتې خپروو (اداره).

ځواب ـ د تعلیم او تربیې کمیسیون څه موده مخکې د(۱۴۳۳) هجري کال د رجب میاشت او د(۱۳۹۱) لمریز کال د جوزا میاشتې او(۲۰۱۲) میلادي کال د جون په میاشت کې د دیني مدارسو لپاره یو متفقه واحد تعلیمي نصاب ترتیب کړ کوم چې د امارت له مقام لخوا منظور شو او بیا د شهامت مجلې د اووم کال په دو یمه او پرلپسې څلوېښتمه ګڼه کې خپور شو.

چې دا د ټولو اړوندو دیني تعلیمي ادارو او ټولو مینه والو لپاره د خوشحالۍ زیرې دی او هم د اسلامي تعلیماتو د تعلیمي کیفیت د څرنګوالي او لوړوالي په ډګر کې دالوی ګام دی، څو د وخت شرائطو او غوښتنو ته مثبت ځواب شي.

دغه محترم ورور چې د اسلامي تعلیماتو په دغه نصاب کې د ژبې اړخ ته کتنه کړي، د فارسي ژبې

علماوو او با احساسه اشخاصو نظریاتو او مشورو ته سترګې په لار یو تر څو د نصاب د کیفیت د لوړوالي او په مسلکي توګه د نصاب د لا ښه والي په اړه مونږ سره مرسته وکړي د دې تر څنګ له خپلو دوستانو څخه داهیله هم لرو چې د مختلفو نصابونو خپل معیارونه، مشخصات او ځانګړتیاوي هم په نظر کې ولري او په دې برخه کې د پوره معلوماتو په رڼا کې خپل نظر څرګند کړي مونږ نوموړي ته د نصاب د ځینو مشخصاتو په اړه یو څو لنډې نکتې او یوه ګیله مخ ته ږدو هیله ده د انصاف له مخې قضاوت پرې وکړي:

معلومات مو دادي:

۱: لکه څنګه چې تاسي پخپله هم پوهیږئ چې دغه نصاب د اسلامي او دیني تعلیماتو لپاره جوړ شوی دی، د اسلامي او دیني تعلیماتو بنسټ او بنیاد د قران کریم او حدیث نبوي «صلی الله علیه وسلم» په زده کړه او د هغو پر لفظي او معنوي مزایاوو باندې پر پوهیدلو ولاړ دئ او د غه دواړه (قرانکریم او حدیث نبوی «صلی الله علیه وسلم») په عربي ژبه کې دي او عربي ژبه د فصاحت او بلاغت په لحاظ د بې شمیره حکمتونو ډکه ده چې د دغه نصاب زیاتره فنون لکه صرف، نحو، معاني، بیان، بدیع او ... د عربي ژبې د ګرامر، فصاحت او بلاغت او نورو ارزښتونو د زده کړې لپاره ځای شوي دي نو آیا ضروري نه ده چې د عربي ژبې د زده کړې لپاره د داسې موثرو وسائلو له لارې استفاده وشي؟

ځینو کتابونو شتون او د پښتو ژبې د محرومیت ګیله یې هم کړېده او ... مونږ په دې اړه د فني او مسلکي

۲: دغه نصاب کوم نوی جوړ شوی نصاب نه دی بلکه د فنونو په لحاظ زمونږ د اسلامي تاریخ یوه ډېره

پخوانی لړۍ ده چې زموږ دنیکو اسلافو څخه راپاتـه ده اوس صرف دفنونو او کتابونو په لحاظ درجه بندي يکی شوې ده خو له پخوا څخه تر اوسه داډول تبصره موږ نده اوريـدلی ، نـه پـوهيږو چـې اوس ددې ضـرورت څنګـه احساس شو.

۳: تر اوسه ددینې او اسلامي تعلیماتو دنصاب په چوکاټ کی دپښتو داسی مشکل او سخت کتاب نه دي راغلـی چـې درسـي ويـلـو تـه ضـرورت ولـري او کـه موجود وای نو به خامخا تدريس کیدل

۴: په دغه نصاب کی ځینې کتابونه چې دوخت لـه غوښتنو سره سم داخل شوي او پرته له عربی په نورو ژبو وو لکه (اردو) هغه ټول موږ په پښتو يافارسي تـه ترجمـه کړي او چاپ کړي او دمدرسو په واک کی مو ورکړې دي

.

۵: دفارسی ژبی کتابونو له موجوديت په اړه موږ دا وايـو چـی دفارسـی ژبـی کتابونـه لکـه (پنج کتـاب ، گلستان ، بوستان او مثنوی) دا ديوه علمي فن په حيث لکـه دينـی احکـام ، ادبيـات ، تصـوف او تـاريخی واقعيتونو په توګه راغلی دي نه ديوی ژبی په توګه.

۶: دپښتو بلکـي دهـری ضـروری ژبـی دزده کـړی لپاره موږ ځانګړي دعصري تعليماتو اداري لـه ابتدائی يعنی کلیوالی کچی څخه نيولی تر پوهنتون او مسـلکی تعليمی ادارو تر کچې پوری لرو چه په هغـو کـی دهـری ضروري ژبی خصوصاً دپښتو ژبی دګرامر ، لغت ، اصـل او قوانینـو دزده کـړې پـوره انتظـام او اهتمـام شوی دی چې پـه مسـلکی لحاظ دهغـی پـه زده کـړه سره يو څوک دژبـی متخصـص او ليکـوال جوړيـدای شـی ، مينـه وال کـولای شـی ددغـو ادارو لـه لاری چـی هغـه هـم زمـوږ دتعليمی لړی يو جزء لاينفک دی خپله مينه ماته کړي او خپلـی ژبـي تـه خـدمت وکـړی ، چـی مـونږ پخپلـه دکليوالی مدرسو لپاره ددريو کلنو يو نصاب په پښتو کی ليکلی او غوارو چی دفارسی ژبو لپاره يی فارسی ته هم ترجمه کړو.

او ګيله مو داده:

دغـه دژبـی مینـه وال ولـی ددغـو عصـری تعليمـی ادارو نصابونو ته متوجه نه دي چې زموږ ددين ، وطن او فرهنـګ دښـمنانو پرتـه لـه نـورو خرافـاتو او لاس وهنـو يوازی دژبی په لحاظ څومره تيری کړی او دنصاب زده کړه او تعليم يـی پـه ځينـو لـوړو ادارو کـی پـه پردی ژبـه لازمی ګرزولی او نور هم کوشش روان دی تر څو ټولې عصري اداری دخپلو ژبو تر اثر لاندی راولي او هرڅه په پردی ژبه ولوستل شی چی دانه دينې ضرورت دی او نه هم فنې او مسلکی.

آيا نه ګوری چی ! په ځوانانو او دعصری تعليمـي ادارو په شاګردانو کی ئی څومره دشوق او رغبت فضـا رامنځ تـه کـړې ده چـې دپرديـو ژبـو دزده کـړی لپـاره پـه رسمي او شخصي کورسونو کی دخپـل وس تـر انـدازی پورته فيس او اجوره ورکوی تـر څـو پردی ژبـه زده کـړی چی دنصاب په زده کړه کی ستونزه ونه لری ، نو اوس ايـا داخبره پرځای نه ده چـی دهغـو پـر ځـای تـر ممکـن حـده کوشش وشـی چـې دعربـی ژبـی دزده کـړی لپـاره زمينـه برابره شی تر څو زموږ ځوانان او راتلونکی نسل دقران کريم دلفظی اعجاز او دفصاحت او بلاغت لـه کچې خبر شی او په دينی عقايدو کی يې نور قوت راپيدا شی ، هيلـه ده ټـول مسـلمانان پـه دغـه خـدمت کـی زمـوږ سـره شريک شی.

والسلام

سلمان رشدی و غریزهٔ شرم آور.....

خانم دورا روز، یکی از چهره های Realty TV در نیویارک، طی یک مصاحبه با دیلی میل انگلستان، سلمان رشدی را یک انسان معتاد به شهوت خواند.

خانم روز میگوید که ناول های سلمان رشدی او را مجذوب ساخته بود.

وی بی صبرانه مشتاق دیدار سلمان رشدی بود. خانم روز بالاخره به دیدار سلمان رشدی به دفتر وی در نیویارک میرود و اورا از نزدیک ملاقات مینماید.

خانم روز میگوید که باور نمیکردم که ناول نویس مشهور وبرنده باارزشترین جایزه شاهی انگلیس را ملاقات مینمایم. اما دیری نمیگذرد که این شخصیت مشهور برای خانم روز به یک معتاد و مریض شهوانی مبدل میگردد.

سلمان رشدی بعداز ملاقات با خانم روز، اورا به یکی نایت کلبهای نیویارک باخود میبرد و درآنجا حرکاتهای شهواني سلمان رشدی که 35 سال از خانم روز کلانتر میباشد و قبلاً چهار خانم را طلاق نموده است، خانم راتکان میدهد.

خانم روز میگوید که سلمان رشدی یک "horny boy" است. اصطلاح horny درامریکا به کسانی اطلاق میشود که ازنگاه شهوانی درحالت جنون وافراط بسر ببرند وبرای رفع شهوت، تمام حدود را بگذرند.

خانم روز مدعی است که سلمان رشدی بخاطر رفع شهوتش صدمه روحی به وی وارد نموده است و اورا بخاطراینکه باوی همبستر نشده تحقیر و بی عزت نموده است. خانم روز می افزاید که دیگر هیچگاهی اورا ملاقات نخواهم کرد.

سلمان رشدی درسال 1947 دریک فامیل کشمیری درایالت بمبی هندوستان بدنیا آمد. وی بخاطر نوشتن ناول های انگلیسي اش درکشورهای انگلیسی زبان مشهوراست.

درسال 1988 ناولی رازیرنام "آیتهای شیطانی" نوشت، درآن به اسلام وحضرت محمد (ص) وازواج پاکدامن پیغمبر باالفاظ زشت ورکیک توهین نمود.

بعدازنشر کتاب وافروختن احساسات مسلمانان درسراسر دنیا، کتاب وی درتمامی کشورهای اسلامی وبعضی کشورهای غیر اسلامی مانند: هندوستان، سنگاپور، سریلانکا، ونزویلا، افریقای جنوبی، کینیا، تانزانیا وتایلند، ممنوع قرار داده شد. احمد دیدات مبلغ فصیح و یکی ازعلمای سرشناس اسلام از افریقای جنوبی درجواب به کتاب رشدی، لکچری رابزبان انگلیسی زیرنام "How Rushdie Fooled the West" یا "رشدی چطورغرب را احمق ساخت" ارایه داشت، که فعلاً درسایت یوتوب قابل دسترس است.

شرمساری شهواني سلمان رشدی، واضح میسازد، کسانیکه درصدد تهمت بستن به دامان پاک پیغمبر (ص) وازواج پاکدامنش باشد، خداوند اورا درهمین دنیا به تهمتی که وارد نموده گرفتار خواهد ساخت. سلمان رشدی کوشش نمود که بی ادبانه به حضرت محمد (ص) توهین نماید ولي امروز خود در گودال شهوت چنان گرفتار شده است که ازهیچ حقارت و بیشرمی برای رفع شهوت دریغ نمی ورزد، باوجود اینکه عمرش به 65 سال رسیده که درچنین سن سال غریزه جنسی به شکل طبیعی آن درانسانها ضعیف ویا ازبین میرود. اما وی دیوانه وار درپی رفع شهوت است.

مفتي ولي حسن ټونکي (رح)

دقرباني احکام اومسائل

ژباړه: اتل

دذی الحجة الحرام د لومړی لسیزي فضایل:

رسول الله (ﷺ) فرمایلي: دالله (ﷻ) دعبادت لپاره دذی الحجة الحرام (دلومړی) لسیزي څخه بله غوره زمانه نشته، په دې کې دیوي ورځي روژه دیوه کال دروژو برابره ده، اوپکې دیوي شپي عبادت دقدرشپي دعبادت سره برابر دی (ابن ماجه.ترمذي)

په قرآن مجید کې الله (ﷻ) په والفجر سوره کي په لسو شپو سوګند کړی دی دجمهورو په قول:هغه لس ورځي دذي الحجی لس شپي دي، په خاصه توګه دذی الحجی په نهمه روژه نیول دیوه تیر شوي اویوه راتلونکي کال ګناهونو لپاره کفاره ده اوداختر په شپه بیداریدل اوعبادت کول لوی فضیلت او اجر لري.

دتشریق تکبیرونه:

"ألله أكبر الله أكبر لا اله الا الله والله أكبر ألله أكبر ولله الحمد

دنهم تاریخ له سهار څخه تر دیالسم تاریخ مازیګر پوري له هر لمانځه وروسته په لوړغږیو ځل پورتني تکبیرونه ویل واجب دي، فتوا په دې ده چې په جماعت سره لمونځ کوونکي اوتنها لمونځ کوونکی برابر دي هم دارنګه نارینه اوښځینه دواړو باندې واجب دي، البته میرمني به یې په لوړ غږ نه وایي کرار او وروبه یې وایي.

دلوی اختر په ورځ دا لاندې کارونه سنت دي:

سهار وخته پورته کیدل غسل اومسواک کول، پاک اوسوتره کالي اغوستل (چې کوم لري)، خوشبولګول، دلمانځه څخه وړاندې څه نه خوړل، عیدګاه ته په تلو کي په لوړ غږ کې تکبیرونه ویل.

داختر لمونځ:

داختر دلمانځه رکعتونه دوه دي، داختر دلمانځه توپیر له نورو لمونځونو سره یوازې دومره دی چې داختر د لمانځه په هر رکعت کې درې، درې تکبیرونه دي، په لومړي رکعت کې دسبحانک اللهم ویلو وروسته دقرائت څخه وړاندې درې تکبیرونه ویل او په دویم رکعت کې دقرائت وروسته درکوع څخه وړاندې درې ویل، په دغوزائدو تکبیرونو کې ترغوږونو پورې لاسونه وړل دي، په لومړي رکعت کې ددوه تکبیرونو وروسته لاسونه زوړند پریښودل اوددریم تکبیر وروسته لاسونه تړل کیږي، په دویم رکعت کې ددرې واړو تکبیرونو وروسته لاسونه

زوړند پریښودلی شي اود څلورم تکبیر کولو سره یوځای به رکوع ته ښکته کیږي.

.... که دلمانځه په دوران کې له امام یا له مقتدي څخه دزائدو تکبیرونو ترتیب هیر شي نود ګټي ګوني په وجه لمونځ سهي دی دسهوي سجده ضرور نده.

.... که یو تن لمانځه ته وروسته ورسي اویو رکعت ترې لاړوي نوفوت شوی رکعت به دلومړي رکعت دترتیب سره سم راوګرځوي یعنې دثناء سبحانک اللهم وروسته به درې زائد تکبیرونه ووایي اوبیا به دترتیب سره سم رکعت پوره کړي.

....داختر دلمانځه وروسته خطبه اوریدل مسنون دي دخطبې اوریدو کیناستل پکار دي دخطبې څخه وړاندې پورته کیدل دسنت خلاف دي.

دقرباني فضایل:

قرباني کول واجب دي، رسول الله (ﷺ) دهجرت وروسته هرکال قرباني کړیده، یوکال یې هم نده ترک کړي، هرعمل چې رسول الله (ﷺ) مسلسل کړی وي اوهیڅ کال یې نه وي پریښودی دادهغه عمل د وجوب دلیل دی

علاوه په دې رسول الله (ﷺ) دقرباني نه کوونکو لپاره وعیدونه فرمایلي، په احادیثو کې ګڼ وعیدونه راغلي دي، مثلاً: رسول الله (ﷺ) فرمایلي: چاچې قرباني نه وي کړي هغوئ دې زمونږ عیدګاه ته نه راځي !علاوه پردې پخپله دعظیم الشان قرآن دځینو ایاتونو څخه هم دقرباني وجوب ثابت دی کوم خلک چې داحادیثو نه منکردي او حجت یې نه مني هغوئ له قرباني هم منکردي، له هغوئ نه چې کوم خلک متأثردي هغوئ وایي پیسې یتیم خانوته وورکړئ !دابلکل غلط دي، ولې چې دعمل یوصورت وي اوبل حقیقت، دقرباني صورت داضروري دی، پکې لوی مصلحتونه دي اوحقیقت یې اخلاص دی دقرانې ایت څخه هم داحقیقت معلومیږي.

قرباني لوی فضیلتونه لري:

په مسند احمد کې یو حدیث دی، حضرت زیدبن ارقم (رض) وایي: چې رسول الله (ﷺ) ته صحابه وو عرض وکړ چې: داقربانیاني څه دي؟ رسول الله (ﷺ) وفرمایل: داستاسې دپلار ابراهیم (ع) سنت دي، صحابه وو ویوښتل: زمونږلپاره پکې څه ثواب دی؟ رسول الله (ﷺ) وفرمایل: ددې دهر ویښته په بدل کې یوه نیکي ده، د وړیو په اړه یې وبوښتل: وي فرمایل :دهغو هم دیوه ویښته په بدل کې یوه نیکي ده.

حضرت عائشه صدیقه (رض) وایي: رسول الله (ﷺ) وفرمایل: دقرباني په ورځ الله (ﷻ) ته له دې نه زیات بل هیڅ عمل محبوب ندی، دقیامت په ورځ به دقرباني څاوری له ښکرونو، وښتانو اوپلو سره یوځای راوستل شي !په زمکه دوینې تویدو وړاندې دالله (ﷻ) په وړاندې دقبولیت سند ترلاسه کوي، له دې وجې تاسې قرباني په خوشالی کوئ.

ابن عباس (رض) وایي: له قرباني څخه زیات بل عمل نشته مګر داچې دخپلوی دلحاظ ساتنه ده (طبراني)

رسول الله (ﷺ) خپلې لور حضرت فاطمه (رض) ته وفرمایل: ته دخپلې قرباني ذبح کولو په وخت حاضره اوسه ولې دلومړي څاڅکي وینې تویدو وړاندې انسان ښنل کیږي

دقرباني دفضیلت په لړ کې نور هم ګڼ احادیث راغلي، له دې وجې دمسلمانانو څخه التماس دی چې دغه عبادت هېڅکله ترک نکړي، کوم چې له اسلامي شعایرو څخه دی، اوپه دې لړ کې چې دکومو شرائطو او

آدابو لحاظول ضروري او ورته ارتيا ده هغوته پاملرنه پکارده اودقرباني لپاره ښه چاغ څاروی پيرل پکاردي دقرباني په اړه نور مسائل په لاندې کرښو کې راځي:

دقرباني مسائل:

۱.... په کوم تن چې سرسايه واجب وي په هغه قرباني هم واجب ده

ځيرنه: يعنې دقرباني د درې ورځو (۱۲\۱۱\۱۰ ذي الحجي) په دوران کې له ضرورت نه دومره زيات مال او سامان موندل چې دهغو بيه ۵۲\۵ تولې له سپينو زرو سره برابروي نو په هغه سړي باندې قرباني کول واجب دي ، مثلاً: داستوګنې له کور څخه علاوه يې بل کور وي که هغه دتجارت لپاره وي او که نه؛ هم داشان دضرورت سورلۍ په توګه داستعماليدونکي موټر نه علاوه بل موټر ولري نو په دغسي تن هم د قرباني کول واجب دي.

۲.... په مسافر باندې قرباني کول واجب نده

۳.... دقرباني کولو وخت دلسم تاريخ نه ددولسم تاريخ تر ماښامه دی ،ددولسم تاريخ دلمر پريوتو څخه وروسته قرباني کول سهي نده ، دقرباني څاروی دورځې له خوا ذبح کول غوره دی ، اګرچې دشپې هم ذبح کول جوازلري !! وغوره قرباني داختر په ورځ بيا په يوولسمه اودولسمه ورځ ده !

۴.....په ښار او کليو کې داوسيدونکو لپاره دلوی اختر دلمانځه وراندې دقرباني څاروی ذبح کول سهي ندی ، په باندو او اطرافو کې داوسيدونکو لپاره دصبح صادق ختو څخه وروسته دسهار دلمانځه وړاندې هم دقرباني دڅاروي ذبح کول جايزدي ، که دښار کوم اوسيدونکی خپل دقرباني څاروی دقرباني لپاره بيرون اطرافو ته وليږي ، نوهلته دهغه قرباني ذبح کول هم داختر دلمانځه وړاندې روا دي اوذبح وروسته غوښه ښارته هم ور غوښتی شي... !

۵.... که مسافر مالداروي او په يوځای کې دپنځلس ورځو دقيام نيت وکړي يا په دولسم تاريخ دلمر دغروب څخه وړاندې کورته ورسي يا دکوم غريب سړي سره ددولسمي ورځې دلمر له پريوتو وړاندې دومره مال پيداشي چې پرې دنصاب څښتن کيږي نو په دې ټولو صورتونو کې دقرباني کول واجب دي.

څېړنه: هم دا راز که مسافر مالدار و ، دسفر په دوران کې هم دقرباني کولو لپاره پيسي ولري اودپنځلس ورځو نه هم دکمې مودې لپاره دپاتې کيدو باوجود په آسانۍ سره قرباني کولی شي دغهلپاره غوره داده چې قرباني وکړي.

۶.... دقرباني څاروی پخپل لاس ذبح کول غوره دي که پخپله يې نشي ذبح کولی په بل چاپې هم ذبح کولی شي

څېرنه: ځينې خلک په قصاب باندې دذبح کولو په وخت کې لومړی خپله په چاړه باندې لاس ږدي دداسي خلکو لپاره ضروري ده چې قصاب اودقرباني څښتن دواړه تکبير ووايي ، که له دواړو څخه يو هم تکبير و نه وايي قرباني نه کيږي.(شامي ۳۳\۲)

۷.... دقرباني دڅاروي ذبح کولو په وخت کې په ژبه باندې دنيت الفاظ ويل ضروري ندي په زړه کې يې لوستل هم کافي دي .

۸..... دقرباني کولو په وخت کې څاروی به مخ په قبله څملوي بيابه دا دعا ووايي:

انی وجهتُ وجهیَ للذی فطر السموات والارض حنیفاوما أنا من المشرکین انّ صلاتی ونُسُکی ومَحیَایَ وَمَمَاتِی لِلهِ رَبِ العالمین ، لاشریک له وبذلک أمرتُ وَ

أنا أوّلُ المسلمين ، أللهمّ منکَ ولکَ ددې وروسته بسم الله ألله اکبر ووایي ذبح دي وکړي (سنن أبي داود)

دذبح کولو وروسته به دا دعا ووایي:

أللهمّ تقبله منّي کما تقبّلتَ من حبيبک محمد وخليلک ابراهيم عليهما الصلوة والسلام

۹..... قرباني یواځې د خپل ځان له لوري واجب ده داولاد له لوري نده واجب که اولاد بالغ وي او یانابالغ ، مالداروي او که غیر مالدار.

۱۰..... ددې لاندې څارویو قرباني کیدای شي

د اوزې ، اوزګوري ګډې او ګډ نه علاوه په نورو څارویو کې اوو تنه شریک کیدای شي ، په دې شرط چې دهر ګډونوال برخه به له اوومې برخې څخه کمه نه وي ، اوټول به دقرباني په نیت شریکان وي ، اویا به دعقیقې په نیت وي یواځې دغوښې په نیت به نه وي شریکان شوي.

خبرنه په غوایه ، میښه او اوښ کې له اوو تنو کم هم شریک کیدای شي په داسې تو ګه مثلاً: څلورتنه دي درې تنو به دوه ،دوه برخې شي اودیوه تن به یوه برخه شي ، که ټول څاروی په څلورو برخو وویشي هم کیدای شي یاداچې دوه تنه موجود وي نو نیم ، نیم یې ویشلی شي

هم داسې که څوتنه یوځای شي اویوه برخه دایصال ثواب په نیت کول غواړي نو دا هم جایز ده ،البته ضروري ده چې ټول شریکان پیسې یوه تن ته ورکړي اوهغه ته یې ورهبه کړي اوهغه بیا له خپل لوري قرباني وکړي [illegible]

> **کوم سوګند چې دالله (ﷻ) پرته په بل وخوړل شي هغه کفر دی (فردوس)**

۱۱..... که څوک دقرباني څاروی په دې نیت واخلي چې وروسته به له ځان سره بل څوک هم شریک کړي ،بیا څوک دقرباني یا دعقیقې په نیت له ځان سره شریک کړي نو قرباني سهي ده ، اوکه داخستو په وخت کې یې دنورو دشریکولو نیت نه وکړي بلکې ټول یې دځان له لوري دقرباني په نیت اخستی و ، نو اوس که شریک کوونکی تن غریب و ، هغه له ځان سره بل څوک نشي شریکولی شي اوکه نادار اومحتاج و هغه یې شریکولی شي !البته غوره ندی

ځېرنه:که یو څاروی دقرباني لپاره واخستل شو که دهغه په بدل کې بل څاروی قرباني کوي نوجایزدی ، خو دا لحاظول ضروري دي چې بل څاروی به لږترلږه همدې بیې وي که ددې څخه دکمو و ، نوزیاتي پیسي به له ځان سره نه ساتي بلکې صدقه کوي به یې هو ! که په ژبه یې څاروی نه تعین کړی بلکې اراده یې کړي وه که په ښه قیمت وپلورل شو نو پلورم یې په دې صورت کې که داصل قیمت څخه زیاتي پیسي له ځان سره پریږدي کوم باک نلري.

۱۲..... دقرباني څاروی که ورک شو اودهغه وروسته بل واخلي اوس که دقرباني کوونکی تن شتمن و ، نوهغه دغو دواړو څارویو څخه چې هر یو یې خوښ و قرباني کولی شي اوکه غریب وپه هغه باندې ددواړو قرباني واجب ده.

سپیناوی: که کوم تن دقرباني لپاره څاروی واخیسته ، اوداخستلو وروسته دقرباني څخه وړاندې هم هغه څاروی ورک شو ،نو په شتمن سړي ددویم څاروي اخستل ضروري دي ولې شرعاً په هغه باندې قرباني واجب ده ، او په ورکیدو سره واجب ادانشول لیکن په غریب سړي بیا د دویم څاروي اخستل اوقرباني لازم نه وه ، ددې باوجودکه دویم څاروي واخست ، اوسوشوه داسې چې دغریب اومالدار دواړو ورک څاروي پیداشول نوپه شتمن باندې یواځې دشرعي

واجب قرباني لازم ده هرڅاروي چې زړه یې غواړي ذبح دي کړي اوهر چې غریب دی هغه خپله په ځان واجب ګرځولي له دې وجې په هغه ددواړو واجب ګرځول شویو څارویو قرباني کول واجب دي.

ددې تفصیل دادی چې په شتمن سړی دنصاب له وجې قرباني واجب وه، نو موږي هغه ادا کړه، دهغه په حق کې څاروی تعین نه و ،هغه واک لري ،چې هر څاروی وغواړي ذبح دې کړي اوهر چې غریب سړی دی و په هغه باندې قرباني لازم نه وه ،ددې باوجود غریب پر ځان قرباني لازم وګرځوله اوکوم څاروی چې هغه واخست ،هغه هم تعین شو ، که هغه ورک شو نو په بدله کې یې په غریب باندې دبلې قرباني اخستل لازم نه وه ، ددې باوجود غریب بله قرباني واخسته ،په دې سره یې په ځان باندې قرباني لازم کړه، نو له دې وجې په غریب سړي باندې بله قرباني هم لازم شوه نو که ورک څاروی بیا پیدا شو نو په غریب سړي ددواړو څارویو قرباني لازمي ده ،په خلاف دمالدار سړي نه چې په هغه قرباني لازم ده نه دمعلوم څاروي ،ددواړو څارویو څخه دیوه قرباني کول کافي دي.

۱۳.... دقرباني په څاروي کې که څوتنه شریکان وي نو غوښه دې په تله وویشي.

۱۴.... ګډ اوزه چې دیوه کال وي ، غوایه اومیښه ددوه کلو اواوښ دپنځه کلو وي، نو وربانديې قرباني جایز ده ، که ددې څخه کم و بیا وربانديې نده جایز هو ! که [illegible]

هغه کار کوه چې وروسته پرې شرمېږې نه

ځېرنه :اوس مهال دڅارویو تول کېږي بیا یې پیر اوپلورل کېږي دداسې څاروي قرباني پرته دشک نه جایز ده.

۱۵.... دقرباني څاروی که ړوند و یا دیوې سترګې دریمه برخه دید یې نه و ، یایې دیوه غوږ دریمه حصه نه وه ، یا لکۍ ددریمې حصې نه زیاته نه وه، نود داسې څارویو قرباني کول جایزندي.

ځېرنه:دغوا ، میښې ،اوزې اوګډې یو تی که وچ شوی و یا په پیدائشي توګه نه و، نودداسې څاروي قرباني هم سهی نده.

۱۶....که څاروی په یوه پښه باندې ګډ و ، یعنې په درې پښو تلای شو په څلورمه پښه یې زورنشو کولی ،دداسې څاروي قرباني هم جایزنده هو ! که په څلورمه پښه یې زور کولی شو اودهغې پهمرسته تلای شو ،خو ګوډ ګوډ تلو دداسې څاروي قرباني هم رواده.

۱۷.... دقرباني څاروی باید ښه تیار اوتازه وي ، که څاروی دومره خوار اوکمزوری و چې په هډو کو کې یې بلکل غوښه نه وه نودداسې څاروي قرباني هم جایزنده

ځېرنه: ځینې خلک تیار اوتازه څاروی یوائې دښودو ،ریا اونوم لپاره اخلي داسې خلک دقرباني له ثواب نه محروم کېږي ، هغوئ ته پکاردي چې یوائې دثواب لپاره تیار اوتازه څاروي واخلي.

۱۸.... که دکوم څاروي تول غاښونه غورځیدلي وي نو قرباني یې جایزنده .که ډېر غاښونه یې پاتي وو اولږ غورځیدلي وو بیا یې قرباني جایز ده.

ځېرنه :که دکوم څاروي عمر پوره وي اوغاښونه یې نه وي راوتي نوقرباني یې کېږي خوپه دې لړ کې یوائې دڅارویو د سوداګرو خبره اعتبار نلري بلکې په یقین سره معلومول ضروري دي که په کورکې ساتل شوی څاروی و نو قرباني یې جایز ده.

۱۹.... دکوم څاروي چې پیدایشي غوږونه نه وي دهغه قرباني جایزنده.

۲۰..... که دکوم څاروي ښکر بالکل په بیخ کې مات شوی وو چې له امله یې دماغ هم متاثر شوي وو ،دداسي څاروي قرباني جایز نده ، که معمولي مات وو یا له سره یې ښکر نه وو لکه: لکه اوښ شو نو دکراهت پرته یې قرباني جایزده.

څېرنـه:هـم دا راز دغوایـه ، اوزي اونـورو کـه پیدائشي ښکرو نه، نه وي نو قرباني یې جایزه ده

۲۱.... دخاربښ څېلي څاروي قرباني جایز ده البته که دخاربښت له وجې زیات کمزور شوی و بیا نده جایز.

۲۲..... که دقرباني په څاروي کې کوم عیب پیدا شي چې دهغه په وجه قرباني نه کېږي نو شتمن لپاره ضروري ده چې په بدل کې یې بله قرباني واخلي او غریب سړی هم دا شته څاروی قرباني کولی شي.

څېرنه:که دقرباني لپاره دڅاروي په څملو لو کې یوعیب پیدا شو مثلاً: پښه یې ماته شي ، هډوکي یې مات شي یا یې ښکر اونور څه مات شي نو له امله یې په قرباني باندې کوم اثر نه پریوزي البته دڅاروی دڅملو لو په وخت کې احتیاط پکاردی.

۲۳..... دقرباني په غوښه کې غوره داده چې درې برخي شي ، یوه برخه دځپل ځان لپاره کېښودل شي ، یوه برخه دخپلوانو لپاره ځانګړې شي ، یوه برخه دفقیرانو اومسکینانو لپاره جلا شي اوکه ټوله دځان لپاره وساتل شي هم جایز ده.

۲۴..... دقرباني څرمن دي چاته دخیرات په تو ګه ورکـړي یـا دي خپلـه وپلـوري پیسـي دي پـه غریبـانو اومسـکینانو بانـدې وویشـي البتـه کـه کـومي دینـي مدرسي اویا جامعي ته ورکړل شي دا ترټولو غوره ده ولې چې دعلم ترقي او شتون دټولو لپاره ګټوردی

۲۵..... دقرباني له څرمني څخه خپله هم استفاده کـولی شـي هغـه داسـي چې دهغـي عـین بـه پـاتي وي مثلا:ترې مصلی جوړول یارسی اونور څه جوړول.

۲۶..... دقرباني دڅرمني قیمت دمسجد په جوړولو یا دامام ،مؤذن اوخادم په معاش کې نشي ورکولی نه دمدرسو په تعمیر کې اویا روغتونو اوخیراتي ادارو ته ورکول کیدای شي.

۲۷..... دقرباني څرمن قصاب ته په أجرت کې هم نشي ورکول کیدای.

څېرنه:که دیوچا دقرباني څرمن ورکه شوه یا چا واخسته پکاردی چې دقرباني ښښتن دڅرمني پیسي صدقه کړي که دصدقي وس یې نه و نوحرج نشته قرباني کېږي.

۲۸..... که دقرباني درې ورځي تیري شوي اوقرباني یې ونکړه نوبیا دې دیوي اوزي یاپسه(ګډ) قیمت خیرات کړي که څاروی یې اخستی و نوخوقرباني نشو کړای نوبعینه هم هغه څاروی دي خیرات کړي

۲۹..... دایصال ثواب لپاره دقرباني غوښه خپله هم خوړلی شي اونوروته یې هم ورکولی شي

۳..... که دکوم تن دا جازې پرته دهغه له لوري بل چا قرباني وکړه نو دا قرباني نه کېږي ، هم داسي که یوتن دهغه دحکم او اجازت پرته شریک کړای شو نودهیچا قرباني هم نه کېږي هم داسي که دشریکانو څخه یو شریک دغوښي نیت وکړي دټولو شریکانو قرباني نه کېږي .

۳۱..... دقرباني غوښه کافرته هم ورکول کیدای شي البته چاته په أجرت کې یې نشي ورکولی.

۳۲..... دبلاربـه څـاروي قربـاني هـم جـایزده کـه لـه ګیډې یې حیوان ژوندی را ووت هغه دي هم ذبحه کړي غوښه دي پخپل منځکې دتقسیم په ځای صدقه کړي

ځیرنه: دقرباني دڅاروي پښې لوشل ، یایې وښتان پریکول جایزندي که چا داسې وکړل هغه دې صدقه کړي اوکه وي پلورل هغه پیسې دې صدقه کړي

۳۳..... کوم تن چې قرباني کول غواړي دهغه لپاره مستحب داده چې دیوکم ذی الحجې څخه دقرباني ترذبح پورې دخپل بدن اوجسم وښتان پریک نکړي اونه نوکان واخلي (ابوداود)

ځېرنه: البته که دنامه لاندې اوتخرګونو د وښتانو که څلویښت ورځې تیرې وي نوبیا دهغو صفایي غوره ده

۳۴..... کولی شي چې دقرباني غوښه له درې ورځو زیات هم خوندي کړي (ابوداود)

۳۵..... دڅاروي دذبح کولو لپاره چاړه ښه تیزول پکاردي څو څاروي ته تکلیف نه وي.

۳۶..... که یوتن خپله ټوله غوښه په بل چاباندې وخوري خپله یې تري ونه خوري نو داسې کولی شي (کتاب الاثار)

۳۷..... دخصی څاروي قرباني رواده ، بلکې غوره ده ولې چې په هغه کې دنورو په نسبت غوښه ډېره وي.

۳۸..... دذبحکولو په وخت کې دتکبیر پرته نورڅه ویل ندي پکار مثلاً: باسم الله تقبل من فلان.. (کتاب الاثار)

۳۹..... که چا دقرباني نذر منلی واوهغه کاروشي

داخرت کار نن کوئ او د دنیا کار سبا ته پریږدئ.

۴۰..... که دیوه سړي ټول مال حرام وي نوهغه ته پکاردي چې له ځان سره بل څوک شریک نکړي که شریک شي دهیڅ یوه قرباني هم نه کېږي

ځېرنه: دداسې تن چې دهغه ټول کاروبار حرام وي ، په هغه باندې دقرباني کول لازم ندي ، ولې چې دهغه ټول مال واجب التصدق دی (دثواب دنیت پرته یې صدقه کول ضروري دي)دویم: داچې الله(ﷻ) دحرام مال څخه دهیچا صدقه نه قبلوي بلکې یواځې دپاک اوحلال مال څخه شوي صدقه قبلوي

۴۱..... داوزې څخه علاوه دبل هرڅاروي شریکان خپله خپله برخه دتقسیم پرته فقیرانوته ورکولی شي

ځیرنه: که دنذر قرباني وه یاد کوم مرحوم دوصیت له مخې قرباني کوي نودتقسیم څخه وړاندې یې کوم فقیرته ورکول سهي ندي

۴۲..... که چا دمرګ په وخت کې وصیت وکړ چې ځما له مال څخه دې قرباني وکړای شي نودهغه قرباني ټوله غوښه خیراتول ضروریدي خپله به تري هیڅ هم نه خوري.

الله(ﷻ) دې دټولو نړۍ دمسلمانانو قربانیانې قبولې کړي اوورته دې دحقیقي قربانیانو روح اوحقیقت وروپیژني اوورته دې دعمل توفیق ورکړي اوزمونږداظاهري قربانیانې دې دحقیقي قربانیانو لپاره زریعه وګرځوي ، ددې ظاهري اومادي قرباني په څېر دې الله(ﷻ) مونږته توفیق راوبښي چې دده رضا لپاره ځانې قرباني ته هم هروخت تیار اوولاړ اووسو

والله الموفق والمعین وصلی الله تعالی علی خیر خلقه محمد واله واصحابه اجمعین

حمد

خدایه! ته ترهرڅه لوړیې
ته! دهري ثنا وړیې

چې په سترګوراته ښکاري
که موعقل ور رسیږي
که الوزي په وزرونو
که په پښوباندې خوځیږي

ددې ټولوته پالونکی
ددې ټولوته روزونکی

ځکه ته خالق دسترګو
ځکه ته خالق دعقل
ځلوونکی دهررنګ یې
جوړوونکی دهرشکل

نوشروع کړم په نامه ستا
اوشروع کړم له نامه ستا

ته په هرڅه کې بشپړیې
خدایه! ته ترهرڅه لوړیې.

Shahamat

د اسد ۲۸ مه د ازادۍ د ورځې په مناسبت

پیرمحمد کاروان

چې ماشوم ته په للوللوللو کې
مور په مینه دوطن سندره وایي
چې دغره توره بلبله باغ ته راشي
دسره گل دشنه چمن سندره وایي
په غاټولو کې راټولې جینکۍ چې
دشهیددسره کفن سندره وایي
په جامو کې نه ځاییږي سرې لوی شي
نوایله د آزادۍ په معنی پوی شي
ښایستو کې شکرغږي ماشومان چې
په کټ کټ اوپه چغارلکه طوطیان شي
کتابونه چې په زړونوپورې نیسي
جوماتونومکتبونوته روان شي
چې دپوهې اود راز خبرې زده کړي
چې له ځانه شي خبرهم له جهان شي
آزادیه مرحبابه در ته وایو
دجنت ونه طوبابه در نه وایو
آزادي په شان دهغې مرغۍ نه ده
چې مارېټ پسې راووځي له ښاخونو
دادمارپه ستر گوبرید کولی نه شي
وزرنه شي رپولی له گوابنونو
چې نغمه یې بس په ستوني کې تغمه شي
ماریې ماته کړي دزهروپه غابنونو
آزادي ده لکه برندې دیار ستر گې
چې په تش نظرلوگی کادمار ستر گې
چې په دښتو کې پر شال د شین خالیو
دپر دیوشوبلوگرداوغبارنه وي
دشپونکې مسته شپېلۍ چې نغمې شیندي
چې پر دي یې تاوله لاسودستارنه وي
دوطن کاڼووي سر دمار کوټلی
ستادغاړې لال په خوله کې دمارنه وي

آزادي به دوه نومونه بختوروي
شپه دقدربشکلې ورځ به داختروي
چې دې زړه وغواړي تورځنگل ته راشې
لکه لمر دپلوشوسندرې وایې
یادچاپرستر گوچترد بنوشې
دغنمودلشوسندرې وایې
یاروان شې پاس دزاڼوپه کتار کې
دباران اود ورشو سندرې وایې
حرکت وي بر کت وي محبت وي
آزادي دخدای یولوی شانته نعمت وي
خوکه چیرې ستاآوازاوترنم څوک
په بدرنگوچیغوپیغودرخراب کړي
دغزلوموسیقي اوناز کي دې
په زړااوپه سلگواوپه عذاب کړي
سره گولۍ له تورې خولې دټوپک درشي
په رحیل کې سورپه وینوسپین کتاب کړي
راشه وایې خله نه گل ده نه غوټۍ ده
آزادي بس په ورغوي کې سپرغۍ ده
چې دمور دجنازې د کټ دپاسه
دځرخي چورلکوسیوری گرد تاویږي
پکې ناست مورمړی زوی وي لاس تړلی
په خپل توربانديې له سره نه پوهیږي
بس روان یې وي پر دیوپنجروته
لکه بازدواړه وزرې یې ماتیږي
آزادي راته فریاددهغې خورشي
چې دورورله ډیره غمه یې مړه مورشي